New Life
Programme

# مسیحی په
# تولنه کي

# مسیحي په ټولنه کې

لیکونکی: ډونالډ سټاکلز

ICI University

P.O.Box 25749

1311 Nicosia, CYPRUS

# مسیحی په ټولنه کې

اول چاپ: ۲۰۰۰

Pashto “The Christian in His Community” 2000

Christian in his Community

By: Donald Stuckless

ICI University

P.O.Box 25749

1311 Nicosia, CYPRUS

عنوان صفحه


د ټولنې معنیٰ او مقصد ........................ ۴

مسیحي ټولنه ........................ ۲۱

په ټولنه کې پرمختګ کول ........................ ۴۳

په ټولنه کې په حقیقت باندې ټینګار ........................ ۷۰

په ټولنه کې ارتباط جوړول ........................ ۸۴

د مسیح او د هغه د ټولنې څخه تعلیم اخستل .......... ۱۰۱

په ټولنه کې ځلیدل ........................ ۱۲۱

د کلیسا د ټولنې پورې اړه لرل ........................ ۱۳۲

د ټولنې سره مرسته کول ........................ ۱۵۱

په ټولنه کې د خدمت کولو جاري ساتل ........................ ۱۶۹

# د لوستونکو سره یو څو خبري

که چیرې تاسو مسیح د خپل ځان د خلاصونکي په حیث قبول کړی وي نو حتماً به تاسو په خپل ژوند کې د بدلون او څرنګوالي تجربه لرۍ. یو له دې تغیراتو او بدلونونو څخه دا دی چې ستاسو د خبرو طرز او رویې به د نورو خلکو سره بدلون پیدا کړی وي. مونږ ټول د ډیر خلکو سره تعلقات لرو. او یا په بل عبارت مونږ ټول په یوه ټولنه کې ژوند کوو. ځینې زمونږ څخه دا فکر کوي چې د ټولنې نه مقصد هغه کور او ځای دی چې په کې ژوند کوو. خو په دې کتاب کې به پدې خبره وپوهیږو چې ټولنه د هغه کور ته چې مونږ په کې ژوند کوو لږ غوندې لویه ده. ټولنه یو روحیه او زمونږ د هغه خبرو او سلوک انداز دی چې ئې له نورو سره لرو.

آیا تاسو په دې باندې پوهیږۍ چې تاسو د یوې نه په زیاتو ټولنو کې برخه لرلی شۍ؟ امکان لري چې تاسو د مکتب، کلیسا او یا د خپل کار د ناحیې غړي اوسۍ. که دا ټول د یو بل سره یو ځای شي نو هغه ټولنه به منځ ته راوړي چې تاسو په هغې کې ژوند کوۍ.

په دې کتاب کې به مونږ او تاسو د نورو خلکو سره د ژوند تیرولو اصول زده او مطالعه کړو. یو له اساسي اصولو څخه چې د دې خبرې باعث کیږي چې د دې کتاب اصول او اهداف په خپل ورځني ژوند کې عملي کړو هغه ستاسو په روح القدس باندې د متکی کیدلو څخه عبارت دی. روح

القدس له تاسو سره مرسته کوي چې ښه تعليم حاصل او هغه په خپل ورځني ژوند کې پياده کړۍ. د روح القدس نه وغواړي چې د کتاب د مطالعې په وخت کې د هغې د پوهيدلو په هکله له تاسو سره مرسته وکړي. په دې کتاب کې چې د زده کولو د کومې نوې طريقې څخه چه کار اخستل شويدی، نو هغه به ستاسو په ژوند کې د دې اصولو د زده کولو او د هغې کار په ارتباط تاسو سره مرسته وکړي.

## د کتاب د ليکونکي په هکله خبرې

ډونالډ سټاکلز د رباني جماعت او کليسا وقف شوی خادم دی. هغه د اتو کالو لپاره د مبلغ په حيث خدمت کړی دی. او په هماغه وخت کې د اسمبلي آف ګاډ بائبل انسټيټوټ په بوګوتا په کولمبيا او په همدې قسم د پاناما په هيواد د پاناما په ښار کې د رهبر په صفت پاتې شوی دی. په اوسني وخت کې هغه د يو امريکائې کليسا د شپونکي مسؤليت په غاړه لري.

محترم ډونالډ سټاکلز د سنټرل بائبل کالج د اسپرينګ فيلډ ميشنری فارغ التحصيل دی، چې د ليسانس په حاصلولو کې کامياب شوی دی. او لسانس ئې له هغه څخه حاصل کړيدی، نوموړي فوق اليسانس تحصيل په ټرينټي

ايوانجليکل ډيوتټي سکول په شيکاګو کې حاصل کړی دی.

# د ټولنې معنیٰ او مقصد

هر کله چې په یو کور کې ماشوم پیدا شی، نو ټوله کورنۍ ئې د هغه د زیږیدو په وجه خوشحاله شي. ګاونډیان او یا ملګري د دې نوې غړي د ساتلو لپاره په کور کې خدمت کوي. امکان لري چې تاسو د داسې خوشحالۍ تجربه ولري. څومره ښه کار دی کله چې ټوله کورنۍ د یو بل لپاره داسې خدمت او فکر کوي. دا هغه روح دی چې باید په ټولنه باندې حاکمیت ولري. پدې لوست کې به د مقدس کتاب درسونه د ټولنې په اړوند مطالعه کړو. روحیه او روح په یوه ټولنه باندې حاکم کیدل د نور عهد د ابتدائې اصولو څخه عبارت دی چې د نوې عهد د کلیسا په وسیله تدریس شو. همدارنګه دا هغه په باره کې تعلیم راکړی دی چې مونږ باید د یو بل سره مینه او محبت وکړو او د یو بل په فکر کې اوسو په هغه وخت کې به تاسو په واضح توګه په دې حقیقت پوه شي چې د مسیحي ټولنې غړي کیدل، څومره عالي او د عقل څخه لوي او خارق العاده دي.

د همدې لوست د مطالعې په وخت د روح القدس څخه وغواړۍ چې تاسو ته دا حقیقت څرګند کړي چې څنګه کولی شو چې هغه روح چې په جامعه باندې حاکمیت لري په

خپلو ټولو فعالیتونو کې په نورو خلکو باندې ښکاره او څرګند کړي.

**هغه څه چې تاسو به یې پدې لوست کې ولولئ.....**

**د ټولنې د لغت معنی او مقصد**

**د ټولنې سره برابریدل**

**د ټولنې لپاره د مقدس کتاب اساس او بنیاد**

**دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو.....**

- د ټولنې معنی او مقصد د مقدس کتاب څخه د مثالونو د راوړلو په وسیله تشریح کړئ.
- دا موضوع به بیان کړئ چې څنګه کولی شي چې دا خبره ثابت کړئ چې تاسو د ایماندارانو د ټولنې یوه برخه یاست.
- دا به روښانه کړئ چې هغه روح چې په ټولنه باندې حاکم دی، د مینې او محبت روح او همیشه د نورو خلکو په فکر کې دی.

**د ټولنې د لغت معنی او مقصد**

ټولنه یو ښکلې او په زړه پورې لغت دی، ځکه چې ټولنه د دې سبب کیږي چې مونږ د شخصیتونو، ځایونو او د شیانو

په هکله آشنا کوي او د هغوی په باره کې فکر کوو. که چیرې مونږ د ټولنې په هکله په پراخا توګه فکر وکړو، نو په دې باندې به وتوانیږو چې د هغې په هکله فکر او هغه درک کړو په انګلیسي ژبه کې دا لغت ډیره اشاره خلکو ته کوي چې په یو خاص ځای او کور کې ژوند کوي او په شریکه توګه خپل ورځني ژوند سره سبا کوي. په اسپانوی ژبه کې دا لغت کور یا یو ځای ته چې په هغې کې یو نفر ژوند کوي، اشاره نه کوي. مګر هغه مینه او محبت چې یو نفر ئې د بل سره کوي او دا بهتر عمل او احساس د ټولنې د لغت معنیٰ او مقصد دی.

د ټولنې لغت هم په هغه وخت کې چې د خلکو یوه ډله چې د یو خاص مقصد لپاره سره راټول شي نو دوی ته مونږ جامعه یا ټولنه ویلی شو. د مثال په توګه په ځینې هیوادونو کې چې خلک په شریکه سره یو کار لري. ځینې تشکیلات منځ ته راوړي چې هماغه شریک کار په نوم بلل کیږي چې د هغوی مقصد او هدف د هغوی د شریکه شوق څخه وي. د یوې اتحادې یا ډلې کار د هغوی د غړو څخه تشکیلات او طبقه بندي جوړوي.

د مقدس کتاب دوهمه برخه یعني نوې عهد په یوناني ژبه لیکل شوی دی. یوناني لغت کونینونیا په نوې عهد کې د مقدس کتاب د ټولنې څخه مرام او مقصد دی. "کونینونیا" ډیر مطلبونه اغلباً په شریکه سره ترجمه شوي دي. چې ګویا

د خلکو یو بل سره د متقابلو رابطو د لرلو غږ دی. چې په حقیقت کې دواړو طرفینو رابطې ته اشاره کوي چې په ورکړې راکړي باندې تاکید کوي. "کونینونیا" هم "په محبت او صمیمیت" او یا په شریکه ترجمه شوی دی. دا لغت د ډیرو نژدو روابطو لپاره په کار وړل کیږی لکه د ښځې او خاوند تر منځ چې څومره رابطه وي.

په دې ځای کې د "کونینونیا" د لغت د څرنګوالي په هکله په مقدس کتاب کې بیان شوی دی. دا ځایونه د مقدس کتاب له مخې په غور سره مطالعه کړی.

۱- د یوحنا انجیل ۱۲: ۶ کې مسیح او د هغه شاګردان په پیسو او مال دولت کې د یو بل سره شریک وو. (د یوې ذخیرې نه به ئې د خپلو مصارفو لپاره کار اخیسته.)

۲- اول کورنتیان ۱۰: ۱۶ د مسیح په وینه کې برخه درلودل د عشا رباني یا غوره مابنام د مراسمو د اجرا کولو په وسیله.

۳- په اول یوحنا ۱: ۳، ۶ او ۷ کې د ایماندارانو تر منځ مشارکت یا یوالی د پلار خدای او د هغه زوی سره.

۴- اول کورنتیان ۱۰: ۲۰ کې د نه شریکیدو په هکله اخطار او خبرتیا.

۵- په رومیانو ۱۵: ۲۶ کې د یوناني مسیحیانو له طرفه د اورشلیم ایماندارانو سره مالي مرستې او نذرانی.

په دې برخو کې د یو بل سره یوالی او شراکت لیدل کیږي او دا د ټولنې یو ښه معنی او تشریح ده.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

پدې برخه کې به سوالونه او تمرینونه له تاسو سره مرسته وکړي چې هغه موضوعات چې تاسو مطالعه کړي دي بیا تکرار کړئ. نوموړو سوالونو ته بغیر د کتاب د لیدلو څخه جواب ورکړئ.

۱- په لاندې لغاتو کې کوم یو د "کونینونیا" یا د "ټولنې" د کلمې په ښه توګه تشریح کوي؟

الف) هدیه

ب) مایلیدل

ج) شراکت

د) مشارکت

ذ) حکومت کول

ر) د یو بل سره برخه لرل

خپل جوابونه مقایسه کړئ

## د ټولنې جوړول

داسې روښانه مثالونه موجود دي چې تقریباً مونږ ټول د هغوی نه خبر یو. په مونږ کې اکثره د کر کروندې په باره کې پوهیږي. ځکه چې خوراک ته ضرورت لرو، خاوره باید د دانې قبلولو لپاره تیاره وي. په ځینې هیوادونو کې دهقانان په بیل باندې مځکه قلبه کوي او د کروندې لپاره تیاروي. په ځینې هیوادونو کې د غوایانو د قلبې په وسیله مځکه د کروندې لپاره تیاروی. او په ځینې هیوادونو کې د تر کتور په وسیله مځکه قلبه کوي. په هر صورت اصلي مفهوم په خپل ځان باندې دی یعني د مځکې نرموالی او میده کول یعني تر څو چې باران وکولی شي هغه کرل شوي دانې ته رشد ورکړي او بیا د خرابو بوټو د ویستلو وخت را رسیږي تر څو کرل شوي بوټي په آسانې سره غټ شي او په آخر کې کله چې هغه بوټې غټ او پاخه شي نو بیا د حاصل د را ټولو وخت را رسیږي. سربیره پردې د قلبې او کروندې کار او د حاصل را ټولول او ریبل تقریباً په ټوله نړۍ کې رواج لري. امکان لري چې د ټولو د کار کردار یو رقم نه وي خو نتیجه د ټولو یوه ده. د ټولنې معنیٰ او مفهوم لپاره کولی شو چې هم دا مثال عنوان وګرځوو. دا پرواه نلري چې تاسو په یوه کوچنۍ کورنۍ او یا په لوی ښار کې ژوند کوئ. د ټولنې

معنیٰ او مقصد یو دی. او هغه دا چې د نورو خلکو په منځ کې یو بل سره ژوند تیرول. امکان لري چې ۵۰۰ کسان د یو بل سره ژوند وکړي او یا یوازې دوه کسان.

ټولنه د مسئولیت د احساسولو په وسیله تعریف کیږي. مسیح د لعزر نومي سړي او د یو مالدار قصه مونږ ته بیان کړې ده (لوقا ۱۶: ۱۹- ۳۱). پدې قصه کې هغه هیڅکله داسې نه دي ویلي چې مالدار سړي په لعزر باندې ظلم کړی دی. مالدار سړی ناڅاپي مړ شو او جهنم ته ولیږل شو. ځکه هغه چې کله ژوندی ؤ نو د خدای په باره کې ئې حقیقت قبول کړی نه ؤ. نو دا خدای دی چې مونږ ته تعلیم راکوي چې باید د نورو خلکو په فکر کې اوسو.

مسیح د یو یهودي په هکله یوه قصه بیان کړه چې د غلو پوسیله ډیر سخت زخمی شوی ؤ. او د سرک په غاړ مرګې حال پروت ؤ (لوقا ۱۰: ۳۰- ۳۷).

دوه مذهبي مشران د هغه په خوا کې تیر شول خو د دې زخمي سړي سره ئې هیڅ مرسته ونکړه، بیا یو سامري سړی د هغه په خوا کې تیر شو. په هغه وخت کې دا رواج ؤ چې سامریانو او یهودیانو به د یو بل سره هیڅ تعلق نه ساتلو. خو هغه سامري سړی ودریدو او د هغه یهودي زخمونه ئې پټې کړل او په خر باندې ئې سور کړو او یوې مسافر خانې ته یې بوتلو. او د هغه مسافر خانې مالک ته ئې وویل چې د زخمې سړي خدمت وکړه او په بیا راتلو په زه د هغه ټول

مصرف درکړم. دا یو ښه روحاني مثال دی چې په عمل کې باید په ټولنه کې پیاده شي او په ټولنه باندې حاکم وي. روح یوازی د مینې او محبت او د مسئولیت د احساس په وسیله نورو په باره کې څرګندیدلی شي د مسئولیت احساسول یعني د نورو خلکو ساتنه او حفاظت او د هغوی په هکله فکر کولو ته وایي. مونږ هم باید د هغه خلکو په فکر کې شو څوک چې زمونږ په خوا او شا کې ژوند کوي. لکه څنګه چې د نړۍ په ځینې هیوادونو کې خلک د یو بل په فکر کې دي.
مسیح ویلی دي چې:
یوحنا ۱۳: **۳۵** "که تاسو د یو بل سره مینه کوۍ نو بیا به ټول په دې پوهه شۍ چې تاسو زما مریدان یۍ."
دا هغه روح دی چې باید په یوه ټولنه باندې حاکم وي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- د انجیل شریف څخه د غریب لعزر مثال د یوحنا په انجیل کې ۱۲: ۱۹- ۳۱ او د نیک سامري مثال د لوقا په ۱۰: ۳۰- ۳۱ مطالعه کړئ او د دې آیاتونو څخه دا په ګوته کړئ چې کوم یو روح باید په یوه ټولنه باندې حاکم وي؟

۳- د دې دوه سلوکو تر منځ کوم یو د دې خبرې باعث کیږي چې د دې دوه قصو تر منځ فرق معلوم کړي؟

۴- دا په ګوته کړئ چې په لاندې مثالونو کې د ټولنې معنیٰ او مقصد وجود لري؟

الف) په لویو ښارونو کې

ب) په اطراف او ډیر لرې کلو کې

ج) په کوچنیو ډلو کې

د) په کور کې چې یو کس په ځانګړي توګه ژوند کوي

ز) د دوه کسانو تر منځ

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

## د ټولنی په هکله د مقدس کتاب بنسټ

د ټولنې په هکله لمړۍ مثال د مقدس کتاب د پیدا ئښت په کتاب ۲ ، ۳ بابونو کې لیدل کیږي مونږ په دې ځای کې د لمړي انسان یعنی آدم د پیدا ئښت په هکله لولو. په هغه وخت کې یوازې د آدم او د خدای تر منځ د شراکت لرلو امکان ؤ. ځکه چې آدم ګناه نه وه کړي او د هغه شراکت "کونینونیا" د خدای سره ډیر خاص او ښکاره ؤ هره ورځ به ئې یو له بل سره خبرې اترې کولې او د یو بل سره ئې شراکت درلود. سربیره پر دې ویلی شو چې خدای او آدم په خپلو کې یو جامعه یا ټولنه جوړه کړي وه.

په ډیر لږ وخت کې خدای آدم ته ښځه خلق کړه او آدم په هغې باندې حوا نوم کیښود (پیدا ئښت ۲ : ۲۳).

په هغه وخت کې د دوو انسانانو تر منځ د شراکت امکان پیدا شو. آدم او د هغه ښځې حوا په خوشحالۍ یو بل سره ژوند کاوه. هغوی د خدای او د هغه د ټول خلقت سره په صلح او آرامۍ کې ژوند تیراوه. په حقیقت کې یوې ټولنې وجود درلود چې په هغه کې درې قسمه رابطه حاکمه وه. پدې مرحله کی ټولنه بلکل کمال ته رسیدلې وه.

مګر دې کمال او اعلی حالت ډیر دوام ونکړ او ګناه په نړۍ کې داخله شوه (پیدا ئښت ۳ باب). د آدم او حوا د نافرمانۍ

په وجې سره دا عالي ټولنه له منځه لاړه. هغوی د خدای د حضور څخه وشړل شول او خپل واک او اختیار ئې د هغه په خلقت باندې له لاسه ورکړ. آدم او حوا یوه ټولنه منځ ته راوسته چې کمال ته نه وه رسیدلې. خدای که څه هم هغوی د هغه ښائسته باغ څخه چې یې دوی ته بخښلی ؤ وشړل، خو د خپل بې پایانه مینې او محبت او فضل په سبب سره ئې هغوی ته اجازه ورکړه چې یوه ټولنه تشکیل کړي او د یو بل د تسلۍ سبب وګرځي. له دې نه وروسته "تاسو باید د خپل عمر تر آخره پورې د خپل تندې د خولو پوسیله ډوډۍ ځان ته پیدا کړۍ." (پیدایښت ۳: ۱۹)

آیا تاسو د اسرائیلو د قصې په باره کې معلومات لری کله چې هغوی په صحرا کې سرګردانه ؤ دا د ټولنې یو بل مثال دی. د دې واقعې په هکله د خروج کتاب دریم باب څخه معلومات حاصلولی شۍ. هغوی د څلویښت کالو لپاره د مصر د مځکې د آزادۍ او وعده شوې مځکې په لور سر ګردان ؤ. په دغه حالت کې هغوی سرګردان بې لدې نه چې کورونه به ئې بدلول هم روح په هغوی باندې حاکمیت درلود.

خروج ۱۷: ۱ داسې فرمایي: "بنی اسرائیلو د خدای د حکم په مطابق د سینا د بیابان څخه حرکت وکړ." هغه روح چې په ټولنه باندې حاکم وي چې مخکې مو هم د هغه په باره کې ذکر وکړ په یاد کړۍ. په واقعیت کې بنې اسرائیل هغه قوم ؤ

چې یوه ټولنه ئې منځ ته راوستی وه ځکه چې د مینې او محبت ارتباط د هغوی په منځ کې حاکم وو. که چیرې د خروج د کتاب نه ټولې پیښې مطالعه کړی، نو دې خبرې ته به پام وکړی چې د اسرائیلو قوم په سخت حالت او د خوشحالۍ او کامیابۍ په حالت کې د یو بل سره شراکت درلود. او په هر کار کې د یو بل سره شامل ؤ د خروج په کتاب ۲۰ باب کې لولو چې خدای اسرائیلو ته لس حکمونه ورکوي. د دې قانون او شریعت په وسیله هغوی ته وښودل شو چې په دې ټولنه کې دوی باید د یو بل سره څنګه رویه او ژوند وکړي. دا لس حکمونه د خدای لخوا څخه بلکل حتمی او جبری وو او باید چې هیڅا د هغوی څخه سر غړونه نه وای کړي. دې قانون به دا تعلیم ورکاوه چې یو نفر باید د هر څه دمخه د خپل خدای سره مینه وکړي او د هغه احترام وکړي او د همدې قانون په اساس باید د ټولو خلکو سره مینه او محبت ولري او د هغوی احترام وکړي. دا یو بنیادي تعلیم او درس دی د حاکمې رابطې په اړوند د یوې ټولنې لپاره چې هغې سره مخامخ کیږو. خدای فرمايي: "لدې قانون څخه تابعداري وکړي چې په نتیجه کې به ئې په یوه عالي ټولنه کې ژوند وکړي." د دې لس احکامو نه علاوه خدای نور حکمونه د اسرائیلو قوم ته ورکړل چې د هغوی په ټولنیز ژوند کې به د هغوی سره مرسته وکړي. دا قوانین عبارت دی له قربانۍ، زکات، د خوړلو قانون او شخصی

سلوک چې د نورو خلکو پورى ارتباط لري چې بايد يو شخص د نورو سره څنګه رويه اختيار کړي. دا قانونونه پدې خاطر خلکو ته ورکړ شوی ؤ چې له هغوی سره مرسته وکړي چې خپل ژوند خدای ته تسليم او وقف کړي او په داسې طريقې سره خپل ژوند ته دوام ورکړي چې روح د دوی په ټولنه حاکم وي يعنی چې شراکت مينه او محبت او د نورو خلکو په هکله کفر وکړي او دا عمل د هغوی په ورځنې ژوند کې وليدل شي.

راځئ چې د ټولنې د نوې عهد يعني انجيل په مطابق پلټنه او تحقيق وکړو. په لمړنۍ کليسا کې پس له هغې نه چې روح القدس د پنتکاست په ورځ په هغوی نازل شو يو قوی روح د اتحاد او د يو زړه کيدلو روح منځ ته راغئ. د اعمال کتاب ۲: ۴۳- ۴۷ مطالعه کړئ. په ۴۴ آيات کې ويل شويدي چې "د يو بل سره يې ډير نژدې شراکت درلود" او په هر شي کې د يو بل سره شريک وو. اوس چې مونږ د ټولنې تعريف وکړ د هغې په هکله فکر کوو لدې کلمو څخه دا څرګنديږي چې "د نورو سره محبت او د هغوی په باره کې فکر کول. او نژدې شراکت او يوالی" په لمړنۍ کليسا کې وجود درلود. د نوي عهد کليسا هغه ټولنه وه چې د يو بل په فکر کې ؤ او د يو بل سره يې نژدې يوالی او شراکت درلود. خدای دې وکړي چې هم داسې وکړو.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

**۵- صحیح جملې مشخصې کړئ.**

الف) د ټولنیز ژوند لپاره لس حکمونه لمړنئ قانون دی چې ټولنې ته ورکړ شوی دی.

ب) د اسرائیلو قوم نشو کولی چې د یوې ټولنې غوندې ژوند وکړي ځکه چې په یو ځای باندې نه اوسیدل.

ج) د ګناه څخه دمخه آدم او حوا د خدای او د ټول مخلوقات سره پوره او محکمه ټولنه جوړه کړې وه.

د) مونږ پوهیږو چې لمړنئ کلیسا یو ټولنه منځ ته راوستې وه ځکه چې مسیحیانو به د یو بل سره مینه او محبت کاوه او په خپلو کې به ئې د یو بل فکر کاره.

۶- د هغه مثالونو څخه چې مونږ ئې پدې برخه کې تحقیق وکړ څلور کردارونه چې هغه روح په کې لیدل کیږي چې په یوه ټولنه باندې حاکمیت لري، بیان کړي.

۷- دا لوست د دې په هکله چې "څنګه کولی شی چې هغه روحیه چې باید په یوه ټولنه باندې حاکمه وي او د خپل ځان څخه ئې تاسو انعکاس کړی." څه وايي؟

که چیرې تاسو یو مسیحي یاست نو په واقعیت کې د ایماندارانو یوې ښائسته ټولنې څخه یاست. آیا تاسو د دې ټولنې د ټولو اعضاؤ په فکر کې یی؟ آیا د هغوی په ضرورتونو کې د هغوی سره مرسته کوی؟ دا د یور ټولنې اصلي معنیٰ او مقصد څخه عبارت دی.

خپل جوابونه مقایسه کړی.

د سوالونو جوابونه مقایسه کړی.

د سوالونو جوابونه په ترتیب سره ندې ورکړ شوي د یو سوال د جواب د لیدلو پورې بل جواب ته مه ګوری. سربیره پر دې د یو سوال جواب پیدا کړی او بیا خپل جواب د ورکړ شوي جواب سره مقایسه کړی.

۴- الف، ب، ج، ز،

۱- الف، ج، د، ر

**۵**- الف) صحیح

ب) غلط

ج) صحیح

د) صحیح

**۲**- ب)

**۶**- د دې برخو څخه دا ټول شاملول، شراکت، محبت، احترام کول او د نورو په باره کې فکر کول.

**۳**- محبت یا د نورو خلکو په باره کې فکر کول.

**۷**- ستاسو جواب: زما جواب پدې توګه دی: زه کولی شم چې د نورو خلکو سره مینه او محبت وکړم او د هغوی په باره کې فکر وکړم.

# مسیحي ټولنه

ملک په حقیقت کې د یو کلي مشر وي. ښاروال د یو ښار مسئولیت په غاړه لري او یو پولیس د یو خاص ځای د قانون ساتونکی وي. یو ملک یا ښاروال نشي کولی چې په بله ناحیه یا کلي کې څه رول ولوبوي. او یو پولیس هم دا حق نلري چې په هغه منطقه او یا علاقه کې چې د هغه پورې مربوط نه وي څه قانوني کاروائي وکړي. نوموړي شخصیتونه محدودیتونه لري. او د خپل حد څخه زیات حق نلري.

خو د یو مسیحي لپاره دا موضوع فرق کوي. د متی په کتاب ۲۸ : ۱۹- ۲۰ آیات کې مسیح مونږ ته ویلي دي چې "ځکه تاسو په مځکه خوارۀ شی او ټول قومونه زما مریدان کړی او د پلار د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړی. او دا تعلیم ورکوی چې په هغه ټولو خبرو عمل کوی چې ما تاسو ته حکم کړی دی. او دا یقین لری چې زه به تل تاسو سره یم، تر آخره وخته پورې."

مونږ د کار کولو لپاره خاص او مشخص حد نلرو. مسیح مونږ ټولې نړۍ ته لیږلي چې هر قسمه خلک چې په هر ځای کې ژوند کوي په دې حکم شاملیږي.

په لمړي لوست مونږ د هغه روح په باره کې چې په یوه ټولنه باندې حاکم وي، ځینې موضوع ګانې ولوستلي. او په دې لوست کې به دا زده کړو چې ستاسو ټولنه هغه ځای دی چې تاسو کولی شئ چې دا روح په کې ښکاره او عملي کړئ. مګر دا خبره یاده لرئ چې یوه ټولنه د خلکو د یو ټولګې څخه عبارت ده نه د یو کور څخه. دا پرواه نلري چې تاسو چیرې ځئ نو هر کله چې تاسو د نورو سره د مسیح په هکله خبرې کوي، نو د دې ټولنې څخه یو غړی او جز یې.

## هغه څه چې تاسو به یی په دې لوست کې ولولئ

د اعمالو د کتاب ۱: ۸ په اساس څلور قسمه ټولنه وجود لري.

اورشلیم – هغه ځای دی چې تاسو په کې ژوند کوئ.

یهودیه – ستاسو هیواد.

سامریا – ستاسو ګاونډی هیواد.

د نړۍ څخه لرې کیدل – هغه ځای چې تاسو په کې ژوند کوئ.

## دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو.....

هغه څلور ځایونه چې د اعمال ۱: ۸ کې یادونه شوي ده په هغه ټولنه کې چې تاسو په کې ژوند کوي څنګه ارتباط پیدا کوي، بیان کړئ.

د یو مسیحي په صفت خپل مسئولیت د ټولو ځایونو په هکله درک کړي.

## څلور قسمه ټولنه د اعمال ۱ : ۸ په مطابق

"خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شي او تاسو به په بیت المقدس کې او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یئ." (اعمال ۸:۱)

د خدای د کلام د هغې برخې چې پورته یې ذکر وشو، مسیح خپلو شاګردانو ته مخاطب دی او هغوی ته وایي چې په بیت المقدس کې پاتې شي او د روح القدس د قدرت د نازلیدو پورې انتظار وکړي. او هم یې دا ورته وویل چې د دې قدرت د پیدا کولو څخه وروسته تاسو به زما شاهدان یاست. شاهد هغه څوک وي چې یوه واقعه یې په خپلو سترګو لیدلې وي او د هغې په باره کې نورو خلکو ته خبرې کوي. مسیح د خپلو پیراونو څخه دا تمه لري چې هغوی نورو خلکو ته د هغه د معجزو او عجیبه کارونو په هکله ووایي. یعني د مریضانو د شفا، د مړو د ژوندي کیدلو، د هغه مرګ د نړۍ د ګناهونو، او د هغه د مړو څخه د بیا ژوندي کیدلو په هکله او په آخر کې د هغه د آسمان ته د ختلو په هکله ګواهي ورکړي. د مسیح مریدان باید د هغه موضوع ګانو او واقعاتو په هکله شاهدي ورکړي. هغوی باید د بیت

المقدس څخه شروع وکړي. او د هغه ځای څخه یهودیه، سامریه او لرې ځایونو ته باید ولاړ شي تر څو چې ټولې نړۍ ته د هغه په باره کې شهادت ورکړي. مسیح د هغوی د شهادت ورکولو لپاره مشخص حد مقرر نکړ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۱- د مسیح حکم د متی په انجیل ۲۸: ۱۹- ۲۰ کې د هغه اختیار او واک څخه لوی دی چې یو ملک، ښاروال یا یو پولیس یې لري. د دې کار علت او سبب دا دی چې:

الف) ډیر محدودیتونه لري.

ب) هیڅ محدودیت نلري.

۲- هغه روح چې په یو ټولنه باندې حاکم وي نو په لمړۍ لوست کې مو ولوستل چه هغه چیرې پیدا کولوی شو؟

الف) هر ځای کې.

ب) صرف په خاص ځایونو کې.

۳- اعمال د رسولانو ۱: ۸ بيا مطالعه کړی او هغه ځايونه چې مسيح خپلو شاګردانو ته وويل چې په کې دي د هغه شاهدان اوسي بيان کړی.

## بيت المقدس- هغه ځای چې تاسو په کې ژوند کوی

تاسو به ختمې هغه تقسيماتو ته متوجه شوي يې چې په اعمالو ۱: ۸ کې ذکر شوی دی. مسيح هغه وخت د خپلو شاګردانو او ۵۰۰ کسانو د هغه مريدانو څخه چې په بيت المقدس کې وو خبرې کولې. هغه د هغې اوچتې او عجيبه پيښې په باره کې چې د پنتکاست په ورځ کيدونکی وه پيشګويي وکړه. د مسيح شاګردان په پوره توګه نه پوهيدل چې د هغوی خدمت نه ختميدونکی دی يعنی هغه خدمت چې مسيح په خپله شروع کړ. دا خبره هم بلکل ښکاره وه چې هغوی نه پوهيدل چې د مسيح جدائې د هغوی څخه نژدې وه. نو بيا ناڅاپي چې هغه هغوی سره د روح القدس د نازليدو وعده وکړه هغه بيا آسمان ته پورته کړای شو او بيا هغوی هغه نور ونه ليد. هغه واقعه چې د پنتکاست په ورځ پيښه شوه په اعمالو ۲: ۱- ۲ کې ليکل شوی ده. دا آياتونه مطالعه کړی او تاسو به ووينې لکه څنګه چې مسيح ايماندارانو سره د روح القدس وعده کړي هماغه رنګ سر ته ورسيدله او هغوی روح القدس حاصل کړو. هغه خلکو چې دا پيښه وليدله او واوريدله په پوره ډول حيران شول. لږ

وخت وروسته پطروس رسول دا موقع ومونده چې تر څو خلکو ته دا خبره په ګوته او ښکاره کړي چې څه واقع شوي دي اعمال ۲: ۱۴- ۳۲).

پطروس رسول د عیسی د بیا ژوندي کیدلو په باره کې خلکو ته یادونه وکړه او هغوی ته ئې وویل: "مونږ ټول په دې باندې شاهدان یو " (اعمال ۲: ۳۲). تقریباً ۳۰۰۰ کسانو د هغه خبرو ته مثبت جواب ورکړ او په مسیح باندې ئې ایمان راوړو.

د اعمال په دریم باب کې د ډیرو معجزو ذکر شوی دی. او رسولانو به دا شهادت ورکولو چې دا معجزې یوازی په مسیح باندې د ایمان لرلو په وسیله اعمال ۳: ۱۲ سر ته رسیدلې دي. په څلورم باب کې د پطروس او یوحنا د وعظ په وسیله د ۵۰۰۰ کسانو د ایمان راوړلو شاهدان یو. په دې ټولو وعظونو کې د هغوی زیری د مسیح د مرګ او بیا ژوندی کیدلو په هکله ۋ د اعمالو ۳: ۱۵ او ۵: ۳۲ پطروس رسول د دې خبرې اظهار کوي چې "مونږ پدې واقعاتو باندې شاهدان یو."

نو بیا هغوی په اور شلیم کې په زیري او شهادت ورکولو شروع وکړه. لکه څنګه چې مسیح دوی ته ویلي ۋ.

هر یو مسیحی سړي او ښځې دا وظیفه لري چې د خپل نوي ژوند په هکله چې په مسیح کې ئې لري باید نورو خلکو ته ووایي. د انجیل زیری د ټولو مسیحیانو په وسیله ټولې دنیا

کې خپور شو. نه یوازې د رسولانو په وسیله (اعمال د رسولانو ۸: ۱- ۴). بلکه د هغه ایماندارانو په وسیله هم چې د روح القدس څخه معمور شوي ؤ او دا خواهش یې درلود چې مسیحي جامعه ټولې نړۍ ته څرګنده کړي. هغوی د انجیل په زیري آورولو شروع وکړه هر چیرته به چې تلل د انجیل وعظ به ئې کولو.

مونږ باید د کوم ځای نه شروع وکړو؟ مونږ د هماغه ځای نه شروع کوو چې د کوم ځای څخه د اورشلیم مسیحیانو شروع کړې وه، یعني د خپل کور او ټولنې څخه. د کورنیو په منځ کې د خپلو ګاونډیانو سره او د هغه ټولو خلکو سره چې هره ورځ د هغوی سره په تماس کې یو. په هغه ځای کې چې ژوند کوو. په هغه ځای کې چې کار کوو او په هغه ځای کې چې خپل ډیر وخت تیروو. دا هغه ځایونه دي چې تاسو باید په کې مینه کول، شراکت لرل او د نورو خلکو په باره کی فکر کول شروع کړی.هغه روح چې په تاسو حاکم دی هغه ته اجازه ورکړۍ چې ستا په اورشلیم کې یعني په هغه ځای کې چې تاسو په کې ژوند کوي. او هغه خلکو سره چې تاسو ورسره په ارتباط کې یې، او هغه خلکو سره چې تاسو ورسره ژوند کوۍ په تاسو کې ووینې.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۴- اعمال د رسولانو ۱: ۸ او ۸: ۱-۴، ۳: ۱۲-۱۲، ۵: ۳۰-۳۲ ولولئ او دا ووایئ چې د کومې موضوع په باره کی خبرې کوی.

۵- دا وښایئ چې په لاندې جملو کې کومه یوه صحیح ده:

الف) یوازې هغه کسان چې خادمان دي او یا وعظ کوي هغوی دا وظیفه لري چې د انجیل زیری نورو خلکو ته ورسوی.

ب) د دې لوست په مطابق زما اول کار د یو مسیحي په صفت د مسیح په باره کې دا دی چې د هغه خلکو سره چې هره ورځ په ارتباط کې یم باید شهادت ورکړم.

۶- ستاسو اورشلیم هغه ځای دی چې په هغه کې ژوند کوي او خپل ډیر وخت هلته تیروئ. په خپله د یاداشت په کتابچې کې د هغه ټولو خلکو نوم ولیکئ چې د هغوی سره هره ورځ لیدل، کتل کوئ. او پس له هغې نه دا فکر وکړئ چې په کومه طریقه به هغوی ته شهادت ورکړئ.

دعا وکړی چې مسیح ستاسو سره مرسته وکړي چې تر
ځو په خپله علاقه کې یو مؤثر شاهد اوسی.

## یهودیه – ستاسو هیواد

لکه څنګه چې د مسیح شاګردانو په وفادارۍ په اورشلیم کې شهادت ورکاوه، مذهبی مشرانو د کینې له سببه، د هغوی په آواز او ربړولو شروع وکړه. اعمال د رسولانو ۸: ۱ وایي چې د اورشلیم د کلیسا ایمانداران د تکلیفونو او سختیو سره مخامخ شول. او په نتیجه کې ټول مسیحیان بې له رسولانو څخه تیت په ترک شول او د یهودیه او سامریه په علاقو کې خواره شول. (دا ځایونه د روم د امپراطورۍ پورې مربوط وو." (اعمال د رسولانو ۸: ۴ وایي: "او هغه د عیسی منونکي چې په ملک کې خوارۀ شوي وو هغوی په هر ځای کې د کلام زیری آورولو."

مسیحیان پدې باندې مجبور شول چې اورشلیم پریږدي، او په نتیجه کې د مسیح د حکم دویمې برخی کار یې سر ته وراسوه یعني د یهودیه په علاقه کې په زیري اورولو او په شهادت ورکولو شروع وکړه. په هغه زمانه کې یهودیه د روم د علاقو څخه یوه علاقه وه چې د اورشلیم سره نژدې پرته وه. هغه خلکو چې په هغه ځای کې ژوند کاوه یهودیان ؤ او د دې خبرې محتاجه ؤ چې د مسیح په باره کې زیدی واوری. په ورستیو پیړو کې خدای موسی ته بلنه ورکړه چې د هغه

قوم د مصريانو د غلامۍ څخه آزاد کړي. موسی د دې خبرې احساس کاوه چې د دې کار سر ته د رسولو قابليت او لياقت نلري. خو خدای د موسی سره وعده وکړه چې د هغه سره به وي او هغه ته به ووايي چې څه ووايي (خروج ۳: **۴**). موسی دا فکر وکړ چې هغه دا کار يوازې نشي کولی او دا رنګ فکر کول د هغه لپاره ښه وه ځکه چې هغه پدې وخت کې په خدای باندې پوره باور پيدا کړو شايد چې تاسو هم د موسی په شان احساس لري. هغه جواب چې په هغه وخت کې موسی ته ورکړ شو هم هغه نن ورځ ستاسو جواب هم دی. خدای به تاسو سره وي. او هغه به تاسو سره مرسته وکړي. "په خپل ټول زړه سره په خدای باندې باور کوه او په خپل عقل باندې تکيه مه کوې" (امثال ۳: **۵**).

پس لدې څخه چې تاسو په خپل بيت المقدس کې په وفادارۍ سره خدمت وکړي، بيا چې پدې وخت کې هغه ته اجازه ورکړي چې خدای مو خپلې يهوديې ته ورسوی. يعني خپل ولايت، مملکت ته. دا ممکنه ده چې ووايي چې "څنګه به زه د خپل هيواد د خلکو په ايمان راوړلو مسيح ته ګټور اوسم؟" د دې سوال جواب دا دی چې: "تاسو څنګه کولی شې چې يوه پوره ډوډۍ وخورۍ؟" د دې سوال جواب عبارت دی "د دوی د تدريجی ګامونو څخه" د ټولو مسيحيانو ژوند په همدې طريقه دی. په کوچنيو شيانو کې صادق اوسې، نو هغه وخت به خدای تاسو ته غټ کارونه

درکړي. د خلکو د جذبولو لپاره مختلفې لارې او طريقې موجودې دي. د مثال په توګه چې په خپله يوه کليسا کې په معمولي درسونو ورکولو شروع وکړی، تاسو کولی شی چې د خپلې کليسا خادم سره د هغه کسانو لپاره دعا وکړی چې مريضان او يا په بنديخانه کې دي مرسته وکړی. او يا د يو سپين ږيري او يا هغه خلک چې ضرورت مند دي ډوډی ورکړی. که چيرې تاسو د سفر عزم لری، نو کولی شی چې د محبت په وسيله د نورو خلکو سره ئې بايد وکړی. او د هغوی سره د مسيح په هکله خبرې وکړی. په روح القدس باندې باور وکړی هغه به تاسو ته د هغه روح لارې وښايي او رهبري به مو کړي کوم چې په يوه ټولنه باندې حاکم او اختيارمند دی. او هغه به تاسو سره ستاسو په هيواد يعني په خپله يهوديه کې تاسو سره مرسته وکړي.

ستاسو کار

## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوی

۷- په لاندې جملو کې کومې صحيح دي؟

الف) ستاسو په هيواد کې د ټولو نه ښه طريقه د ټولنې د روح ښودلو د پاره د لويو پلانونو جوړول او په جماعتونو کې وعظ کول دي.

ب) ستاسو يهوديه، ستاسو ولايت يا هيواد دی.

ج) د دې لپاره چې خدای ستاسو نه په لویو کارونو
کې کار واخلي باید چې په کوچنیو کارونو کې
صادق واوسی.

۸- د خپل مملکت د خلکو لپاره دعا وکړی چې خدای ستاسو څخه د نورو خلکو په کارونو او د هغوی په خدمت کولو کې کار واخلي او استعمال مو کړي. هغه سلوکونه او طریقې چې تاسو کولي د هغوی په وسیله د محبت او زړه سواندي روحیه د خپل مملکت د خلکو لپاره څرګنده کړی هغه خپل ځان سره ولیکی.

۹- په خدای باندې د باور کولو په باره کې د موسی مثال مونږ ته څه را زده کوی؟

سامریه – ستاسو ګاونډی هیواد

یوه خبره چې په پوره ډول روښانه ده، هغه دا ده چې سامریه د هغه خلکو لپاره چې په اورشلیم کې اوسیدل ډیره فاصله یې درلودله. په حقیقت کې د سامریه اوسیدونکي د یهودیانو لپاره د خارجیانو له جملې څخه حسابیدل. یهودیانو په هیڅ وجه سره د سامریانو سره داروم‌دار ندرلود. که څه هم د یو بل سره په تماس کې وو. خو د اعمالو په کتاب ۸ باب کی لولو چې فیلپوس کله چې د روح القدس څخه معمور شو. د مسیح د زیري ورکولو په هکله

سامریی ته لاړو او د اعمالو په لسم باب کې لولو چې خدای پطروس رسول ته حکم وکړ چې د یو کس لپاره چې هغه ته زیری ورکړي د سامریی یو ښار ته لاړ شه. پطروس نه غوښتل چې هلته لاړ شي، خو خدای هغه ته دا وښودل چې نورو قومونو ته هم زیری ورکړی لکه څنګه چې یې یهودیانو ته ورکوی. د دې کار بل مثال په زوړ عهد کې د یونس نبي په کتاب کې لیدل کیږي. یونس نبي ډیر مغروره او سر کشه سړی وو. د خدای لخوا نه ئې دا پیغام وموند چې د نینوا ښار چې په سامریه کې دی هلته لاړ شي او د خدای په هکله خلکو ته زیری ورکړي. اما یونس نه غوښتل چې نینوا ته لاړ شي ځکه چې د هغه ځای خلک د هغه لپاره غریبانان وو.

یونس د هغه ځای د تللو څخه انکار وکړ. د هغه ښار په مخالف طرف په کشتۍ کې سپور شو او لاړو. خدای ډیر سخت طوفان نازل کړ او نژدې ؤ چې کشتۍ ډوبه شي. خو یونس د کشتۍ ماڼکي ته وویل چې هغه د خدای نافرماني کړیده. هغه وویل: "ما اوبو ته وغورزوی نو دا طوفان به بیا آرام شي." (یونس نبي ۱: ۱۲). نو هغوی دا کار وکړ او په سیند کې طوفان سمدستي آرام شو. بیا خدای یو نهنګ راولیږلو چې هغه لواړ تیر کړي، یونس د ماهي په ګیډه کې دعا وکړه او ویی ویل چې د هغه نافرمانۍ په هکله چې ما کړیده پښیمانه یم. نو په هغه وخت کې خدای ماهي ته حکم

وکړ چې یونس د خپلې ګیډې څخه وچ ځای ته وغورزوه، نو بیا په هم هغه وخت کې یونس د خدای اطاعت کولو لپاره حاضر شو. هغه د نینوا ګناه ګار ښار ته لاړو. په هغه ځای کې یې د خدای د کلام وعظ وکړ نو ډیرو خلکو توبه وویستله، نو خدای هغه ښار وبابښه او یونس هم د اطاعت درس زده کړو. د خدای ټول انسانان خوښ دي او هغوی سره مینه لري. هغه د نینوا د خلکو په مقابل کې رحیم او مهربانه ؤ. او نن ورځ هم غواړي چې په ټولو خلکو رحم وکړي. که چیرې مونږ د هغه نه اطاعت وکړو، هغه به هم مونږ سره مرسته وکړي چې د ټولو ګاونډي هیوادونو خلک د مسیح سره آشنا او معرفي کړو. خدای ټولو خلکو ته یو شان ګوري او هر چا ته چې هغه وغواړي ګناهونه یې بخښي.

مونږ څنګه کولی شو چې هغه خلکو چې زمونږ په ګاونډیو هیوادونو کې ژوند کوي په مسیحي ټولنه کې ځان سره شریک کړو؟

په لمړۍ مرحله کې باید هغوی لپاره دعا وکړو. تاسو کولی شۍ چې په خپلو مالي مرستو په وسیله د هغوی په لاس کې کلام ورکړۍ. شاید تاسو هیچرې هم پدې ونتوانیږي چې هلته لاړ شۍ. خو بیا هم د خدای کار نه محدودیږي. د هغه خلکو د ایمان راوړلو لپاره چې په نورو ځایونو کې ژوند کوي تاسو د ډیرو پیسو ضرورت نلري. که چیرې ټول

مسیحیان د مسیح د حکم څخه اطاعت وکړي، نو هغه ضرورت به له منځه ولاړ شي. یعني دا چې انجیل به ټولې دنیا ته ورسیږي.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۰ صحیح جملې څرګندي کړئ.

الف) مونږ کولی شو چې د خپلو مالي مرستو او دعاګانو په ذریعه ټول ګاونډي هیوادونه د انجیل په خپرولو کې ځان سره شریک کړو.

ب) خدای د نینوا د خلکو په فکر کې ؤ ځکه چې هغوی د هغه خدمت نه کاوه.

ج) خدای زما څخه دا نه غواړي چې د هغه خلکو په ژبه چې نه پوهیږي او د هغوی په فکر کې اوسم.

د) یونس نبي د اطاعت درس زده کړ.

۱۱- آیا داسې خلک شته چې هغوی ستاسو لپاره غریبان او خارجي وي؟ هغوی څوک دي؟ او تاسو څنګه او په کومه طریقه کولی شئ چې هغوی سره مرسته وکړئ؟

دعا وکړئ چې دا خلک خدای وپیژني او د خدای څخه پوښتنه وکړي چې څنګه کولی شئ چې د هغوی د توبې ایستلو باعث شئ.

## د نړۍ لرې برخې – هغه نړۍ چې تاسو په کې ژوند کوئ

تاسو چې هر کله د خپل خوا او شا کسانو په هکله او یا د خپل مملکت د خلکو او د غیره خلکو په باره کې فکر کوئ، نو کولی شئ چې ټولې نړۍ خلکو په باره کې فکر وکړئ. نو دا فکر او پاملرنه ټول قومونه او ملتونه په نظر کې نیسي. پولوس رسول د نړۍ د ټولو نه د لویو مبشرینو له جملې څخه یو دی. هغه د اورشلیم څخه شروع وکړه او سامریې او یهودیې څخه د دنیا د ډیرو لرې ځایونو پورې ئې د خدای پیغام ورساوه. په خپل هر یو بشارتې سفر کې د دنیا د ټولو نه لرې ځایونو ته تلو. د هغه لمړۍ سفر د آسیا صغیر څخه شروع شو چې په واقعیت کې د فلسطین سره نژدې ؤ. په خپل دوهم او دریم سفر کې حتی تر یونان پورې ورسید. او په خپل آخري سفر کې د ډیر لرې ځایونو پورې لکه روم او اسپانیې ته لاړو. په حقیقت کې پولوس رسول دا

فکر درلود چې ټوله دنیا د مسیح لپاره فتح کړي. یعني د هر چا سره په هر ځای کې د مسیح په باره کې خبرې وکړي.
مسیح وویل: "ځکه تاسو په مځکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ" (متی ۲۸: ۱۹).

د مسیحي ټولنې حدونه ډیر پراخه دي. په حقیقت کې نامحدوده دي او ستاسو د اصلي هدف څخه تر ټول جهان پورې. آیا تر اوسه پورې تاسو متوجه شوي یې چې څنګه کولی شئ چې د مقدس کتاب هغه توجه او فکر له خپله ځان څخه ښکاره کړئ؟ د هغه محبت لرونکي روح په وسیله چې په ټوله نړۍ باندې حاکمت لري ټولې نړۍ ته ښکاره کړئ.

اوس غواړم چې تاسو سره د یو انګریزی ښځې په هکله چې په د ټولې نړۍ لپاره یې یو نظر درلود خبرې وکړم. د هغې نوم "ګلدیس آیل وارډ" دی. هغه په ۱۹۲۰ میلادی کال په لندن کې د یوې مالدارې کورنۍ خدمتګاره وه. سره د دې بیا هم هغې د چین د خلکو سره د مسیح په هکله د خبرو او هغوی ته د شهادت ورکولو ډیر زیات شوق درلود. خو په دې هم نه پوهیده چې د چین هیواد چیرې دی. خو بالاخره پدې وپوهیده چې د قطار په وسیله د یو لوی سفر څخه وروسته به هلته ورسیږم. د قطار ټکټ یې واخیست. د اروپا

څخه تیره شوه چې د سابیریا څخه تیریده، نو د یو څو ورځو سفر څخه وروسته چین ته ورسیدله.

"ګلدیس آیل وارډ" د ۴۰ کالو څخه زیات کار په چین کې وکړ او د خلکو سره یې د مسیح په باره کې خبرې وکړې. یو ځلې چې یو شور په قیدخانه کې منځ ته راغی هغه یې آرام کړ. او هغه کار د دې باعث شو چې ډیرو خلکو مسیح د خپل خلاصونکي په صفت قبول کړ. او په سلګونو ماشومان چې یتیمان او بې کسه ؤ د هغوی پالنه ئې وکړه. په دویم جنګ جهانې کې هغې ۱۰۰ ماشومان پیاده د غورونو د لارې یو امن ځای ته بوتلل او د هغوی ساتنه ئې وکړه. نو مورې ښځې داسې روح درلود چې صرف د هغې په هیواد او ښار پورې نه محدودیده.

## ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی**

۱۲- د ګلدیس آیل وارډ لپاره د دنیا لرې وطنونه ............

۱۳- زه کولی شم چې له دې طریقې نه ............. روح ولرم چې ټوله نړۍ په نظر کې نیسي.

۱۴- دا ښکاره کړۍ چې هغه ذکر شوي ځایونه چې په ښي طرف کې لیکل شوي دي د کومو خلکو د ډلو څخه چې په کینې خوا کې ذکر شوي ځرګندوي.

| | |
|---|---|
| الف) سامریه | ۱: زما وطنداران. |
| ب) یهودیه | ۲: زما د وطن ګاونډیان. |
| ج) د نړۍ لرې ځایونه | ۳: زما خپله کورنۍ او ګاونډیان. |
| د) اورشلیم | ۴: د ډیر لرې هیوادونو خلک. |

۱۵- تاسو اوس کولی شئ چې د دې درس له کتنه ګوری ځخه معلومه کړئ چې دا خلک په کومه کتنه ګوری باندې تقسیم شویدي.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۸- ستاسو انتخابې جواب: هر کله چې تاسو دعا وکړئ نو خدای به تاسو ته هغه لارې وښایې چې تاسو څنګه کولی شئ چه ډیر خلک په خپل خدمت کې د مسیح سره آشنا کړئ.

۱- ب)

۹- مونږ ته دا را زده کوي چې هر وخت چې خدای زمونږ ځخه کوم کار غواړی چې سر ته یې ورسوو، کولی شو چې په هغه باندې دا باور ولرو چې د هر کار په سر ته رسولو کې هغه زمونږ سره مرسته کوي.

۲- الف)

۱۰- الف) صحیح

ب) غلط

ج) غلط

د) صحیح

۳- بیت المقدس، یهودیه، سامریه او د دنیا لرې ځایونه.

۱۱- ستاسو انتخابي جواب: تاسو د هغوی لپاره دعا وکړئ او د خدای نه وغواړئ چې تاسو ته دا خبره ښکاره کړي چې په کومه طریقه کولی شئ چې د هغوی سره د انجیل په رسولو کې مرسته وکړئ.

۴- د دې په هکله چې ایماندارانو به څنګه د مسیح په باره کې شهادت ورکاوه.

۱۲- چین ؤ.

۵- الف) غلط

ب) صحیح

۱۳- د مینې ښکارول او د ټولو خلکو په هکله فکر کول.

۲- ستاسو انتخابي جواب: امید لرم چې تاسو به د ټولو نه زیات په خپله ټولنه او فعالیتونو کې د روح اهمیت او ضرورت او مسیحي محبت لرلو ته د نورو خلکو سره ډیر پاملرنه کړې وي.

۱۴- الف) ۲

ب) ۱

ج) ۴

د) ۳

۷- الف) غلط

ب) صحیح

ج) صحیح

۱۵

| | |
|---|---|
| الف) اورشلیم | زما د کورنۍ او زما ګاونډیان |
| ب)یهودیه | زما د وطن خلک. |
| ج) سامریه | زما ګاونډي هیواد خلک. |
| د) د نړۍ لرې ځایونه | د ډېر لرې وطن خلک. |

# په ټولنه کې پرمختګ کول

آيا تاسو تر اوسه پورې دا فکر کړی دی چې یو سړی څنګه په خپله ټولنه کې پرمختګ کولی شی او مشهوریږی؟ یو کوچنی ماشوم په شروع کې یوازی ژاړي او خوراک کوي. او د یو نیم کال په موده کې بیا دومره کولی شی چې لږ وګرزی او فکر وکړی. دا کار څنګه امکان لري؟ دا په خپله یوه معجزه ده چې مونږ د هغه په هکله ډیر کم فکر کوو. ښه روزنه او پالنه او کافي استراحت د یو ماشوم د غټوالي سبب ګرزي. هغه دا زده کوي، هغه څوک چې د ده ساتنه او روزنه او د هغه په باره کې فکر او هغه ته تعلیم او تربیت ورکوی. د هغه جسماني او فکرې غټوالی تر څو کالو پورې دوام کوي. تر هغه وخته پورې چې هغه ځوان او غټ شي. هر کله چې هغه غټ شي، نو بیا وایو چې دی اوس بالغ دی.

په دویم درس کې مو د مسیح د حکم په باره کې د شهادت ورکولو په هکله ځینې خبرې زده کړلي.

د دې لپاره چې یو مؤثر او ګټور شهادت خلکو ته ورکړو، نو باید چې په روحاني لحاظ غټ شو او پرمختګ وکړو. په دې لوست کې به د روحاني غټوالي په هکله خبرې وکړو ځینې مسیحیان که څه هم د هغوی ایمان څخه ډیر کالونه تیر شوي وي خو بیا هم په روحاني لحاظ ماشومان وي.

دا کار د خدای هدف او پلان نه دی. خدای دا غواړي چې مونږ د روح په لحاظ غټ او بالغان شو. "تر څو چې مونږ ټول په ایمان راوړلو کې یو شو او د خدای زوی په ښه شان وپیژنو. دغسی به مونږ په ایمان کې بالغان شو، یعني د مسیح په شان به کامل شو." (افسیان ۴: ۱۳)

نو په هغه وخت کې به مونږ وکولی شو چې په ټولنه کې د نورو سره غټ او بالغان شوي یو.

**هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولې**

د غتهوالي طريقه

د خدای په کلام پوهيدل

د خدای په هکله فکر کول

د مسيحی مينی په وسيله کنټروليدل

د نورو ورونو سره شراکت درلودل

د پرمختګ او غتهوالي لپاره اصول

د خدای لپاره د نورو څخه جدا کيدل

د ګناه ګارې نړۍ څخه لرې کيدل

عاجزی او اعتدال

**دا درسونه به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو ....**

چې په دې پوه شې چې تاسو څنګه کولی شې چې په مالک کې پرمختګ وکړې

ځای او د جدائي اهميت، عاجزي، اعتدال او ميانه روي په مسيحي پرمختګ کې تشخيص کړې

## د خدای په کلام پوهیدل

یوه ورځ صدوقیان د هغه قصو سره چې په خپله ئې جوړې کړې وې مسیح ته راغلل. هغوی هغه ته وویل چې د یوې ښځې د یو سړي سره واده وشو او د یو څه مودې وروسته یې میړه مړ شو، نو بیا هغه ښځې د هغه سړي د بل ورور سره واده وکړ او هغه هم مړ شو، او دا کار اوه ځله تکرار شو. نو بیا صدوقیانو د مسیح څخه پوښتنه وکړه: "نو دا را ته ووایه چې د قیامت په ورځ به هغه د چا ښځه وي ځکه چې ورسره ټولو وادهٔ کړی ؤ؟" (۲۲: ۲۸)

دا قصه صدوقیانو د مسیح د امتحان لپاره د خپله ځانه جوړه کړې وه. ځکه چې هغوی په قیامت باندې ایمان ندرلود. هغوی د دې خبرې منتظر ؤ چې مسیح د هغوی د عقیدې پر ضد څه ووائې، نو په هغه وخت کې هغوی کولی شي چې په آسانې سره د مسیح تصمیم رد کړي او خپل کار څخه د خوښې او رضایت احساس وکړي.

په هغه وخت کې مسیح د هغوی د سوال په جواب کې په مستقیمه توګه لږ مشکلاتو سره مخامخ شو. او هغوی ته یې وویل چې تاسو د خدای په کلام باندې نه پوهیږئ. "عیسی جواب ورکړو چې تاسو په غلطه یئ ځکه چې نه خو تاسو په صحیفو پوهیږئ او نه د خدای په قدرت خبر یئ"

متی ۲۲: ۲۹. هغه ترتیب چې مسیح استعمالولو لړ غوندې فکر وکړی. هغه به په لمړي سر کې د خدای کلام مطرح کوي او د هغې نه وروسته د خدای قدرت. په دې بابله د زده کولو لپاره ډیر لوستونه موجود دي. داسې معلومیږي چې خلک د خدای د قدرت په هکله زیاته علاقه ښیي. خو د خدای د کلام زده کولو او د هغه د درک کولو په هکله زیاته علاقه او شوق نلري.

دا کار په پوره ډول د دې په مثال دی چې جغ د غوایانو څټ باندې کیږدي نو بیا هغوی نشي کولی چې څه بل کار وکړي. آیا تاسو غواړۍ چې په خپل ژوند کې د خدای په کلام باندې وپوهیږي او د هغوې په وسیله ژوند وکړۍ. پطروس رسول فرمایې: "د نوو پیدا شوو بچو په شان د خالص روحاني پیو خواهشمند اوسۍ چې د هغو په وسیله د خلاصون موندلو د پاره لوئیږۍ" (اول پطروس ۲: ۲). لکه څنګه چې یو ماشوم ته د دې خبرې ضرورت وي چې غټ شي او سالم او روغ اوسي. چې خوراک وخوري، نو مونږ هم باید د خدای د کلام څخه خوراک وکړو. تر څو په روحاني لحاظ سره غټ شو او روغ سالم مسیحیان اوسو. زبور ۱۱۹ تقریباً ۱۷۶ آیاتونه لري. چې پدې ټولو آیاتونو کې د خدای د کلام خبرې شوي دي. د مختلفو مقصدونو په منځ کې دا آیاتونه مونږ ته دا خبره څرګندوي چې د خدای کلام

مونږ د ګناه څخه ساتي هدايت راکوي، او حکمت رابخښي او زمونږ د خوشحالۍ سبب ګرزي.

که چيرې د خدای د کلام ترتيبواره تلاوت او مطالعه ستاسو د ژوند يوه برخه نه وي، نو کولی شئ چې پدې هکله د خدای څخه مرسته وغواړئ، تر څو هغه تاسو سره مرسته وکړي چې کله د خدای کلام مطالعه کوئ چې ورباندې ښه وپوهيږئ. مونږ بعضې وخت ځينې کارونه چې بايد هغه سر ته ورسوو د تنبلۍ او غفلت له وجې نه هغه نه کوو. د مثال په توګه هر کله چې پدې وخت کې په خپل ځان باندې کنټرول ولرو او بايد چې دا کار وکړو. په حقيقت کې دا هغه عمل دی چې زما اراده سر ته رسوي. هيڅوک ما د دې کار په کولو نه مجبوروي. هر کله چې د خدای د کلام په ورځنې مطالعه باندې شروع کوم. خوشحالي، او رضايت احساس او روحاني بلوغيت چې د کلام د مطالعې څخه حاصليږي تجربه کوم.

يو ماشوم هغه وخت په صحيح طريقه لوئيږي چې د مور او پلار له طرفه ورته ښه غذا ورکړل شي. د ايماندارانو ژوند هم په دې شکل دی. تاسو که چيرې د دې خبرې طمعدار يې چې په خدای کې بالغان شي، نو بايد هغه ته اجازه ورکړئ چې تاسو ته خوراک درکړي. نو بيا خدای تاسو ته د خپل کلام په وسيله تغذيه کوي. د دې مقصد لپاره يوه خاص ورځ مقرر کړئ. لکه څنګه چې د خوراک لپاره هره ورځ

مشخص وخت لري. روح القدس به تاسو سره د هغه کلام چې تاسو ئې لولئ په پوهیدلو کې مرسته وکړي او په روحاني ژوند کې به پرمختګ وکړئ او بالغان به شئ.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- صحیح جملې مشخصې کړئ

الف) مسیح دا خبره په ګوته کړه چې صدوقیان د خدای په کلام نه پوهیږي.

ب) هر کله چې د خدای کلام لولو خدای مونږ ته روحاني خوراک راکوي.

ج) مسیح وویل چې د خدای د قدرت د پیژندلو څخه د خدای کلام پیژندل مهم کار دی.

۲- د خدای د کلام د مسلسلې مطالعې ګټې په ګوته کړئ او د هغه نتیجه ولیکئ.

د خدای د کلام په باره کې فکر کول

دعا او فکر کول د مسیحي بلوغیت لپاره بله طریقه دا ده چې د انسان د روحاني پرمختګ سبب کیږي مونږ ته د دې خبرې ضرورت دی چې باید د خدای په باره کې د فکر کولو

تربيت حاصل کړو. مونږ ته د دې خبرې ضرورت دی چې باید د خدای د کلام وعظ چې مو اوریدلی دی او هغه کارونه چې هغه زمونږ لپاره کړیدي د هغوی په باره کې فکر وکړو، پولوس رسول مونږ ته د فیلپیانو په خط کې ویلي دي چې مونږ باید خپل ذهن د ښو او نیکو شیانو څخه ډک کړو." نو اوس ای وروڼو! څومره خبرې چې رښتیا دي او څومره خبرې چې د شرافت دي، څومره خبرې چې پاکې دي، او څومره خبرې چې مینه ناکې دي او څومره خبرې چې ښایسته دي، غرض دا چې کومي د نیکۍ او ستائینې خبرې دي، په هغو غور کوئ (فیلپیان ۴: ۸).

خدای مونږ سره د یشعیا نبي په کتاب کې دا وعده کړیده چې که چیرې مونږ د هغه په باره کې فکر وکړو نو هغه مونږ ته تسلې او آرام راکوي (یشعیا ۲۲: ۳).

د خدای په بار کې فکر کول د دې سبب گرزی ې زمونږ ایمان په هغې کې بلوغ ته رسیږي.

مونږ هم د دې خبرې ضرورت لرو چې دعا وکړو او خدای راته د دعا کولو طریقه وښیي. او هدایت مو کړي. خدای غواړي چې مونږ د هغه د کلام د پوهیدلو لپاره دعا وکړو افسیان ۴: ۲ مونږ ته دا را زده کوي چې مونږ باید د خپلو ضرورتونو لپاره د خدای په حضور کې دعا وکړو. په افسیان ۲: ۱۸ کې داسې لولو: "او هر وخت په هر شان په روح القدس کې دعا کوئ." هر کله چې مونږ د نورو

مسیحیانو لپاره دعا کوو، نو په حقیقت کې د مسیحي ټولنې روح نورو خلکو ته څرګندو. مونږ باید هم هغه کسانو ته دعا وکړو چې مسیح نه پیژني د دې لپاره چې هغوی هم توبه وکړي. هر کله چې مونږ بې ایمانانو لپاره دعا کوو، نو مونږ د مسیحي ټولنې روح په وسیع او پراخه پیمانه لرو.

ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۳- په کوم دلیل دعا او فکر کول مهم دي؟

۴- د هغه دوه موضوع ګانو نوم واخلئ چې مقدس کتاب مونږ ته د هغې په باره کې دعا کولو هدایت راکړي دی.

## د مسیحي مینې په وسیله کنټرول

لس حکمونه د یو سړي د قانون په توګه د یوې ټولنې د ژوند د دارو مدار لپاره د اسرائیلو قوم ته ورکړ شو. (خروج ۲۰باب) دا قانون د انسان او خدای تر منځ او هم د انسانانو تر منځ د ارتباط په خاطر وضع شوی وو. هر کار چې اسرائیلو سر ته رسولو، باید چې د دې قانون سره یې خپل ځان عیار کړي او باید هیڅا هم له دې شریعت او قانون څخه نافرماني او مخ غړونه نه وې کړې. په هر صورت د اسرائیلو لپاره د دې قانون سره ژوند تیرول ډیر مشکل او ګران ؤ. خدای ولیدل چې هغه کسانو ته چې دا قانون ورکړ شوي وو په پوره توګه یې سر ته نشي رسولی. نو په همدې دلیل یې عیسی مسیح راواستاوه. د رومیانو ۸: ۳ او ګلتیانو ۴: ۴- ۵ مطالعه کړی. دا آیاتونه د خدای فضل او تمایلات چې د انسانانو سره په پوره او کامله توګه یې لري څرګندوي. هر کله چې یو انسان د خدای سره صحیح ارتباط ولري نو کولی شي چې د ټولو انسانانو سره ښځ او مناسبه رابطه ولري.

هرکله چې ځوان وم نو د یو زوړ سړي سره مې یو ځای کار کاوه خو د هغه سره کار کول آسان نه وو نو د خپل ځان سره مې دا تصمیم ونیوه چې باید هغه سره په ډیر محبت رفتار وکړم. بې له دینه چې د هغه بد سلوک ځانته په ګوته کړم او

هغې ته متوجه شم. هر کله چې هغه ولیدل چې د هغه بده رویي په ما کوم تاثیرونه ونهٔ کړ نو هغه بیا خپل اخلاق او سلوک ته تغیر ورکړ. هغه هم زما د محبت په وجه ما ته مثبت جواب راکړ. د هغه نه مې ډیر درسونه یاد کړل چې تر نن پورې ما سره مرسته کوي. یو له هغې درسونو نه دا دی چې هیڅوک هم نشي کولی چې د محبت په مقابل کې مقاومت وکړي.

هر کله چې مونږ مسیح د خپل مالک او خدای په صفت قبول کړو، نو زمونږ په ژوند کې تغیر او تبدیلي راځي چې په نتیجه کې د مقدس کتاب، خدای او د خلکو لپاره یو نوې فکر او پروا شروع کیږي.

مسیح زمونږ لپاره هغه کار وکړو چې لس احکام او شریعت د هغې په پوره کولو قادر نه ؤ. کله چې د خدای سره زمونږ شراکت شروع شي، نو په حقیقت کی په یو نوی شخص بدلیږو. (دویم کورنتیان **۵**: ۱۷). خدای د خپل محبت قانون زمونږ په انساني زړونو باندې لیکي. (دویم کورنتیان **۳**: **۳**). نو دا خبره دا معنیٰ لري چې محبت قانون د پخوانې شریعت د قانون ځای نیسی. لکه څنګه چې مونږ د خدای سره مینه لرو، نو همدارنګه د هغه د قانون څخه اطاعت کوو. نو په همدې وجه زمونږ ارتباط د ټولو خلکو سره د همدې محبت په وسیله کنټرولیږي. زمونږ وجدان، فکر پاک او تازه کیږي. نو اوس هم د هماغه تازه طبعیت په وسیله

خپل کارونه سر ته رسوو چې شریعت د هغوی په هکله مونږ ته حکم راکړیدی. دا د ژوند لپاره یو خارق العاده رویه او عادت دی.

آیا تاسو داسې څوک پیژنۍ چې ستاسو د مسیحي عقیدې په وجه تاسو سره بد سلوک کوي؟ که چیرې تاسو د خدای محبت ته اجازه ورکړۍ چې ستاسو زړه د خپلې مینې څخه ډک کړي، نو تاسو به پدې خبره باندې وتوانیږي چې هغه څوک چې تاسو سره بد سلوک کوي. هغه وبخښي. تاسو که چیرې یو مسیحي یې نو، ستاسو طبعیت او فکر د خدای په قدرت عوض شوی دی. باید چې د خدای د محبت قانون ستاسو د ژوند د سلوک او اصولو قاعده وګرزي. دا هغه رویه او خلاق دي چې باید په ټولنه باندې حاکم وي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

**۵**- لاندې جملې پوره کړۍ:

الف) خدای د اسرائیلو قوم ته یو سر سري قانون ..... په نوم ورکړ.

ب) هغه قانون چې مسیح یې تعلیم ورکړ هغه قانون ..... دی.

ج) مونږ کولی شو چې مسیحي قانون اطاعت وکړو ځکه چې......

د) مسیح خپل قانون زمونږ په ............... ولیکو.

۲- د هغه خلکو بخښل آسان دي چا چې مونږ سره بد کړي وي ځکه ........

الف) شریعت راته دا حکم کړی چې باید هغوی وبخښم.

ب) هر کله چې په مسیح ایمان راوړو زمونږ طبیعت او خوي بدلیږي.

## د نورو سره شراکت لرل

د مسیحیانو سره شراکت لرل ستاسو په روحاني غځوالي کې تاسو سره مرسته کوي. مونږ ته د دې خبرې ضرورت دی چې باید د یو بل سره د خدای کتاب مطالعه کړو. کلیسا ته په منظمه توګه تلل او تعلیمات زمونږ د پرمختګ او په خدای کې د لوئیدو باعث کیږي. د نورو مسیحیانو په مشکلاتو او خوشحالۍ کې برخه لرل او په خپلو مشکلاتو او خوشحالۍ کې د هغوی شاملول یوه لویه مرسته ده. په یوه ټولنه کې اصلي خبره دا ده چې مونږ یو بل ته ضرورت لرو. مونږ ته د دې خبرې ضرورت دی چې د هغو خلکو سره چې خدای پیژني او د هغه سره مینه لري چې د هغوی سره

شراکت ولرو. آیا د تاسو مسیحیانو سره شراکت لری؟ آیا د هغوی په کارونو کې برخه اخلی. آیا کله چې هغوی خوشحاله دي تاسو د هغوی په خوشحالی کې شریک یاست. آیا کله چې هغوی نا آرامه دي تاسو هغوی تشویقوی؟ که چیرې تاسو داسې کوی نو په حقیقت کې هغه مینه چې په یوې ټولنې باندې حاکمیت لري په ښه ډول سره یې څرګندوي.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۷- په لاندې جملو کې کومه یوه په ښه او اساسي شکل د نورو مسیحیانو سره شراکت او روحاني غټوالي، بیانوي؟

الف) هر کله چې د نورو په خوشحالی او غمونو کې برخه لرو، نو د دې خبرې احساس کوو چې هغوی مونږ ته ضرورت لري.

ب) شراکت او د نورو مسیحیانو سره د هغوی په کارونو کې برخه لرل زمونږ د تقویت او په خدای کې د غټیدو باعث کیږي.

## د پرمختګ لپاره اصول

په هغه وخت کې کله چه مونږ د خدای کلام مطالعه کوو دعا کوو او د خدای په هکله فکر او د هغه عبادت او د نورو خلکو سره محبت کوو. په دې طریقې سره په خپل روحاني ژوند کې پرمختګ کوو. خدای مونږ د یو مقدس ژوند په لور هدایت کوي. مقدس کتاب د دې عنوان لاندې کله د جدا کیدلو نوم اخلی، نوې عهد له دوه اړخونو څخه د دې جدائې په باره کې خبرې کوي. اول جدائې د خدای لپاره، دوهمه جدائې له ګناه څخه دا دواړه ډیر مهم دي

## د خدای لپاره جدائی اختیارول

خدای تاسو ته د دې خبرې دعوت درکوي چې خپل ژوند هغه ته وقف او په حقیقت کې د هغه لپاره ژوند وکړی. د رومیانو ۱۲: ۱ کې داسې لیکلي دي: "د دې لپاره زما ورونو! زه د خدای رحمتونه تاسو ته دریادوم او درته خواست کوم چې خپل ځانونه هغۀ ته د داسې ژوندی قربانۍ لپاره وړاندې کړی چې هغه ته قبوله او مناسبه وي، او ستاسو عبادت دې د زړۀ او پوهې دواړو له رویه معقول وي." دا د جدائې یو مثبت اړخ دی. د اعمالو ۱۳: ۲ آیات مطالعه کړی. "برنبا او ساول زما لپاره هغه کار له جدا کړی چې د څه لپاره چې ما هغوی را بللي دي." او همدارنګه د رومیانو ۱: ۱ په زړه ترجمه کې داسې لولو "پولوس ..... د

مسیح عیسی غلام او بللی شوی رسول دی چې د خدای د زیري د خورولو لپاره مقرر کړی شوی دی." نو بیا دې خبرې ته متوجه کیږو چې دا جدائې د خدای لپاره وه د خدای لپاره جدائې په واقعیت کې هغه ته په پوره ډول تسلمیدل دي. د دې لپاره چې خدای زمونږ سره مرسته وکړي تر څو چې د مسیح غوندې مقدس، ژوند ولرو.

## د ګناه ګاری نړۍ څخه جدائې

په دویم خط د کورنتیانو ۶: ۱۴ آیات کې داسې لولو: "څوک چې په مسیح ایمان نه لري، د هغوی سره په جغ کې مه ځۍ. د صداقت او نا صداقت په خپلو کې څه تعلق؟ بیا د رڼا او تیارې د یو بل سره څه کار؟" په دې ځای کې زیری دا دی چې د یو ایماندار او بې ایمانه تر منځ واقعي او رښتني شراکت لرل امکان نه لري. په دې لغت باندې فکر وکړۍ یعني "پیوند او یووالی" "پیوند" "رابطه". دا ټول هغه مقصد او مفهوم تشریح کوي کوم چې مونږ په اول درس کې ولوستل مونږ ته دا آیات څرګندوي چې باید داسې شراکت او رابطه د بې ایمانانو سره ونلرو. په حقیقت کې دا رابطه د نژدې روابطو څخه خبرې کوي لکه واده نه دا چې د کار شراکت څخه یا د روزمره ژوند په باره کې.

مونږ اکثره د هغه خلکو سره په تماس کې یو چې په خدای باندې ایمان نلري. او په حقیقت کې همدا خبره ده چې خدای

مونږ استعمالوي چې دې خلکو سره رابطه او اړيکې ولرو تر څو هغوی مسيحي ايمان ته هدايت کړو. د خدای د زوی کيدلو راز په يوه فسادي او شريره نړۍ کې د خدای پيژندل دي. ستاسو رابطه خدای سره بايد دومره روښانه وي بې له دې نه تاسو چې ووايې چې هر څوک د هغه واقعيت ته متوجه شي. تاسو په مځکه کې ژوند کوئ خو په حقيقت د آسمان پورې اړه لرئ. تاسو کولی شئ چې د بې ايمانانو سره دارو مدار ولرې نه دا چې د هغوی غوندې شئ. جارج په نوم يو سړی د خپل نوې ګاونډي فرق لرونکي ژوند ته متوجه شو، او لدې فرق له سببه يې ترې پوښتنه وکړه. ګاونډي يې ورته په جواب کې وويل چې هغه په خپل ژوند کې مسيح د خپل مالک او خلاصونکي په صفت قبول کړيدی نو د لږ وخت څخه وروسته د دې شهادت په اثر جارج هم خپل ژوند مسيح ته وقف کړ. نو لږه موده وروسته بيا جارج يو بل ښار ته د خپلې مور ليدلو لپاره لاړو، نو مور يې د هغه نه پوښتنه وکړه "دا څه فرق په تا کې راغلی دی؟" نو جارج د خپلې مور سره د مسيح په هکله خبرې وکړي، نو ډير زر هغې هم مسيح د خپل مالک او خلاصونکي په صفت قبول کړ او هغوی دواړه د روح القدس نه معموره شول. د جارج مشکلاتو او تکليفونو تغير ونکړ، خو هغه په خپله يو نوی انسان شو. هر کله چې د هغه مور په هغه کې دا بدلون وليد. نو ويې غوښتل چې د هغه په ژوند کې څه پيښ

شوي دي د جارج ګاونډی هغه څوک ؤ چې خپل ژوند يې خدای ته وقف کړی ؤ. او د دوه کسانو د ژوند د تغير او بدلون سبب شو.

## ستاسو کار

هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوی

۸- دا خبره معلومه کړی چې په لاندې جملو کې کوم يو فعاليت دا په ګوته کوي چې هغه د خدای لپاره جدائي او ګناه ګاره نړی وښايي.

الف) د خدای د کلام هره ورځ لوستل.

ب) د شراکت لپاره د مسيحيانو ملګرو خوښول

ج) د هغه عملونو څخه پرهيز کول چې تاسو پدې پوهيږی کوم چې د خدای د خوښي سبب نه وي.

د) د هغه چا سره واده کول چې مسيحي نه وي.

ذ) دومره مصروف اوسی چې د ترتيبوارې دعا لپاره هيڅ وخت ونلری.

ر) د خدای نه وغواړی چې تاسو هدايت کړي.

ز) د ميني ښودل او هغه خلکو ته توجه ورکول چې احتياج لري.

# تواضع او مساوات

ځينې وخت د مسيحيانو لپاره د صحيح رفتار اساس معلومول چې بايد هغوی ئې ولري مشکل کار دی. ځينې مسيحيان وايي چې مونږ نور د شريعت او قانون لاندې نه يو او آزاد يو چې بايد د خپل قانون او اصل لاندې بايد ژوند ته دوام ورکړو. خو نور ډير مذهبي شرعي دارو مدار کوی. يعني کوشش کوی چې د ځينو کارونو په وسيله او د ځينې کارونو د نه کولو په وسيله خدای خوشحاله کړی. هغوی دا کوشش کوي چې د قانون په زيات عمل سره خپل ځان خدای ته مقبول وګرزوی. نه د مسيحي ايمان پوسيله. دا دواړه رفتارونه، سلوکونه او طرزونه کيدای شي چې خطرناک وي. مسيحيت يو قانون او شريعت او يوه قاعده نه ده چې بايد د هغه نه اطاعت وشي. بلکه عيسی د خپل خلاصونکي په صفت منل او د خپل ژوند مالک ګڼل دي. مسيح په خپله وفرمايل: "دا خيال مه کوی چې ګنې زه د دې لپاره راغلی يم چې شريعت او د نبيانو کتابونه منسوخ کړم. زه منسوخ کولو ته نه يم راغلی بلکه پوره کولو ته راغلی يم " (متی ۵: ۱۷). هغه وخت چې مسيح زمونږ د ژوند مالک وي نو هغه کارونه به سر ته رسوو چې د هغه د خوشحالۍ سبب کيږي. او هغه کار نه خوښو چې زمونږ مسيحي ژوند او شهادت ته صدمه رسوي. مونږ د مذهبي قانون پورې تړلي نه يو. او همدارنګه فکر نه کوو چې د مسيحيت فضل

اجازه راکړي چې هر رنګ ژوند چې زمونږ زړه وغواړي هغه قسم ژوند وکړو. د مسیحیت د محبت قانون مونږ سره مرسته کوي چې د خپل ژوند په رویه او اخلاقو کې هر قسم برابری او انصاف مراعات کړو مونږ سره خدای د یو شخص په صفت رفتار کوي. او باید چې پام وکړو چې د خپل اساس او اصولو په مطابق په یو بل باندې حکم ونکړو. رومیانو ۱۴ او **۱۵** بابونه په همدې باره کې خاص خوراک څښاک او یوه ورځ په بله باندې مقدسه ګڼلو په هکله خبرې کوي. په هر صورت لاندې اصول چې بیان شوي زمونږ د ژوند په هره برخه کې مونږ سره مرسته کولی شي او باید د هغوی څخه کار واخلو دا اصول عبارت دي له:

۱- "نو په کار دی چې آینده لپاره مونږ دې په یو بل الزام ونهٔ لګوو. او تاسو دا اراده وکړی چې هیڅوک به د ورور په وړاندې هغه څیز نه ږدې کوم چې د هغه د تیندک خوړلو یا راغورزیدو سبب کیږی" (رومیان ۱۴: ۱۳).

۲- "نو بیا دې مونږ د هغو خبرو طالبان شو په کومو چې صلح او تړون ترقې مومي" (رومیان ۱۴: ۱۹).

۳- "که ستا د غوښې په خوړلو او د شرابو په څښلو او څه داسې بل څه کار نه، ستا ورور تیندک خوري، نو دا ښه ده چې ته د دې څیزونو نه ځان وساتي" (رومیان ۱۴: ۲۱- ۲۲).

۴- " پس څه رنګ چې مسیح تاسو د خدای د جلال لپاره قبول کړي، دغسې تاسو هم یو بل قبول کړی" (رومیان ۱۵: ۷). نوموړې آیاتونه د خدای د کلام څخه دا خبره څرګندوي چې مونږ باید د هغه خلکو په نسبت چې د هغوی قانون زمونږ سره فرق لري بلکل عاجزي او خاکساري اختیار کړو. د تواضع معنیٰ صبر کول او د نورو خلکو قبلولو څخه عبارت ده. حتی تر دې پورې چې په هغه وخت کې په پوره ډول د هغوی سره موافق نه اوسو.

خدای پوهیږي چې زمونږ سره څرنګه د یو شخص په صفت چې د یو سړي پورې اړوند وي رفتار او سلوک وکړي. مونږ

سره خدای د یو شخصي رابطي په شکل رفتار کوي. ځکه چې هغه غواړی چې مونږ سره نژدې رابطه ولري هغه زمونږ د ټولو ضرورتونو نه خبر دی. خدای سره دا امکان شته چې یو شی ستاسو لپاره تیار کړي او د بل چا سره په بله طریقه رفتار وکړی. خدای پدې باندې قدرت لري چې هغه زمونږ لپاره د یو کار د کولو او د بل د نه کولو سبب شی. چې باید مونږ یې ونهٔ کړو مونږ باید داسې فکر ونه کړو چې ټول خلک هم هغه کار وکړي کوم چې مونږ سر ته ورسوو. مونږ باید ټول هغه رنګ قبول کړو چې څنګه دی او دا امید ولرو چې خدای به هغوی هدایت کړي. مسیح وویل: "او څنګه چې تاسو د بل میچ کوی، دغه رنګ به ستاسو هم میچ کیږي" (متی ۷: ۲). سربیره پردې دا هم هوښیار کار نه دی چې په خپل قضاوت کې د نورو په نسبت تیز او غصه ناک او تندخوی اوسو. تواضع او عاجزي د نورو خلکو لپاره د محبت د قانون یوه نمونه ده او هر چیرته چې په یوه ټولنې کې حقیقي روح حاکم وي لیدل کیږي.

ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۹- لاندې جملې په غور سره ولولی او خپل ځان سره د هغوی په باره کې فکر وکړی هغه برخه چې په ښه توګه

ستاسو اخلاق او کردار ښرګندوي د (ص) علامه يې تر خوا وليکی:

الف) زه د نورو خلکو د عقايدو په اړوند متواضع حتیٰ تر دې چې زما د نظريې په خلاف هم وي.

ب) د نورو په هکله په تيزۍ سره قضاوت نه کوم بلکې غواړم چې صابره اوسم.

ج) دعا کوم تر څو خدای ما ته دا وښيي چې بايد څه وکړم؟ او پس له هغې دا کوشش کوم چې هغه کار په کولو کې مصروف يم او پوهه شم چې دا کار وکړم، نو سمدستي د هغه کار څخه لاس اخلم.

ذ) هر کله چې نور خلک يو کار په آزاد ډول سر ته رسوي او زه پرې پوهيږم چې خدای ما ته د هغه د کولو اجازه نه راکوي د هغوی د رد عمل څخه نه پريشانه کيږم.

ر) زه دا کوشش نه کوم چې د خپلې عقيدې صحت او يا غلطې دا موضوع نورو ته وړاندې کړم.

۱۱- صحیح جملې مشخصې کړئ:

الف) د هر ډول شرایطو او وضعې په ارتباط چې ورسره مخامخ کیږو د خدای کلام مونږ ته وایي چې باید رفتار څخه استفاده وکړو.

ب) روح القدس د دې توان لری چې مونږ ته ووایي چې کوم شئ غلط او کوم صحیح دی.

ج) ټول هغه مسیحیان باید د هغه مسیحیانو څخه جدا شي چې یو شان عقیده نلري.

د) که چیرې مونږ د نورو په هکله په تیزې او غصه سره قضاوت وکړو، نو خدای به هم مونږ سره داسې سلوک وکړي.

ذ) مونږ باید د هغه مسیحیانو پسې وګرزو چې زمونږ د اصولو په اساس ژوند کوي.

۱۲- په دې درس کې مو د لاندې اصولو څخه کوم یو زده کړی دی؟

الف) مسیحی رفتار

ب) په شریعت عمل

ج) خاکساري او تواضع

# خپل جوابونه مقایسه کړئ

۷- ب)

۱- الف) صحیح

ب) صحیح

ج) غلط

۸- الف) هو

ب) هو

ج) نه

د) نه

ذ) نه

ر) هو

ز) هو

۲- په روحاني لحاظ لوئيږو.

۹- ستاسو انتخابي جواب: آيا تاسو دا ضرورت ګڼي چې خپلې رويې او اخلاق ته په دې هر يوه برخه کې پراختيا ورکړئ؟

۳- مونږ سره مرسته کوي چې په روحاني لحاظ لوئي شو. او هر څومره چې زياد کولی شو چې هغه روح له خپله ځانه منعکس کړو کوم چې په جامعه باندې حاکم دی.

۱۰-هغه کارونه سر ته رسوئ چې د صلح او سلامتۍ سبب کيږي. او يو بل قبول کړئ.

۴- ستاسو انتخابي سوال لاندې ټولې موضوع ګاني: د خدای د هدايت لپاره، د خدای د کلام د پوهيدلو او درک کولو لپاره، زمونږ د ضرورت لپاره، د ټول ايماندارانو مسيحيانو لپاره، د بې ايمانانو لپاره.

۱۱- الف) غلط

ب) صحيح

ج) غلط

د) صحيح

ذ) غلط

۵- الف) لس حکمونه

ب) محبت

ج) هغه سره مینه کوم او غواړو د هغه اطاعت وکړو

د) زړونه

۱۲- ستاسو انتخابي جواب: لاندې جوابونو ته پام وکړئ.

الف) د هغه موضوع ګانو په باره کې چې د خدای کلام خبرې کوي او حکم ئې کړیدی. باید چې د هغه نه اطاعت وکړو د روح القدس څخه وغواړئ چې په هره موضوع کې مونږ هدایت کړی.

ب) مونږ باید په خپل ژوند کې اجازه ورکړو چې زمونږ هدایت کوونکي د مسیح محبت وي نه چې د شریعت یو برخه.

ج) مونږ باید هغه کسان قبول کړو چې زمونږ د نظر په مطابق نه وي او د روح القدس نه وغواړو چې هغوی هدایت کړئ.

۲- ب)

# څلورم لوست

## په ټولنه کې په حقيقت باندې ټينګار

"ډير مهرباني، دا هم ستا پيسې دي." " دا ستاسو حق دی، تاسو ښه خلک يې. ستاسو په شان خلک ډير کم پيدا کيږي."

شايد چې تراوسه مو داسې تجربه حاصله کړې وی. که چيرې يو دوکاندار په غلطۍ سره زياتې پيسې درکړي او هغه بيا بيرته هغه ته ورکړې، نو آيا هغه به نه حيرانيږی آيا تر اوسه پورې تاسو سره داسې کار شوی دی چې په خپل صحيح رفتار مو د مسيحي اعلی اصول بيان کړي وي؟ دا طريقه د هغه روح ښودونکي ده چې په ټولنه باندې حاکم وي. تاسو صادق او ربنتيني ياست.

په دې لوست کې به ووينو چې د رښتيا او د صداقت معنیٰ څه ده. هر کله چې مونږ په حقيقت کې ژوند تيروو. بې له دې فکر نه چې څه به پيښ شي، نو په هغه وخت کې مونږ په ټولنه کې صادق او ربنتيني يو.

### هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولې

په ټولنه کې د خدای په کلام او په حقيقت باندې ټينګار او پابندي.

به ټولنه کې په حقیقت او په رسم او رواج باندې ټینګار او پابندي.
په ټولنه کې په حقیقت او د حکومت په قانون باندې ټینګار او پابندي.

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو چې .......

د حقیقت اهمیت او په هغې باندې ټینګار درک کړې.
دا خبره تشریح کړې چې څنګه کولی شو چې د ادب او ښو اخلاقو په وسیله د مسیحیت لپاره ښه شهادت ورکړو.
دا موضوع تشریح کړې هغه وخت کې چې یو قانون د مسیحي اصولو مخالف نه وي د هغه نه اطاعت کوم مهم دي.

د خدای په کلام او حقیقت باندې ودریدل

"د خدای په ټولو وسلو ځان سنبال کړې د دې لپاره چې تاسو د ابلیس د منصوبو مقابلې ته ټینګ ودریدی شې" (افسیان ۶: ۱۱).

د خدای کلام مونږ ته د یو عسکر مثال را کوي چې د دښمن په مقابل کې ودریږي او هغه وسله چې خدای تیاره کړیده په هغې باندې سنبال شویدی. د ثبات او حوصلې معنیٰ څه ده؟ آیا د یو شي څخه مخالفت او یا د هغه طرفداري او تائید کول دي؟ په ډیرو موضوع ګانو کې د خدای کلام مونږ

تشویقوي چې د ځینې خاصو شیانو په باره کې کلک ودریږو.
مونږ که چیرې په رښتیا سره مسیحیان یو. نو د هغه شیانو څخه به خوشحالیږو کوم چې د خدای پورې اړه لري. غواړو به چې هغه کار وکړو کوم چې صحیح وي. استقامت او کلک ودریدل دا معنیٰ لري چې د هغه کار څخه اطاعت وکړو چې د خدای رضا او اراده وي. ځینې وخت کیدای شي چې د هغه شیانو په هکله ودریږي کوم چې غلط وي.
د خدای د کلام هغه برخه چې پورته بیان شوه مونږ ته د دې خبرې هدایت راکوي چې په وسلو ځان سنبال کړو کومې چې خدای زمونږ لپاره تیاري کړیدي. وسله یو فلزی لباس څخه عبارت ده چې د حفاظت لپاره د هغې څخه کټه اخلي. دلته فکر وکړئ چې د څه لپاره مونږ ته ویل شویدي چې د خدای په وسلو باندې ځان سنبال کړئ. "تر څو د شریر او شیطان ټولې حملې ناکامه کړئ. او په آخر کې کامیاب او په خپلو پښو باندې قوي ودریږي." نو په هغه وخت کې به مو د شیطان نه ماته نه وي خوړلي. د خدای وسلې ستاسو څخه حفاظت کوي. د صداقت زغره، د حقیقت زغره، د حقیقت پیټۍ، د زیري پیزار د شهادت لپاره دی. د خلاصون ټوپۍ د خدای د کلام توره ده. توره صرف د هغې برخې څخه عبارت ده چې د ځان د حفاظت لپاره استعمالیږي تر څو تاسو صحیح مقابله وکولی شئ او با ثباته ودریږئ. دا په

دې معنیٰ ده چې تاسو باید د هغه شیانو نه انکار ونکړي په کوم چې ایمان لري. ودریدل د مقابلي او حوصلي معنیٰ لري. یعني بلکل تصمیم نیول چې نور به غلط رفتار او سلوک ستاسو په مسیحي ژوند کې د ښو اعمالو تعلیم تمرین او د تقویت سبب کیږي. نو کولی شو چې دا رنګ عمل د یو ښه مسیحي عادت په وسیله زده کړو یعني کلیسا ته تلل او تعلیم ته ئې د عمل بڼه ورکړو. تاسو پوهیږي چې همدا اوس کلیسا ته د عبادت د تلو وخت دی او دا کار سر ته ورسوی. دا کار مناسب نه دی چې هر ځل د دې کار لپاره تصمیم ونیسی. دا یو بل عمل ستاسو عادت شویدی ځکه چې د ښو کارونو سر ته رسول به ستاسو لپاره طبعي امر ګرزیدلي وي.

په هر صورت، ځینې وخت د انسان لپاره په کار دی چې د یو کار په خلاف قدم پورته کړي. "د دې لپاره تاسو د خدای وسلې واغوندی، بیا به تاسو د دې جوګه شې چې په بده ورځ کې د مقابلي لپاره ودریږې او ټول کارونه پوره کړې او بیا هم قائم پاتې شې. زه تاسو ته وایم چې مضبوط ودریږې او د حقیقت په پیټۍ ملا وتړې او د صداقت زغره واغوندې" (افسیان ۶: ۱۳- ۱۴).

د دانیال په کتاب دریم باب کې لولو چې پادشاه، یو بت جوړ کړ او حکم یې وکړ چې د بابل ټول اوسیدونکي دې د هغه بت احترام، تعظیم او عبادت وکړي. درې ځوانانو دې

کار څخه انکار وکړ. که څه هم چې هغوی ته دا ویل شوی ؤ چې د دې کار په نه کولو به په اور کې وغورزول شي. د دې سره هم د هغوی په رویه او سلوک کې تغیې او بدلون رانغی او د هغوی دا کار د پادشاه د ناراحتي سبب وګرځید او امر یې وکړ چې اور څو چند زیات کړی. او دغه ځوانان په خپل ایمان کلک ودریدل او په کې هیڅ بدلون رانغی. او هغوی د اور داش ته وغورزول شول. او داسې ښکاریده چې دوی به غیر د کوم شک نه مړه شي. خو خدای دا اجازه ورنکړه چې هغوی مړه شي. او اور هغوی ته هیڅ ضرر ونه رساوه او دا کار د پادشاه او د هغه د درباریانو د خیرانتیا سبب شو. پس زما حکم دا دی: "د هر نژاد او قوم او ژبې خلک که د شدرک او میشک او عبدنغو د خدای په ضد څه ووایي، ټوټه ټوټه به شي او کور به ئې خراب شي، ځکه چې بل هیڅ خدای د دوی د خدای په شان خپلو بنده ګانو ته خلاصون نشي ورکولی" (دانیال ۳: ۲۹). دا ځوانان په خپله عقیده باندې مستحکم ودریدل، هغوی د دې کار په هکله فکر نه کاوه چې څه به کیږي. د هغه بت عبادت ئې قبول نکړو. دا درې ځوانان دې کار ته تیارؤ چې وسوزیږي خو د هغه بت عبادت یې ونکړو. آیا تاسو هم د خدای خدمت لپاره داسې پریکړه کړیده؟ د دې درې کسانو استقامت او ثبات د دې خبرې سبب شو چې پادشاه او د هغه کسان د هغوی د خلاصون د خدای د لویی او عظیم قدرت شاهدان شي.

ستاسو ایمان باید ستاسو د ټول زړه څخه وي. تاسو باید د هر څه نه زیات د خدای د خدمت لپاره مشتقانه او لیواله اوسئ. هر کله چې ستاسو ملګري ستاسو محبت، حوصله د هغه څه په هکله کوم چې صحیح ده، ووینی. نو ستاسو احترام به کوي او ستاسو په ژوند کې به د خدای د قدرت څخه خبر شي. هر کله داسې عوامل د دې سبب کیږي چې تاسو د خپل ژوند د ځینو برخو څخه انکار وکړئ، نو په دې وخت کې قاطع تصمیم ونیسي او په هغه خبره چې رښتیا او حقیقت وی کلک ودریږئ.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- با ثبات او کلک ودریدل د هر هغه شي په مقابل کې مخالفت په معنیٰ دی چې:

الف) د کلیسا د طریقو څخه نه شروع کیږي.

ب) د مقدس کتاب د تعلیم په ضد وي.

۲- مناسبه حوصله او ودریدل دا دی چې مونږ:

الف) همیشه د یو کار مخالف اوسو.

ب) غالباً د یو کار سره موافق اوسو.

۳- د هغه درې ځوانانو قصه چې د دانیال په ۳ باب کې راغلي ده دا راکوي چې:

الف) د انسان نه زیات د خدای اطاعت وکړو.

ب) حاکمانو او د اختیار خاوندانو چې زمونږ نه هره تقاضا وکړه باید د هغې نه سر غړونه ونکړو.

۴- مونږ به په خپل ژوند کې د حوصلي او کلک ودریدو څخه هغه وخت باخبره یو هر کله چې مونږ:

الف) د خدای د کلام اطاعت وکړو، حتی په هغه وخت کې چې د هغوی نه اطاعت کول آسان هم نه وي.

ب) هغه کار کوو چې لږ سر خوږي منځ ته راوړي.

## په حقیقت او په رسم او رواج باندې ودریدل

رسم او رواج، هغه عقیدی دي چې د یو نسل نه بل نسل ته انتقالیږي، یعني د پلار نه اولاد ته پاتي کیږي. که څه هم دا رواجونه کله نا کله نه لیدل کیږي، مګر د ټولنې خلکو لپاره ډیر د اهمیت نه ډک وي. ډیر رسمونه او رواجونه ګټور دي او د خلکو سره دا مرسته کوي چې وروستي تاریخ ورته یاد وي. ځینې رواجونه مسیحیانو ته یو اشتباه او سهوه وي. کله دا هم امکان لري چې رواج مونږ داسې کار ته اړ باسي

چې د خدای د کلام په خلاف وي. په داسې حال کې باید مونږ هغه خبرې باندې ودریږو کومه چې صحیح وي.

د مثال په توګه د نړۍ په ځینې ځایونو کې دا رواج دی چې د هغوی خپلوان مړه شوي وي د هغوی ډیر احترام کوي. دا موضوع په خپله کومه سهوه او اشتباه نده. مونږ باید هغه خپلوان مو چې مړه شوي په ډیر عزت او احترام سره یاد کړو. او دا یادونه باید دومره حد ته ونه رسیږي چې حتیٰ د پرستش ځای ونیسي. هر کله چې مونږ د خپلو نیکونو پرستش او یادونه کوو، نو په حقیقت کې د خروج ۲۰: ۳ نافرماني کوو.

د خدای حکم ته پاملرنه وکړۍ: "ته باید غیر زما نه د نورو خدایانو عبادت ونه کړې؟" چې مړۀ شول نور هغوی زمونږ په منځ کې نشته دي. مونږ باید هغوی خدای ته وسپارو. مونږ باید په داسې شکل سره ژوند وکړو. هر کله چې د مرګ سره مخامخ شو نو باید د خپل روحاني وضعیت او حالاتو څخه مطمئنه اوسو د لاتیني امریکا په ځینې ځایونو، کې رواج دی چې تقریباً ۱۵ کلنو ځوانانو لپاره یو خاص رسم او رواج دی او د دې په مطابق یو خاص جشن جوړوي. او خاص احترام دوی ته ور کوي. د دې کار په سبب کله داسې واقعه وشي چې د خدای خوشحالۍ سبب نه ګرځي. اوزف یو مسیحي دی چې ډیر زر به یې لور ۱۵ کلنه شي. دا رواج چې د دې موضوع په خاطر خلک یو خاص لوي جشن

جوړوي په داسې حال کې که چيرې اوزف دا عمل سر ته ونه رسوي نو د هغه لور به مايوسه شي. اوزف يو کور اجاره کړ او د مسيحيانو هغه ډير ورونه او خويندې چې سرودونه وايې هغوی ته ئې ميلمستيا ورکړه. هر څه ډير ښه سر ته ورسيدل. لور يې ډيره خوشحاله شوه. او د شهادت ورکولو لپاره وخت راورسيد يو فرصت جوړ شو. نو په همدې ترتيب اوزف خپل رسم او رواج د مسيح په هکله د شهادت ورکولو لپاره استعمال کړ.

ستاسو کار

**هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوئ**

**۵**- رسم او رواج عبارت دی له :

الف هغه عقايد او رواج چې د پلار نه اولاد ته نقليږی.

ب) د يو کورنئ ليکل شوی قانون چې بايد هغه مراعات شی.

**۲** - مسيحيان بايد.

الف) کوشش وکړئ چې داسې لارې پيدا کړئ چې د آدب او رواجونو په ذريعه د شهادت ورکولو لپاره لار جوړه کړئ.

ب) د خپلې ټولنې او دود دستور سره هیڅ کار ونلري.

۷- الف) د خپلو عنعناتو او رواجونو نه د یو نوم واخلۍ.

ب) آیا داسې لاړ شته چې ستاسو مسیحي شهادت ته بې له کومې صدمې نه هغه دود او دستور وساتي؟ لطفاً هغه تشریح کړۍ.

ج) آیا ستاسو پو ټولنه کې داسې دود او رواجونه شته چې د یو مسیحي په صفت هغه ستاسو لپاره مناسب نه وي، تاسو کوم کار د هغوی په مقابل کې کولی شۍ؟

## په حقیقت او حکومتی قانون باندې ودریدل

حکومتونه او قدرتونه د خدای له طرفه مونږ ته راکړ شوی دي. د اول تیموتیوس ۲: ۱- ۲ کې مونږ ته حکم شویدی چې د حکومت او د حکومت د خاوندانو لپاره دعا وکړو. نو هر کله چې مونږ هغوی ته دعا کوو، نو خدای هغوی سره مرسته کوي تر څو د برکت سبب شی.

مقدس کتاب هم مونږ ته تعلیم راکوي چې هغه قانون چې وضعه او اعلانیږي باید د هغوی څخه احترام او اطاعت وکړو. د تیطوس په ۳: ۱ کې لولو چې: "خپلو خلکو ته دا وریاد کړه چې د حاکمانو او د اختیار د خاوندانو

فرمانبرداري دې کوي او د هغوی حکم دې مني او د هر ښه کار لپاره دې تيار ولاړ وي." يو مسيحي بايد د حکومت او د ملک د قانون اطاعت وکړي که څه هم هغه قانون په شخصي لحاظ د هغه مخالف وي. مګر نه دا چې د مسيح د تعليم او د خدای د کلام په خلاف اوسي. د حکومت د کارونو څخه يو دا دی چې د رخصتي ده. ډيرې رخصتي د يو مالک د مذهب او عقيدي په لحاظ تعين شوي وي. ځينې وخت جشنونه دوام پيدا کوي او د مسيحيانو لپاره خاص ورځ نه وي اجازه مه ورکوۍ چې دا موضوع ګانی ستاسو ته تشويش سبب شي.

تاسو کولی شۍ چې د خدای د کال هره ورځ محترمه وګڼي. هر کله چې رخصتي راشي، نو وخت غنيمت وګڼۍ او آرام وکړۍ او د خدای شکر ادا کړۍ چې خپل نور يې ستاسو په زړونو کې اچولي دی.

په ځينې ځايونو کې رخصتي يو مناسب وخت مسيحيانو ته وړاندې کوي او خلک په سرکونو کې ګرځي. مسيحي ادبيات لولي. که چيرې تاسو ته په هغه ځای کې چې ژوند کوۍ داسې اجازه درکړی شي. په رخصتيانو کې د مسيحي ادبياتو نشر او شهادت ورکول جاري وساتي شايد چې داسې يو کور وي چې په عمومي ډول هلته د خدای د کلام زيری واوروۍ. د هغه رخصتۍ ورځې چې د مسيحي رخصتۍ څخه نه وي، نو هغه د خدای په هکله په شهادت

ور کولو کې تیره کړی. ځینې وخت دا هم مناسب دي چې په خپلو نقشو او خطونو هم وزن برابر کړو. تر څو د حکومت قانون هم مراعات کړو.

د مثال په توګه په یو ملک د یکشنبې په ورځ یوه سیاسي خپرونه تیاروی او د ټولو خلکو څخه خواهش کوی چې هغې کې شرکت وکړي. کلیسا هم باید په هغې کې شرکت وکړي. په داسې شرایطو او حالاتو کې کلیسا ته څه کول په کار دي؟ د خدای عبادت صرف د یکشنبې د ورځې پورې نه محدودیږي. ډیرې کلیسا ګاني خپلې خپرونې د شنبې په مازیګر اجرا کوي. په همدې ترتیب هم قانون مراعات کیږي او هم مسیحیان د خدای د عبادت لپاره خاص ورځ لري.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی**

۸- قانون باید اطاعت شي:

الف) د رسم او رواج په مطابق.

ب) مګر دا چې د خدای د کلام مخالف وي.

۹- رسمي رخصتي باید:

الف) هغه وخت چې یو مذهبي دلیل ولري باید وساتل شي.

ب) د مسیح په هکله د شهادت ورکولو فرصت دی وګڼل شي.

۱۰- هر کله چې د حکومت خپروني، د کلیسا خپرونو باندې تاثیې کوي مسیحیان باید:

الف) تر کومه ځایه پورې چې امکان لري د حکومت سره مرسته وکړي.

ب) د حکومت د انتظاماتو دې هیڅ پاملرنه نه کوي.

که چیرې مونږ غواړو چې زمونږ مسیحي شهادت دې په خپله ټولنه کې مؤثر واقع شي. نو باید په هغه شي باندې ودریږو کوم چې صحیح او رښتیا وي. تر کومه ځایه پورې چې امکان لري باید ښه ښاریان او وظیفه پیژندوکی او د خپل حکومت او رهبرانو قدر کوونکي اوسو. هر کله چې د حکومت مقررات د مسیحیت خلاف وي باید چې دعا وکړو او د خدای څخه حکمت وغواړو چې باید څنګه رفتار وکړو. نو باید چې کوشش وکړو چې په خپل خدای باندې ټینګ ودریږو او خپل راتلونکی ژوند د هغه لاس ته وسپارو په هغه وخت کې به ستاسو شهادت د عظیم خدای لوی قدرت نورو خلکو ته ښکاره کړي.

**خپل جوابونه مقایسه کړئ**

**۶- الف)**

**۱- ب)**

**۷- الف، ب، ج: ستاسو انتخابي جواب: آیا دې خبرې ته متوجه شوي یې چې مونږ باید د هغه رواج په خلاف ودریږو کوم چې د خدای خوښ نه وي؟**

**۲- ب)**

**۸- ب)**

**۳- الف)**

**۹- ب)**

**۴- الف)**

**۱۰- الف)**

**۵- الف)**

# په ټولنه کې ارتباط جوړول

دوه کسانو یوه کنده کنستله. یو سړی چې په هغه لاړ باندې تیریدو د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه. "صاحبه! تاسو په دې بیل باندې څه کار کوئ؟" "زۀ یوه کنده اوباسم." "تاسو څه کوئ صاحب؟" "زۀ یوه ښه مدرسه جوړوم."

آیا تاسو د دې دوه کسانو د خبرو په انداز کې په فرق باندې پوهه شوئ؟ یو د هغوی نه چې ډیر سخت کار یې کولو په هم هغه وخت کې یې د خپل کار اخر او نتیجه نه لیدله. هغه بل کس آینده لیدله. هغه یوه ښکلي مدرسه لیدله چې په هغه ځای کې باید جوړه شي. آیا تاسو د هغه اول کس په شان یې او که د دویم په شان؟ آیا یوه مدرسه وینئ او که صرف د یوې کندې کنستل وینئ؟ پدې لوست کې به ولولو چې باید په هغه بنیاد چې په هغې باندې کور آباد کړو. او دا چې څنګه کولی شو چې په هغې باندې بنیاد جوړ کړو خدای دې وکړي چې مونږ هم په خپله ټولنه کې یو شروع کونکی شخص اوسو.

**هغه څه چې تاسو به یې پدې لوست کې ولولی**

**په صحیح بنیاد باندې آبادول**

**د یو بل په وسیله آبادول**

**د پلونو جوړول**

**دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو ....**

**هغه بنیاد چې باید په هغې ځای باندې آبادی وکړلی شی وپیژنی.**
**د ودانی اهمیت د ټولو ایماندارانو په وسیله تشریح کړی.**
**د پلونو جوړولو او دیوالونو جوړولو تر منځ فرق تشریح کړی.**

## په صحیح بنیاد باندې آبادي

ستاسو روحاني ژوند د یوې ودانی سره ډیر ورته والی لري. هر یو لوی کور باید یو قوی بنسټ ولري. تهداب او بنسټ په حقیقت کې د ټول کور څخه دفاع کوي. که چیرې بنیاد نه وي، نو کیدای شي چې کور وغورزیږي. مسیحي ژوند هم داسې دی. ستاسو هغه حاکم روح په ټولنه کې باید په هغه مضبوط او قوی ګټ باندې چې عیسی مسیح دی بنیاد وي. هغه ستاسو د ژوند بنسټ او اساس دی. "نو د هغه کار به ښکاره شي ځکه چې د قیامت په ورځ به د اور سره

راڅرګند شي. نو هغه به هغه کار راڅرګند کړي او هغه اور به په خپله د هر يو کار و آزمائي چې څنګه دی" (اول کورنتيان ۳: ۱۱). د روحاني ترقي لپاره د مقدس کتاب بنياد ضرور دی. د متی ۷: ۲۴- ۲۷ مسيح د هغه دوه کسانو په باره يوه قصه بيان کړه چې يو کور ئې آبادولو. يو د هغوی څخه خپل کور په ګټ باندې آباد کړو چې ښه بنياد او بنسټ ئې درلود. او بل خپل کور په شګو باندې آباد کړ. بې لدې نه چې يو ښه او قوي بنسټ او اساس ولري. کله چې باد او باران راغی هغه کور چې په شګو آباد شوی وو راپريوتو، .ولی هغه کور چې بنيار يې په ګټ باندې آباد شوی وو تر آخره پورې پاتي شو. پدې لوست کې مسيح وايې چې هغه هوښيار سړی چې خپل کور ئې په ګټ باندې آباد کړ، د هغه چا په مثال دی چې د خدای د حکمونو څخه اطاعت کوي. هغه ګټ چې په هغې باندې هغه کور جوړ کړ په حقيقت د مسيح تعليم څخه پيروي کول دي. هغه کس چې خپل کور ئې په شګو باندې آباد کړ د هغه چا په مثال دی چې په حقيقت کې د مسيح د تعليم څخه پيروي نه کوي. شګه او خاوره چې په هغې باندې ئې هغه کور جوړ کړ په حقيقت کې د مسيح د تعليم څخه نافرماني ده. نو په همدې ډول مونږ په مسيح ايمان لرو او د هغه د حکمونو څه تابعداري کوو مسيح وويل "هر هغه څوک چې ما ته مالک مالک وائې هغه به د آسمان په بادشاهۍ کې داخل نه شي،

خو صرف هغه څوک چې زما د آسمانی پلار په رضا کار کوي" (متی ۷: ۲۱).

تاسو په خپل ژوند کې یو قوي بنیاد او بنسټ ته ضرورت لري د دې لپاره چې هر کله چې طوفانونه منځ ته راشي، چې ستاسو څخه حفاظت وکړي. دا طوفان په مختلفو طریقو زمونږ په ژوند کې داخلیږي: لکه یو له دوستانو له مرګ، مریضي، یا د موقف او کار د لاسه ورکول او یا وسوسه. هر کله چې زمونږ ژوند د خدای د اطاعت او پیروی په بنیاد آباد شوی وي. نو په هغه وخت کې به زمونږ وجدان آرام وي او اطمینان لرو. چې د طوفان د شروع په وخت کې به هغه مونږ سره مرسته وکړي. په اول یوحنا ۳: ۲۱- ۲۲ کې داسې لولو: "خوږو دوستانو! که چیرې زمونږ زړهٔ مونږ نه ملامتوي نو بیا مونږ د خدای په مخکې باور لرو. او څه چې ترې غواړو هغه ئې راکوي، ځکه چې مونږ د هغهٔ په حکمونو عمل کوو او څه چې هغه خوښوي هم هغسې کوو." صرف هغه ایمان او بنیاد چې په مالک او په کلام کې یې لرو قادر دی چې مونږ د مشکلاتو او تکلیفونو په وخت کې محفوظ وساتي. آیا مسیح ستاسو د ژوند بنیاد او شروع دی؟ آیا تاسو د هغه د کلام څخه اطاعت کوی؟

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- لاندې جملې پوره کړئ.

الف) که چیرې قوي ............ وجودونه لري کور به وغورزیږي.

ب) هغه کسان خپل کور په ګټ باندې آبادوي څوک چې د مسیح د تعلیم څخه ............

ج) هغه کور چې په شګو باندې آباد شوی وی د طوفان په وخت کې ............

د) هغه بنیاد او بنسټ چې په هغه باندې باید خپل ژوند شروع کړو عبارت دی له ..............

۲- د هغه وخت نه مو چې مسیح د خپل ځان د خلاصونکي په حیث قبول کړیدی په نظر کې ونیسئ. آیا کولی شئ چې په پوره اطمینان سره ووایي چې په دومره وخت کې مو د هغه په اطاعت او فرمانبرداری کې وخت تیر کړیدی؟ نو په هغه وخت کې که چیرې ستاسو جواب د پورتنې سوال په مقابل کې مثبت وي، نو په حقیقت کې مو خپل ژوند په قوي بنیاد باندې شروع کړیدی او که چیرې ستاسو جواب منفي وي نو د خدای څخه وغواړئ

چې هغه ستاسو سره مرسته وکړي چې د هغه نه اطاعت وکړئ.

## د یو بل سره په شریکه جوړول

پس له دې چې بنیاد کیښودل شو، نو په هغه وخت کې کولی شو چې کور پرې جوړ کړو. یعني هغه کار چې په آینده کې به ولیدل شي. مونږ یوازې د خدای عمارت او کور نشو جوړیدلي. بلکه د عیسی د کلیسا څخه یوه برخه شمیرل کیږو. یعني دا چې ټول ایمانداران په شریکه سره یو کور منځ ته راوړي. چې بنیاد ئې عیسی مسیح دی. مقدس کتاب مونږ ته وایي چې: "تاسو هم د ژوند کاڼو په شان د خدای روحاني کور جوړ شئ چې د کاهنانو مقدسه فرقه په جوړیدو داسې روحاني قربانۍ پیش کړئ چې د عیسی مسیح په وسیله خدای ته قبولي وي." (اول پطروس ۲: ۵) او په افسیانو ۲: ۲۰- ۲۲ کې داسې لولو: "او د رسولانو او نبیانو په بنیاد تاسو ودان کړی شوي یئ چې د ګوټ سر کاڼی په خپله مسیح عیسی دی. مسیح په خپله د هغې ماڼۍ هره یوه حصه یو ځای ساتي چې په رب کې یو پاک کور جوړ شي. نو تاسو هم د هغه په یووالي کې د نورو سره د خدای یو داسې کور جوړیږئ چې په کوم کې خدای د خپل روح په وسیله اوسیږي." مونږ ټول په هغه روحاني کور کې کاڼي یو. د خدای کتاب مونږ ته په ډیرو ځایونو کې د یو بل

سره د رابطي په باره کې درس راکوي. لاندې د پولوس رسول نصیحتونه دي چې بعضې کلیساګانو لپاره لیکل شوي دي: "ستاسو د خلې نه دې هم یوه خرابه خبره ونه شي بلکه هغه ښه خبره چې د ضرورت په مطابق د ترقۍ لپاره غوره وي، د دې لپاره چې د هغې له مخې د هغې په آوریدونکو فضل کیږي" (افسیان ۴: ۲۹). "او هر یو په بل مهربانه اوسۍ او یو تر بله نرمې کوۍ، او لکه چې خدای په مسیح کې ستاسو ګناهونه معاف کړل، تاسو هم یو بل معاف کوۍ" (افسیان ۴: ۳۲). "نو بیا چې څومره موقع په لاس درځي، د تولو سره نیکي کوۍ، خاص د ایماندارانو سره" (ګلتیان ۲: ۱۰). "او د دې نه سوا تاسو په خپلو کې مینه وساتۍ چې تاسو په کامل طور د یو بل سره یو کړي" (کولوسیان ۳: ۱۴).

د دې آیاتونو څخه معلومیږي چې ایمانداران په یوه ټولنه کې د یو بل په مناسب ډیر زیات او غټ مسئولیتونه لري. د ایماندارانو په منځ کې باید د هر څه نه زیات هغه روح چې په ټولنه باندې حاکم دی یعني د عبادت، یووالي، شراکت، محبت، ساتني او فکر بخښني میلمستیا او داسې نور لیدل کیږي. په لمړۍ کلیسا کې داسې روح حاکم وو. "په هر چا ویره وه او د رسولانو ډیر عجیبه کارونه او نخښې څرګندې شولي. او ټولو ایماندارانو په یوه رای ژوند تیرولو او په هر څه کې شریک وو. او هغوی خپل مال، اسباب

خرڅولو او هر چا ته ئې د حاجت په مطابق پیسي ویشلي. هغوی به هره ورځ په یو زړه د خدای په کور کې راجمع کیدل او په کورونو کې به ئې په شریکه ډوډۍ ماتوله او خپل خوراک به ئې په خوشحالۍ او په صفا زړۀ سره شریکولو. هغوی د خدای ثنا وئیله، نو ټول خلق ترې راضی وو او هره ورځ څومره خلکو چې خلاصون موندلو، نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول" (اعمال ۲: ۴۳- ۴۷).

هر کله چې یوه ټولنه کې د جوړولو او آبادولو په کار کې د یو بل سره مرسته کوو، بایدچې بخشش قبلونکي او عاجز خویه او زما مقصد د تغیراتو د قبلولو څخه ندی عاجز خویه هغه سړی دی چې کولی شي چې د نورو د مرستي لپاره په هر وخت کې خپل ځان مناسب او همکار کړي. د مثال په طور هغه ملګري چې د هغه سره مو د مسیح په هکله خبرې کړي دي تاسو څخه هیله لري چې د یکشنبې په مازیګر هغه سره باغ وحش ته لاړ شي. مګر ستاسو دا عادت دی چې د یکشنبې په مازیګر کلیسا ته لاړ شي، نو پس بیا تاسو خپلو دوستانو ته خواست کوی چې د لړ وخت لپاره به د یکشنبې په مازیګر باغ وحش ته لاړ شو او بیا به کلیسا ته لاړ شو. نو په دې طریقه تاسو د خپلو دوستانو سره یو بې ضرره او بې نقصه شراکت لرۍ او د هغوی د خوشحالۍ سبب شوي یۍ. او هم تاسو د مسیح طرف ته د هغوی د هدایت چانس لرۍ.

که چیرې مونږ وغواړو چې زمونږ ټولنه دې په مسیح باندې ایمان ولري نو باید د هغوی لپاره دې یوه نقشه او پلان ولرو. او باید زمونږ ټول پلانونه دې همیشه د روح القدس د هدایاتو په نسبت پراخه او د قبلولو وړ وي او که چیرې روح القدس وغواړي چې هغوی ته تغیر ورکړي، نو هغه ته د دې کار اجازه ورکړو.

د سئول ښار چې د کره په هیواد کې واقع دی د ۸ میلونو نفرو په اندازه کې نفوس لري. پدې ښار کې کلیسا وجود لري چې ټول غړی یې په یوه هفته کې تقریباً د ۴۵۰۰۰ کسانو خدمت کوي. په خو د هغه کلیسا تعمیر د دومره خلکو ځای نلري. خو سره له دې هغوی زده کړي چې د خلکو د ضرورت په مطابق څنګه خپل ځان عیار کړی.

د سئول په ښار کې رواج دی چې خلک د ښار په مختلفو برخو کې د هر رنګه مجلسونو لپاره په کوچنیو کورونو کې را ټولیږي. هره برخه یو خپل رهبر لري چې د هغوی سره ملاقات کوي. د کلیسا شپون هم دې کلیسا ته راشي. نو په حقیقت کې شپون کلیسا د خلکو منځ ته نقل کړیده. او خلکو د احتیاجاتو د لري کولو لپاره ئې د خپل ځان څخه لاس مینځلي دی. که چیرې درې کسان د دغه ښار په یوه برخه کې ژوند کوي، نو د یوه کس کور به د کورنیو مجلس لپاره خلاص وي. هغوی ملګرو او ګاونډیانو ته بلنه ورکوي او هر کله چې یو کس مسیح قبلوي، نو د خپلی ډلۍ سره

يې شاملوي او په دې طريقې سره ترقي کوي. هر کله چې د هغوی شمار ۱۲ کسانو ته ورسيږي نو بيا په يوه ډله تقسيميږي. تر اوسه پورې په سلګونو کوچنۍ ډلې د سئول په ښار کې وجود لري چې هره هغه د ۴۵۰۰۰ کسانو لپاره خدمت کوي.

نو مونږ کې ډيرو ورونو او خويندو دا خبره هيره کړيده چې کليسا په حقيقت کې يو تعمير نه دی بلکه په خپله ايمانداران دي. دا ډير مهم کار دی چې د يو بل سره د خدای عبادت وکړو. خو دا خبرا هم ضروري ده چې بايد د ضرورت په وخت کې ټولو خلکو ته چې هر چيرې چې وي د انجيل د رسولو لپاره تيار اوسو، او د خپل ځان څخه خود ګزري وښايو.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۳- د هغه شپږو رویو نومونه واخلئ چې باید مونږ یې د نورو خلکو سره ولرو.

۴- په دې رویو کې چې هر یوه لاژمه ګڼئ چې هغه په خپل ځان کې عملي کړئ، تعین یې کړئ.

۵- په خپله رویه کې تغیر راوستل یعني د هغه کار سر ته رسول:

الف) په لمړنیو اهدافو کې تغیر راوستل

ب) په لمړنیو اهدافو کې د تغیر راوستلو له طریقې څخه.

۶- که چیرې تاسو غواړئ چې د یو کس په مسیح باندې د ایمان راوړلو سبب شی نو باید:

الف) انتظار وکړئ تر څو هغوی کلیسا ته راشي.

ب) په هر ځای کې چې یې د شهادت ورکولو لپاره وخت منځ ته راولئ.

۷- د تغير او تبدیل روح یو ........ وي.

الف) خود خواه

ب) عاجزي

## د پلونو جوړول

د کلونو را په دې خوا د پلونو د جوړولو لپاره د خښتو او ډبرو څخه کار اخستل کیږي. هماغه خښتې او ډبرې چې د کلیسا، مکتبونو او شفاخانو په جوړولو کې ترې کار اخیستل کیږي نو هم د بندیخاني په جوړولو کې هم ورځنې کار اخیستلای شو. هغه ډبرې چې د پلونو جوړولو لپاره استعمالیږي، نو کیدای شي چې د دیوالونو په جوړولو کې هم ورځنې کار واخلي فرق صرف د جوړولو په نقشه کې وي. پلونه دا امکانات برابروي چې خلک د دوه اړخونو څخه تیر شي د کوم ځای نه چې بې له پل نه تیریدل مشکل وي. پلونه په حقیقت کې د یوې جامعي د مفهوم او مرام بیانونکي وي. دا د خلکو د را ټولولو یوه طریقه وي. که چیرې مو په یاد وي لکه څنګه مو چې په لمړینو لوستونو کې د "کونینونیا" معنیٰ ولوستله یعني دوه اړخیزه ارتباط. یعني ارتباط د ورکړي راکړي په هکله. مونږ کولی شو چې پلونه او دیوالونه بې له خښتو او سمنټو څخه جوړ کړو. مونږ کولی شو چې د مینې محبت او دوستې له مخې د نورو

خلکو سره چې مونږ ته احتیاج لري مرسته وکړو او په دې طریقي سره کولی شو چې پلونه جوړ کړو. او یا د ملګرتوب د لري کیدلو په وسیله او د خپل ځان د نورو څخه د جدا کولو په وسیله دیوالونه جوړ کړو. مسیحیان باید کوشش وکړي چې په ټولنه کې د هر قسمه خلکو سره ملګرتوب ولري. هر کله چې مونږ خپل ځان د نورو خلکو څخه ښه ګڼو په حقیقت کې دیوالونه جوړو. همدارنګه هر کله چې د هغه خلکو سره چې زمونږ څخه په اجتماعي لحاظ سره اوچت دي او د هغوی څخه ډډه کوو نو بیا هم دیوالونه جوړوو. دا فرق نه کوي چې تاسو یو دهقان، کارګر او یا حکومتې مقام ولري. تاسو کولی شي چې په جامعه کې د هر قسمه خلکو سره ملګرتیا ولري. نو بیا کوشش وکړئ چې هغوی د مالک خدای سره آشنا کړئ تر څو توبه وکړي. زه په اول کې د یو سړي سره ملګری کیږم او بیا هغه د مسیح په لور هدایت کوم.

دیوالونه خلک د یو بل نه جدا کوي. کیدای شي چې تاسو د چین د لوی دیوال په هکله لوستلي وي چې ډیر پخوا جوړ شوي دی او تر اوسه پورې ځای په ځای دی. دا دیوال د دې لپاره جوړ شو چې د چین خلک د نورو ټولو خلکو نه جدا وساتي تر څو د جنګ په وخت کې د هغوی نه محافظت وکړی. په حقیقت کې د دیوال جوړل د پلونو جوړولو څخه زیات امنیت لري. ځکه هر کله چې مونږ پل جوړو امکان

لري چې نور خلک مونږ ته صدمه ورسوي او قبول مو نه کړي. مګر مسیح مونږ سره وعده کړیده چې هغه به زمونږ سره وي او هر کله چې د نورو خلکو په لټون کې شو نو هغه به برکت راکړي. د یوحنا په انجیل ۱۲: ۳۳ آیات کې مسیح داسې فرمایي: "....... خو زړه ور شی ځکه چر زه په دنیا غالب راغلی یم!" مسیح داسې دعا ونکړه چې خدای مونږ د دې دنیا څخه بوځي، بلکه دا چې هغه تل مونږ سره په دې دنیا کې اوسي او زمونږ حفاظت وکړي.

ځنې وخت له دې لپاره چې د نورو خلکو سره وکولی شو ارتباط ولرو، نو لازمه ده چې دیوالونه له منځه ولاړ شي. د دې دیوالونو د موجود دي لکه د هغوی د اجتماعي، سطحي، نژادي، رنګ، ادب او عمر له لحاظه. مسیح په هغه زیری کې چې د یعقوب د څاه په سر باندې هغې سامری ښځې ته ورکړ نو له دې دیوالونو څخه یې ځینې له منځه یوړل (انجیل یوحنا ۴: ۷- ۱۹).

مونږ باید په مسیحي جامعه کې یا چې د دې نه لویه وي یعني په ټوله نړۍ کې دا تصمیم ونیسو چې آیا غواړو چې دیوالونه جوړ کړو او یا پلونه. آیا تاسو دیوالونه جوړوي او که پلونه؟ آیا تاسو خپل هغه واقعي مینه او محبت خپلې ټولنې ته ورښایي؟ آیا تاسو مخکې له دې نه چې د یو کس د خلاصون سبب شي چې په مسیح ایمان راوړي هغه سره د دوستي اړیکي جوړوي؟ هغه وخت چې تاسو په محبت سره

د نورو خلکو خدمت کوی، ستاسو ټولنه، د هغه روح واقعي مقصد چې په یوه ټولنه باندې حاکم وي درک کوی.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۸- د لاندې جملو په خوا کې که چیرې هغه عمل وي چې د دیوال جوړولو سبب کیږي "د" او که د پل جوړولو سبب کیږی "پ" ولیکی:

الف) د هغه کس پالنه چې مریض وي.

ب) د یو سړي کلیسا ته بوتلل.

ج) د هغه کسانو د خواست څخه سترګې پټول چې ستاسو څخه غواړي چې په یو مضمون کې د هغوی سره مرسته وکړی.

د) هغه څوک چې بیمار دی د هغه کور پاکول.

ذ) د هغه خلکو پوښتنه کول چې په شفاخانو او بندیخانو کې دي.

ر) د هغه کسانو څخه فاصله نیول چې ستاسو د ټولنې په سطحه کې برابر نه دي

ز) د یو کس بلنه خپل کور ته.

س) د هغه خلکو سره خبرې کول چې احساسات يې صدمه رسونکي شوي وي.

مونږ ګورو چې تاسو اوس پنځه لمړي لوستونه، ولوستل. نو کولی شی چې د امتحان لمړی برخې ته جواب ورکړی. د لمړی لوست نه تر پنځم لوست پورې درسونه بيا تکرار کړی او بيا پورتنې امتحان ته جواب ورکړی.

## خپل جوابونه مقايسه کړی

**۵- الف)**

۱- الف)

ب) اطاعت کوی

ج) لاندې به وغورزيږي

د) عيسی مسيح

۶- ب)

۲- ستاسو انتخابي جواب

۷- ب)

۳- احتمالي جوابونه عبارت دي له: بخښلو، صبر، عاجزی، خاکساری، بخښل، زړه سواندی، محبت او مهربان زړه څخه.

۸- الف) پ

ب) پ

ج) د

د) پ

ذ) پ

ر) د

ز) پ

س) د

۴- ستاسو انتخابي جواب: تاسو سره به روح القدس مرسته وکړي تر څو د خبرو کولو صحیح طریقې ته په خپل ځان کې رشد ورکړی.

شپږم لوست

# د مسیح او د هغه د ټولنې څخه تعلیم اخستل

یو مور د خپل کوچني زوی سره د خبرو په حالت کې ده:

"موری، کله چې مسیح کوچنۍ هلک وو، تاسو چیرې اوسیدلې؟"

"څه شی، په هغه وخت کې زه ژوندۍ نه وم، زویه. مسیح ډیر پخوا تیر شوی دی. تقریباً ۲۰۰۰ کاله مخکې په دې نړۍ کې ژوند کاوه."

" ښه، ما فکر کاوه چې کله ته کوچنۍ وې مسیح په هغه وخت کې ژوند کاوه، ځکه چې تل د هغه په باره کې خبرې کړې."

دا ډیره ښه خبره ده چې یو سړی په دې نوم باندې وپیژندل شي چې همیشه د مسیح په هکله خبرې کوي. دا خبره په پوره ډول روښانه ده چې مونږ د هغه شي په باره کې چې ورسره ډیره مینه لرو، نو ډیرې خبرې کوو.

په دې لوست کې به مونږ د مسیح د کوچنیوالي حال، او هغه تاثیر چې هغه د خپل ژوند په وخت کې درلود او کوم تاثیر چې اوس لري ولولو. هغه لوی استاد چې تر اوسه پورې موجود دی. د مسیح څخه چې څومره ډیره تابعداري او پیروي وکړو نو دومره د دې باعث کیږو چې د هغه په شان کیږو.

هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

د مسيح د ماشوموالي وخت

د ټولنې سره د مسيح اړيکي

د اړتياوو لريکول

د حاکميت قبلول

د مسيح په ټولنه باندې اثر

دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو ....

دا خبره بيان کړئ چې مسيح په کومې رويې سره هغه روح چې په ټولنه باندې حاکم وي ښکاره کړو.
هغه اثر چې مسيح د خپل وخت نه تر اوسه پورې په نړۍ باندې درلود بيان کړئ.
داسې ارزو ولرئ چې تاسو په خپله ټولنه کې داسې اوسي لکه څنګه چې مسيح وو.

د مسيح د کوچنيوالي دوره

هر کله چې مسيح کوچنئ هم وو د خپلې ټولنې په فعاليتونو کې شامل ؤ. د هغه مور او پلار د هغه يهوديانو د جملې څخه ؤ چې د شريعت څخه يې پيروي کوله. د لوقا انجيل ۲: ۲۱ دا خبره واضح کوي چې د هغه مور پلار کله

چې هغه د یوې هفتې شو ځنګه سنت کړ او د هغه نوم ئې غوره کړ. هغوی په خپل دې کار سره په واقعیت کې د زوړ عهد د قانون څخه اطاعت وکړ. په زوړ عهد کې سنت یو د یهودي ټولنې د مهم آیین او قانون څخه ؤ. سنت په حقیقت کې د وعدي جسماني نخښه او د خدای تائید د اسرائیلو د قوم څخه ؤ. " پیدایښت ۱۷: ۹- ۱۴). په نتیجه کې باید چې د مسیح مور پلار د شریعت په مطابق رفتار وکړي.

د مسیح وقفول د مور پلار په وسیله، یعني د مریم او یوسف لپاره د خوشالۍ ځای ؤ. هغوی خدای ته د خپل زوی د وقفولو لپاره بیت المقدس ته سفر وکړ. تاسو کولی شۍ چې د سنت د قانون او رواج په باره کې د لاویانو ۱۲: ۲- ۸ آیاتونه مطالعه کړۍ. په بیت المقدس د مسیح مور او پلار د شریعت په مطابق دوه کوتتري قربانۍ کړۍ. (لوقا ۲: ۲۲- ۲۴). بیا هم د دې خبرې شاهدان یو چې د مسیح مور او پلار ځنګه کوم عمل سر ته ورساوه چې د وقف شوي یهودیانو څخه یې طمعه کیدله او د هغوی د ټولنۍ پورې یې اړه درلوده.

د مسیح د وقفولو په وخت کې یو زوړ سړی چې شمعون نومیده په دې انتظار کې وه چې خدای به خلاصونکي راولیږي. د لوقا په انجیل ۲: ۲۷-۲۸ کې داسې لیکل شوي دي "نو هغه د روح القدس په لاربښودنه د خدای کور ته راغی او هر کله چې د عیسی مور پلار هغه ماشوم عیسی

دننه راوړو چې د هغه لپاره د شریعت په لاړې عمل وکړي، هغه، هغه په غیږه کې واخستو او هغه ته ئې برکت ورکړ."

شمعون د خدای ثنا وویله، او ویې ویل چې مسیح، خلاصونکي او د قومونو نور دی. هغه د مسیح د خدمت په هکله هم پیشګویې وکړه.

یوه ښځه چې حنا نومیدله د خدای کور ته راغله هغې هم د خدای په ثنا ویلو شروع وکړه، ځکه یې دا ماشوم رالیږلي دی چې تر څو هدایت کوونکي او ښکاره کوونکي د خلاصون او د آزادی لار اوسي. هغوی خپله خوشحالي په دې خاطر چې د خدای اراده د مسیح په وسیله د پوره کیدو په حالت کې بیان کړه. او خدای هم خوشحاله ؤ چې د هغه د شریعت مراسم تر سره کیدل.

یوسف او مریم د عامو خلکو د جملې څخه ؤ چې خدای هغوی د مسیح د والدینو په صفت د مځکې په مخ انتخاب کړل. مونږ د مسیح د کوچینوالي په هکله ډیر کم معلومات بیان کړل. دا خبره په پوره ډول روښانه ده چې مسیح په طبعي توګه غټیدلو. مقدس کتاب د هغه په هکله د ۱۲ کلنې د مخه څه شی نه بیانوي. په هغه وخت کې د مسیح کورنۍ د هر کال غوندې د فسح په اختر کې چې د یهودیانو یو د مقدسو اخترونو څخه ؤ شرکت وکړ او بیت المقدس ته لاړل.

"مسیح د خدای په کور کې" د ټولې موضوع د درک کولو لپاره د لوقا انجیل ۲: ۴۱- **۵۱** آیاتونه مطالعه کړئ. هر کله چې اختر ختم شو د مسیح کورنۍ د نورو یهودي کورنیو سره د خپل کور په طرف حرکت وکړ. پس له یوې ورځې سفر نه هغوی دې ته پام شو چې مسیح د هغوی سره نه دی راغلی. مریم او یوسف د مسیح د خدای په کور کې وموندلو تر دې وخته پورې نه پوهیدل چې مسیح ولې په بیت المقدس کې پاتې شوی دی. خو مسیح هغوی ته وویل "تاسو زۀ ولې لټولم؟ تاسو ته دا نۀ وه معلومه چې ماته د خپل پلار په کور کې پاتې کیدل په کار وو؟" (لوقا ۲: **۴۹**) مسیح په دومره لږ عمر کې بیا هم د خپلې ټولنې په اړوند د خپلې دندې څخه باخبره ؤ. مسیح د خپل مور او پلار سره ناصرت ته واپس لاړ. "او د عیسی حکمت او ونه لوی شول او د خدای او د بني آدمو په نظر کې ئې قبولیت وموندو." (لوقا ۲: **۵۱**) مسیح د خپل مور او پلار د حاکمیت تابع ؤ په حقیقت کې خالق د خپل مخلوق تابع شو. په حقیقت کې دا خبره عجیبه او خارق العاده ده! لوقا ۲: **۵۲** آیات د مسیح په خپله ټولنه کې د پیژندلو د یو اساسي آیات بڼه لري "او د عیسی حکمت او ونه لوی شول او خدای او د بني آدمو په نظر کې قبولیت وموندو. " د هغه د عقل په جسماني او اجتماعي لحاظ غټیدو او د خدای او خلکو خوښیدو او د خدای او خپلې ټولنې ئې سره په نزدې تماس کې ژوند کاوه.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱- مسیح یې ولې د خدای کور ته یوړو؟

الف) د دې لپاره چې مسیح د ټولو یهودیانو سره فرق درلود.

ب) د دې لپاره چې د هغه مور او پلار غوښتل چې هغه هم د نورو یهودي ماشومانو په شان خدای ته وقف کړي.

۲- یوسف او مریم په کوم دلیل، مسیح هر کال بیت المقدس ته بوتللو؟

الف) رواج ؤ چې هر کال په اختر کې برخه واخلي.

ب) هغوی غوښتل چې خپل ملګري هلته ووینې

۳- مقدس کتاب دا خبره بیانوي چې مسیح د غټیدو په وخت کې

الف) د خپلې ټولنې د قبلولو او خوښې وړ ؤ.

ب) د خپلې ټولنې څخه جدا ؤ.

۴- مونږ پوهيږو چې مسيح:

الف) هيڅ کله دا اجازه ورنکړه چې څوک د هغه سوال وکړي چې څه کار کوي.

ب) د خپل مور او پلار څخه به يې اطاعت کاوه.

## د خپلې ټولنې سره د مسيح اړيکې

## د اړتياوو لريکول

د مسيح خدمت هغه وخت شروع شو کله چې هغه (۳۰) کلن ؤ. کوم خدمت چې هغه وکړ نو د هغه درې کالو خدمت په دوران کې هم هغه د خپلې ټولنې د خلکو سره په تماس کې ؤ. مسيح ډير نږدې شراکت د خپلو ۱۲ شاګردانو سره درلود او د هغه شاګردانو په دې ۳ کالو کې د يو بل سره ډير نږديوالی درلود. او په حقيقت کې ئې يوه کوچنۍ ټولنه منځ ته راوستي وه. حتی په اقتصادي او مالي شيانو کې د يو بل سره يې برخه درلوده (يوحنا ۱۲: ۶).

هغوی يوه ربښتيني او ژوندۍ ټولنه جوړه کړيوه. مسيح داسې نور مريدان درلودل چې د هغوی سره يې شراکت درلود. مريم، مرتا او لعزر د هغه د نږدې دوستانو د جملې څخه ؤ. يو ځل مسيح ۷۰ کسان اطراف ته وليږل تر څو خلک د هغه ملاقات لپاره تيار کړي. (لوقا ۱۰: ۱- ۱۲). د

ډیرو خلکو نومونه په مقدس کې راغلي دي چې مسیح سره ئې مینه او شراکت درلود.

دې موضوع ته توجه کول ډیر ضروري دي چې مسیح خپل عمومي خدامت د خپل وطن یعني ګلیل څخه شروع کړو. مسیح د خلکو احتیاجات پوره کول او مریضانو ته یې شفا ورکوله. کانه، شلان او هغه خلکو ته چې بد روح یې درلود او هر قسمه مرضونهو ته یې شفا ورکوله. "د هغه خلقو په لیدو یې زړۀ وسوځیدلو ځکه چې هغوی د بې شپونکي ګډو په شان خوارۀ اودرۀ او پریشانه وو" (متی ۹: ۳۶). مسیح ډیر کله هغه خلکو ته چې د خپلو مرضونو نه یې شفا حاصله کړیوه داسې وویل: لاړ شي او خپل ځان کاهن ته وښایې او هغه څه چې شریعت لخوا مقرر شویدي ورکړی "دا خیال مه کوی چې ګنې زه د دې لپاره راغلي یم چې شریعت او د نبیانو کتابونه منسوخ کړم. زه منسوخ کولو ته نۀ یم راغلي بلکه پوره کولو ته راغلي یم." (متی ۵: ۱۷).

مونږ پدې پوهیږو چې د ژوند په هره مرحله کې مسیح د ټولنې د هرې طبقي خلکو سره اړیکي درلودي. هغه د خپلې مور او شاګردانو سره په هغه واده کې ئې شرکت وکړ چې د ګلیل په قانه کې جوړ شوی ؤ. په هغه ځای کې مسیح دا خبره ثابته کړه چې هغه د نورو د مشکلاتو په فکر کې دی او د معجزي په وسیله هغوی سره مرسته وکړی (یوحنا ۲: ۱-۱۲). د متی ۹: ۹- ۱۱ کی بیان شویدي چې مسیح د

ګناهګارانو او باجګیرانو سره ډوډۍ خوړلو لپاره سره کښیناستو او په بل حال کې د فریسیانو سره ډوډۍ وخوړله. (لوقا ۷: ۳۶ او ۱۱: ۳۷). د یوحنا انجیل د یوې سامري ښځې په یې خبرې وکړي (یوحنا ۴: ۱- ۳۰).

مسیح خپل خدمت د اشعیا نبي په کتاب کې داسې بیانوي. "د خدای روح په ما باندې دی. خدای زه انتخاب کړي یم تر څو دردیدونکو ته زیری ورکړم. او مات زړیو ته شفا ورکړم، غلامانو ته د آزادی زیری ورکړم او ورته ووایم چې د خدای رحمت په دوی باندې راغلې دی." همدا شان د لوقا ۴: ۱۸ - ۱۹ ته مراجعه وکړۍ. دوه ځلي مسیح ډیرو خلکو ته ډوډۍ ورکړه (متی ۱۴ او ۱۵ بابونه).

مسیح د خلکو په مځکینی شرایطو باندې هم فکر کاوه او هر کله چې هغوی په تکلیف کې ؤ، په هغوی باندې یې رحم کاوه. د متی په ۲۵: ۳۱- ۴۰ کې مسیح د قضاوت په هکله خبرې کوي او وایې هر کله چې تاسو غریبانو سره مرسته کوي او یاد مریض او بندیانو پوښتني ته ځی په حقیقت کې دا عمل زما په نسبت کوي. یعني ما سره مو ښه کړي او که چیرې د داسې اعمالو په کولو کې سستي وکړۍ په حقیقت کې تاسو زما په خدمت کې سستي کړیده. همدارنګه باید ومنو چې مسیح د دې لپاره راغلي چې شریعت تکمیل کړي. هغه راغی چې نور او نوې ژوند ټولو هغه کسانو ته چې د هغه نه پیروي کوي ورکړي. د هغه دا مقصد نه ؤ چې

د قانون یوه برخه پوره کړي بلکه راغلی چې هغه روح چې په دې قانون باندې حاکم دی د خلکو په ذهن او زړونو باندې ولیکي. د هغه مرګ او بیا ژوندی کیدلو دا کار پوره کړ. آیا د هغه خدمت ستاسو په ژوند باندې تاثیر درلود؟ آیا تاسو د هغه سره شراکت لرئ؟ دعا وکړئ او د هغه نه وغواړي چې ستاسو ژوند په خپل کنټرول کې واخلي مسیح به له تاسو سره مرسته وکړي چې لکه د هغه په شان په خپله ټولنه کې خدمت وکړي.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

**۵**- صحیح جملې مشخصې کړئ:

الف) مسیح صرف په خپل وطن ناصرت کې خدمت وکړ.

ب) مسیح ټولو خلکو ته د ټولنې د هرې سطحې په اندازه چې ؤ خدمت وکړ.

ج) مسیح هغه قانون چې په ټولنه باندې حاکم ؤ مراعت کاوه.

د) مسیح د ګناه ګارانو سره رابطه نه درلوده.

ذ) هر کله چې مونږ د هغه کسانو سره مرسته کوو چې ضرورت لري، نو په حقیقت کې د مسیح سره مرسته کوو.

۲- هغه درې طریقې چې مسیح د هغوی په وسیله هغه روح چې په ټولنه باندې حاکم وي درس ور کړي دی، بیان کړه.

## د حاکمیت قبلول

که څه هم چې مسیح د خدای زوی ؤ، خو بیا هم یې د هغه خلکو قدرت قبول کړ چې په خپله ټولنه کې یې په خلکو باندې درلود. د مثال په توګه د متی په انجیل ۱۷: ۲۴-۲۷ آیاتونو کې لولو چې مسیح خپله مالیه ورکړه. د حاکمیت قبلول، دا معنیٰ لري چې د هغه په مقابل کې خپل ځان تسلیم کړه نو بیا هغه حاکمیت منلي دی. په دې فکر وکړه چې مسیح په دې خبره مجبور نه ؤ چې مالیه ورکړي. دا واقعیت د مسیح د هغه خبرو د مثالونو نه اخلو کله چې هغه د دې موضوع په اړوند د پطروس سره هغه خبرې وکړه. هغه نه غوښتل چې څوک په تکلیف کړي. هغه پطروس ته وویل چې لاړ شه ماهي ونیسه او د هغه په خوله کې به د مالیې د ورکولو لپاره پوره پیسې پیدا کړي.
په یو بل ځای کې، مسیح هغه رواج چې د خدای د قانون په خلاف ؤ قبول کړ. هغه صرافان چې د خدای د کور په خویلي

کې په کاروبار کې مصروفه وو (متی ۲۱: ۱۲). دا هغه ځای ؤ چې که چیرې غیر یهودیانو غوښتل چې د خدای عبادت وکړي هر کله چې پلورونکي او اخستونکي شور او زوږ کوي او یا یو سړی دعا وکړي؟ برسیره پردې چې صرافانو هم د غریبانو خلکو نه سود اخستلو. د هغوی کار د خارجی پیسو بدلول و چې د خدائ په کور کښې به هغوی ورباندې خرید او فروخت کولو. برسیره پردې د نوې لټونکو به د خدای په پیژندګلو کې مانع کیدل. هغوی به د خدای د هغه کلام په خلاف کار کاوه کوم چې د اشعیا ۵۶: ۷ کې بیان شوی دی. "زما کور به د ټولو قومونو لپاره د عبادت کور ګڼلي شي." په دې هکله عیسی ډیر مراقبت کاوه تر څو چې یې د پلار اراده سر ته ورسیږي. هغه د خلکو د رواج او رسم په خلاف کار وکړ، ځکه چې هغه غوښتل چې د پورتنې قدرت او حاکمیت څخه اطاعت وکړي (اعمال ۵: ۲۹).

مسیح په پوره توګه هغه روح چې باید په ټولنه باندې حاکم وي د خپله ځانه ښکاره کړ. هغه اوس هم دا اجازه نه ورکوي چې د انسانانو آداب او رواج د خدای قانو د پښو لاندې کړي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۷- صحیح جملې په ګوته کړئ

الف) مسیح په دې مجبوره نه ؤ چې مالیه ورکړي، خو دا کار د دې لپاره وکړ تر څو د خلکو د تکلیف څخه ډډه وشي.

ب) مسیح د باج اخستونکي سره ډوډوئ وخوړه، ځکه چې هغوی سره یې مینه کوله او غوښتل یې چې د هغوی ګناهونه وبخښي.

ج) مسیح د دې خاطر صرافان د خدای د کور د خویلي څخه وشړل، ځکه چې هغوی مالیه نۀ ورکوله.

د) مسیح چې د خدای زوی ؤ، نو د هغه خلکو څخه چې په ټولنه کې یې حاکمیت درلود تابعداري نه کوله.

۸- د هغه مثال ذکی وکړۍ چې د مسیح د قدرت خاوندانو ځخه تابعداري په ګوته کوي.

## په ټولنه باندې د مسیح تاثیر

حقیقي او رښتیني مسیحت د آزادۍ زیری ورکوي. مسیح وفرمایل: "..... که چیرې تاسو زما په کلام قایم پاتي شۍ نو په رښتیا زما مریدان یې. او تاسو به په حقیقت پوهه شۍ او حقیقت به تاسو آزاد کړي" (یوحنا ۸: ۳۱- ۳۲). "که چیرې زوی تاسو آزادوي نو تاسو به په رښتیا آزاد یۍ" (یوحنا ۸: ۳۶). مسیحیت خلک د خرافاتو او د ګناه د غلامۍ نه آزادوي او هغوی ته دا خواهش او توان ورکوي چې د ګناه نه آزاد ژوند وکړي.

د مسیح خدمت تر اوسه پورې هم په دنیا باندې تاثیر لري. هغه ښځو ته نوې مقام او احترام وبښلو. مسیح د خپلې مور ډیر زیات احترام کاوه. تر دې چې هغه کله په سولۍ باندې رازوړند ؤ بیا هم یې د خپلې مور فکر کاوه. هغه مریم ته وویل "دا دې ستا زوی وي" او یوحنا ته وویل: "دا دې ستا مور وي" (یوحنا ۱۹: ۲۶- ۲۷). پس له دې یوحنا د عیسی مور بوتله تر څو د هغې خدمت او پالنه وکړي او د هغوی سره ژوند وکړي.

د لوقا په انجیل ۷: ۳۶- ۳۹ کې د یوې ښځې په هکله ذکر شوی دی چې د مسیح پښې یې په عطرو باندې ووینځلې.

سره له دې چې مسیح په دې باندې پوهیدو چې هغه ښځه ګناه ګاره ده، خو هغه یې ونه شړله، مګر برعکس د هغې ګناهونه یې وبخښل او د هغې ژوند یې بدل کړ. مسیح هغې ته د هغه خدمت او محبت له خاطره احترام ورکړ. یو ځل یې د یوې سامري ښځې سره مرسته وکړه چې د خپلې ټولنې د قبلولو وړ نه وه او د هغې ژوند هم تبدیل شو. نن هم چې د دنیا په ډیرو ځایونو کې چې د انجیل زیری خپریږي، ښځو ته ډیر لوړ او عالي مقام او احترام ور کول کیږي.

د مسیح محبت او خدمت په ټوله نړۍ باندې ډیر غټ تاثیر درلود. په غربي نړۍ کې تاریخ په دوه برخو باندې تقسیمیږي. یو د مسیح د پیدایښت څخه وړاندې او بله د مسیح د پیدایښت څخه وروسته.

هفته چې له ۷ ورځو ځینې جوړه شویده د خدای په وسیله شروع شوه. خدای د کائناتو د پیدا کیدلو په وخت په اومه ورځ د خلقت د کار څخه آرام وکړ او هغه ورځ یې د مقدسې ورځ په عنوان باندې وبلله او حکم یې وکړ چې دا ورځ دې د آرام لپاره وساتله شي. مګر دا آرام د مسیح د راتلو وروسته تغیر وکړ. مسیح د هفتې په اوله ورځ د مړو څخه بیا راژوندی شو. نن په نړۍ کې ډیرو خلکو د یکشنبې ورځ د آرام او عبادت د ورځې په عنوان قبوله کړیده. په نړۍ کې ډیر داسې ځایونه شته چې ډیر ښائسته د ژوند معیارونه لري چې هلته د انجیل زیری په آزادۍ سره خپریدلو زمونږ

نننی او ماډرن قانون په انجیل کې ذکر شته دی. هغه احساس چې د دې خبرې باعث کیږي چې ډیر خلک په تیزۍ او صداقت سره کار وکړي دا کار هم د مقدس کتاب په اساس باندې بنا شویدی.

د مقدس کتاب په اړوند د یو مسیحي ایماندار لپاره د ټولو نه ضروري او مهم کار د خلکو تشویقول د مقدس کتاب د مطالعې په هکله دي.

د مسیحي ایماندارانو لپاره د ټولو نه مهم کار دا دی چې خلک د مقدس کتاب مطالعې ته تشویق کړي. ولې؟ د دې لپاره چې هغوی انجیل په خپله ولولی. په ډیرو ژبو کې د خط لیکلو رواج په لمړي ځل مکتبونه د مسیحی مبشرینو په وسیله شروع شول تر څو هلکان او نجونې وکولی شي لوستل او لیکل زده کړي. دا مکتبونه د دنیا د ډیرو ټولنو د برکت سبب شوي دي.

په نننی مترقی ژوندون باندې هم مسیحیت ډیر زیات تاثیر راغلی دی. مذهب انسان خپل غلام کوي، خو واقعی مسیحی آزاد وي. هغه وخت کله چې مسیح په سولۍ شو، نو د هغه تعلیمات په ټپه ونه دریدل. تاسو د هغه خدمتونو نتیجه یاست هغه ټولۍ نړۍ ته ور وپیژنۍ. هغه وخت چې تاسو ربښتیني مسیحي ټولنه ښکاره کړۍ، دنیا به هم ښه وضع پیدا کړي. په راتلونکي لوستونو کې به د دې د طریقو

په هکله خبرې وکړو چې تاسو کولی شي چې د هغې په وسیله خپل خدمت په خپله ټولنه کې نور هم زیات کړی.

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۹- هغه دوه بدلونونه چې د مسیح د راتلو په وجه په دنیا کې راغلي دي نوم واخلئ.

۱۰- هغه دوه تاثیرونه چې مسیح د ښځو په ژوند کې راوستل، ولیکئ.

۱۱- یو له هغه بدلونونو څخه بیان کړئ کوم چې مسیحیت ستا په ژوند کې د یو شخص په صفت راوستلي وي.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۶- ډیر زیات جوابونه موجود دي. ځینې له دوی نه عبارت دی له: مسیح په مالي مسئلو کې د خپلو شاګردانو سره برخه درلوده، د ګناه ګارانو سره یې ډوډئ خوړله، بیمارانو ته یې شفا ورکوله خلکو ته یې ډوډئ ورکوله، د خوشحالئ په مجلسونو کې یې ډوډئ ورکوله، د خوشحالئ په مجلسونو کې یې هم برخه اخیستله.

۱- ب)

۷- الف) صحیح

ب) صحیح

ج) غلط

د) غلط

۲- الف)

۸- هغه وخت چې د خدای د کور پورې مربوط پیسې یې ورکړي.

۳- الف)

۹- ستاسو انتخابي جواب: هر هغه بدلون چې په دې کتاب کې ذکر شوی دی او نور بدلونونه. آیا تاسو دا خبره درک کوئ که چیرې مسیح نه وه راغلی، ستاسو د شا او خوا نړۍ به د نن سره څومره تفاوت درلود؟ آیا تاسو د هغه په راتلو باندې خوشحاله یې؟

۴- ب)

۱۰- امکان لرونکي جوابونه عبارت دي له: په هغه ځایونو کې چې د انجیل زیری وعظ شوی دی، ښځې د

محبت له مخې ډیر احترام کوونکي دي. هغوی د خرافاتو او ګناه نه آزادې دي. همدارنګه له ډیرو موقعیتونو په لحاظ د تحصیل څخه معموري وي.

۵- الف) غلط

ب) صحیح

ج) صحیح

د) غلط

ذ) صحیح

۱۱- ستاسو انتخابي جوابونه

اوم لوست

# په تیاره کې ځلېدل

د پاناما په يو کانال کې صرف يو پخواني چراغ موجود دی، په ۱۸۰۰ ميلادي کال کې هر کله چې د فرانسي حکومت کوشش وکړ چې د مځکې په مخ يو کانال جوړ کړي، په فرانسه کې جوړ شو او د هغه ځای څخه پاناما ته منتقل کړی شو. هغوی د ناروغۍ او مالي ضعف په وجه ونشو کولی چې دا کانال سر ته ورسوي. سره د دې هغه بحري چراغ تر اوسه پورې هلته موجود دی او په کلونو ئې د کشتيو د هدايت لپاره کار کړی دی.

د دې په داخلي برخه کې د نفتي چراغ جوړل په نظر کې نيول شوی ؤ. د دې چراغ په اطراف او خوا او شا کې ډېر شيان په منکسر ډول پريکړی شوي او د يو بل تر خوا اېښودلي شوي دي، او د خپل طرف څخه يو منعکس کونکی ساختمان جوړوي. دا چراغ د ۸۰۰ په خوا او شا کې منعکس کوونکي شيشی لري. دا منعکس کوونکی شيشی د خپل ځان څخه کومه رڼا او نور نه لري. مګر د چراغ د رڼا شعا منعکس کوي. دا منعکس کوي. په نتيجه کې چراغ ضعيف او کمزوري رڼا په څو سوه تبديلیږی او يوه پراخه او لويه رڼا جوړوي. تر ډيرو کلونو پورې د دې نور او رڼا په وسيله کشتي او بحري جهازونه د ساحلونو خوا ته رهبري شوي

دي. په حقیقت کې دغه نور یوه مطمئنه او د امن څخه ډکه لار هغوی ته ښودله.

په همدې ډول مونږ هم باید د دنیا لپاره د مسیح د نور منعکس کوونکي اوسو. مقدس کتاب مسیحیان د نور او مالګې سره تشبیه کوي. په دې لوست کې به ولولئ چې څنګه تاسو کولی شئ چې په خپله ټولنه کې د مالګې او نور غوندې اوسئ. او هم به دې خبرې ته متوجه شئ چې که چیرې تاسو مسیح ته اجازه ورکړئ، نو د هغه په وسیله به ستاسو ذهن او وجدان کنټرول شي. نو په هغه وخت کې کولی شئ چې ټولې نړۍ ته د هغه د نور منعکس کوونکي اوسئ.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ......

د خپلې ټولنې لپاره نور اوسئ

د خپلې ټولنې لپاره مالګه اوسئ

تازه ذهن لرل

دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو......

دا خبره بیان کړئ چې په کومو خصوصیاتو کې د مسیحیانو ژوند د نور او مالګې سره مقایسه وړ وي.

د تازه ذهن لرلو نتايجو نوم واخلئ.

## د خپلې ټولنې لپاره رڼا اوسئ

مسيح ووېل: "زه د دنيا رڼا يم" (يوحنا **۹: ۵**). او هغه بيا دا رنګ وفرمايل چې: "تاسو د ټول عالم لپاره رڼا يئ..... او تاسو هم دغه رنګ د خلکو د وړاندې رڼا خوره کړئ د دې لپاره چې هر کله چې هغوی ستاسو ښه کارونه ويني، نو هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کې دی، لوئي بيان کړي" (متی **۵: ۱۴، ۱۶**). مونږ په خپله رڼا نه لرو خو د مسيح رڼا منعکسه ؤ بلکل هماغه رنګ لکه څنګه به چې د پاناما په سيند کې د هغه فانوس چراغ رڼا منعکسوله.

د رڼا د کارونو څخه يو دا کار دی چې په سرکونو او چوکونو باندې خپره شي تر څو خلک په آساني او امن سره خپل قدمونه کښيږدي. د خدای کلام فرمايي. "ستا کلام زما د پښو لپاره چراغ او زما د لارو لپاره رڼا دی" (ربور **۱۱۹: ۱۰۵**). امکان لري چې ډير خلک د خدای کلام نه مطالعه کوي، مګر زمونږ ژوند ويني. هر کله چې مونږ د خدای کلام مطالعه کوو او د هغه په نور کې قدم اخلو، نو نورو خلکو په ښه او بهتره طريقه سره کولی شي چې ښه لار تشخيص او معلومه کړي. مونږ د رڼا د انعکاس کوونکي په صفت د مسيح نور او رڼا له خپله ځانه منعکس کوو او پدې طريقې د نورو سره مرسته کوو چې مسيح ته راشي. يو د رڼا د

کارونو څخه دا کار دی چې د خطر نه مو خبروي. د سیندونو فانوس په دې خاطر سره جوړیږي تر څو کشتۍ د هغه ګټانو په هکله خبر کړي کوم چې په سیند کې دننه او کوم چې په ساحلونو کې دي. له دې قسمه فانوسونو څخه د انګلستان په ساحلونو کې شته دي. مسیحیان د هغه رڼا او فانوس په مثال دي چې د ګناه په هکله اخطار او خبرتیا ورکوي. یو بل آیات د خدای د کلام څخه داسې فرمائي چې: "ستا حکمونه به تر ابده پورې زما د زړۀ په خزانو کې پاتې شي، ځکه چې زما د زړۀ لپاره د خوشحالۍ تمنا ده" (زبور ۱۱۹: ۱۱۱). د خدای کلام نه یوازې دا چې له مونږ سره مرسته کوي چې د ګناه څخه ځان وژغورو، بلکه زمونږ د ژوند نه هم نورو ته اخطار او خبرتیا ورکوي. مونږ ته د دې خبرې ضرورت دی چې نورو خلکو ته د ګناه په هکله خبر او د نه کولو اخطار ورکړو.

نور او رڼا د دې خبرې سبب کیږي هم کوم شیان چې په حقیقت کې څنګه دي هماغه شان وونیی. د عبرانیانو په ۴: ۱۲- ۱۳ کې داسې لیکل شوي دي:

"ځکه چې د خدای کلام ژوندی او اثرناک او د هرې یوې دوه مخې تورې نه زیات تیرۀ دی، چې د انسان د ځان او روح نه تیریږي او اندام اندام او مغز مغز جدا کوي او د زړه په خیالونو او ارادو تحقیق کوي. او د خدای نه د خلکو هیڅ

څیز پټ نه دی، بلکه د چا سره چې زمونږ حساب دی، د هغهٔ په نظر کې ټول څیزونه څرګند او بې پردي دي. "

د خدای کلام ته زړهٔ خلاصول، د دې خبرې سبب کیږي چې خپل ځان هغه رنګ ووینو لکه څنګه چې خدای مونږ ویني. نو په همدې ډول هر کله چې بې ایمانان زمونږ ژوند ویني، نو د دې خبرې سبب کیږي چې هغوی به د خپلې ګناه احساس کوي او په خپل ځان کې به د مسیح د بدلولو د قدرت احتیاج ویني. "چې تاسو بې عیبه او پاک شئ. په بد او بې لارې خلکو کې د خدای د کاملو بچو په شان ژوندون کوئ او د هغوی په مینځ کې د آسمان د ستورو په شان وځلیږئ، او د ژوندون کلام پیش کوئ چې د مسیح په ورځ زه فخر کوم چې نه خو زما منډه بې فایدې شوه او نه زما خوارې بې ځایه لاړه" (فیلپیان ۲: ۱۵، ۱۶).

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- هغه درې کارونه چې د رڼا په هکله په دې لوست کې بیان شو ویې لیکئ.

۲- د یو مسیحي په صفت هغه دریواړه کارونه چې مونږ پورې اړه لري او زمونږ مسئولیت را په ګوته کوي بیان کړئ.

## د خدای ټولنې لپاره مالګه اوسئ

"تاسو د دنیا لپاره مالګه یئ. که مالګه بې خونده شي نو څنګه به مالګینه شي؟ دا بیا په هیڅ کار نه راځي او د غورزولو او د پښو د لاندې کولو جوګه شي." (متی ۵: ۱۳)

یو د مالګې د کارونو څخه پاکول دي. پاک کول دا معنیٰ لري چې "هیڅ یو اضافه شی پاتې نه شی" نو هر کله چې مالګه د پاکولو لپاره په کار وړل کیږي، هغه شیان چې اضافه دي له منځه یې وړي.

مالګه او اوبه، اکثراً په کورونو د میکروب د علاج لپاره استعمالیږي. یو ځلې د پښې ګوته مې خوږ شوي وه او شنه شوي وه او ډیر سخت درد یې کاوه. نو زما ښځې ماته دا وویل چې په ګرمو اوبو او مالګه کې دې پښه ونیسه. خو دې کار طرف ته مې کومه پاملرنه ندرلوده، خو ورسته پوهه شوم چې دا کار څومره ګټور دی او د پښې ګوته مې بلکل ښه شوه.

پاکوالی هغه حقیقت دی چې باید مسیحیان یې په خپلې ټولنې کې ښکاره کړي. د پاکوالي څخه هدف دا دی چې باید زمونږ په ژوند کې هیڅ د ګناه اثر او نامقدسه کار ونشي لیدلي. د مقدس ژوند تیرولو په وجه کولی شو چې خپله ټولنه د قدوسیت او پاکوالي خوا ته سوق کړو. په دې ټولنه باندې حاکم روح کوشش کوي چې د اخلاقو د پاکوالي

سطحه ډیره ضعیفه کړي. مسیحیان باید د پاکوالي معیار په خپلو خبرو، رفتار او فکرونه کې حفظ کړي ګناه د یو میکروب او عفونت په شان ده. مونږ باید د شفا د یو عامل غونډې ګناه نابوده کړو او د هغې د خپریدو مخنوي وکړو. هغه وخت چې د ګناه په خلاف قدم اوچتو، نو په حقیقت کې د مالګې په شان په خپله ټولنه کې عمل کوو.

همدارنګ د مالګې نه د ساتلو او حفاظت لپاره کار اخستل کیږي. د مثال په توګه: د ماهیانو او د نورو غوښو د ساتلو لپاره د مالګې څخه کار اخستلي شي. زه د "نیوفاوندلند" په جزیره کې پیدا شوي یم. د هغه ځای مروج خوراک "مالګینه غوښه" ده. دا نوم د دې په سبب سره استعمالیږي چې مالګه د غوا د غوښې د ساتلو لپاره استعمالوي.

"نیوفاوندلند" همدارنګه د ماهیانو د ښکار یو د لوي هیوادونو څخه عبارت دی. تر اوسه پورې ډیر ماهیګرانو په ډیرو ماهیانو مالګه اچولي، مالګه د ډیر وخت لپاره ماهیان ساتی او خرابیدو څخه یې مخنیوی کوي. او پس له هغې ماهیان په بیلو بیلو کټګورې ویشي او خرڅوي یې.

په دې دواړو موضوع ګانو کې مالګه غوښه ساتي تر څو وروسته د خوړولو لپاره د هغه غوښې څخه کار واخلي. د غوښې خپل طبعي خوند او مزه ساتي او خپل خوند له لاسه نه ورکوي. یو مسیحي په دنیا کې باید د مالګې په شان اوسي. هغه باید د یوې ټولنې د حفاظت او پاکوالي سبب

شي. داسې خلک هم شته چې ښه پاتې کیدل د هغوی په ټولنه کې آسان کار دی. ځکه چې هغوی ښه خلک دي. مګر داسې خلک هم شته چې د خپلو بدیو اثر په نورو خلکو باندې آچوي. يو مسيحي بايد د نورو خلکو باندې ښه تاثیر وغوزوي. يو مسيحي بايد د حفاظت او پاکوالي عامل اوسي او د نورو خلکو سره مرسته وکړي چې په دې شريره نړۍ کې، هغوی ښه خلک اوسي.

د مالګې د ټولو نه ښه خاصیت د هغه مزه او خوند دی. د مالګې خوند او مزه په خپل ځان کې یې ده، د مالګې څخه په ښه طریقه ګټه اخستل د خوراک د خوند او مزي سبب کیږي. مسیحیت په حقیقت کې د ژوند لپاره بلکل لکه مالګه چې خوراک لپاره ده همدارنګ مسیحیت هم دی او د ژوند د خوشحالۍ سبب کیږي. که چیرې مسیحیت او د هغه تاثیر د خپل ژوند څخه لرې کړې، نو وبه وینې چې ژوند بلکل بې معنا او بې هدفه دی. مسیحیت ستاسو ژوند ته خوند او معنا ور په برخه کوي یعني دا چې تاسو ته د ژوند تیرولو لپاره دلیل او هدف درکوي. مونږ مسیحیان باید چې مقدس اوسو. او په نورو خلکو باندې تاثیر واچو تر څو هغوی هم مقدس پاتې شي. مونږ باید هغه څه چې د وس او قدرت څخه پوره وي، نو باید چې هغه د ښو شیانو د ساتنې او سر ته رسولو لپاره استعمال کړو. زمونږ ژوند باید نورو خلکو ته دا وروښایې چې مسیحیت ژوند ته، پاکوالی

او قدوسیت وربخښي. نو په هغه وخت، کې لکه څنګه چې مسیح ویلي د خپلې ټولنې لپاره به لکه د مالګې په شان یو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۳- لاندې جملې پوره کړئ:

الف) عفونیت بلکل ........ په شان وي.

ب) په ګناه ګاره نړۍ کې مسیحیان باید ......... وي.

ج) یو پاک او مقدس مسیحي .... په شان وي ځکه چې د خپلې ټولنې پاکوالي او قدوسیت سره مرسته کوي.

۴- د مالګې د درې کارونو نوم واخلئ.

۵- د درې واړو کارونو څخه زمونږ مسئولیت د یو مسیحي په صفت بیان کړئ.

## تازه ذهن لرل

د دې لوست په لمړۍ برخه کې متوجې شو چې مونږ د خپله ځانه رڼا نلرو، مګر د مسیح رڼا او نور له خپل ځان څخه منعکس کوو. او همدارنګه خپلې نړۍ ته ساتلو، پاکولو، او د خوند او مزي قدرت او طاقت نلرو. قدرت د خدای له

طرفه دی. دا خدای دی چې مونږ ته قدرت راکوي تر څو د هغه د قدرت څخه د نورو خلکو د ښیګڼو لپاره ترې استفاده وکړو.

همدا موضوع ستاسو د فکر او ذهن په هکله رښتیا کیږي. تاسو د خپل فکر په کار باندې نه پوهیږې، صرف خدای د دې کار ځینې خبر دی. سره بیره پر دې هر څومره چې تاسو خپل فکرونه خدای ته تسلیم کړي وي، نو هومره زیات به هغه ستاسو فکر کنټرول کړي.

په رومیانو ۱۲: ۲ داسې راغلي دي: "خپل ځان د دې موجوده دنیا په شان مه جوړوی، بلکه بویه چې ستاسو پوهه بیا نوې کړی شي او د دې په وسیله ستاسو فطرت بلکل بدل شي. بیا به هله تاسو د دې قابل شئ او په دې به پوهه شئ چې د خدای رضا څهٔ ده او دا به وپیژنئ چې قبلیدونکي او کامل دي."

هر کله چې په خدای باندې ایمان راوړو، یو بدلون او تغیر زمونږ په ژوند کې راځي. د ژوند هر څهٔ نوې کیږي او د پخوا وخت نه په کې فرق وینو. زمونږ فکرونه بدلیږي. په حقیقت کې زمونږ ذهن او فکر نوې کیږي، چې د پاک او تازه معنی لري، بلکل د یو نوې فکر غوندې، خدای اوس هم زمونږ فکرونه او ایډیالوژئ کنترولوي.

مونږ باید دا عادت پیدا کړو چې خدای ته اجازه ورکړو چې تر څو هغه زمونږ د فکرونو د لارې په مونږ باندې تاثیر

وکړي. خدای ته موقع ورکړي چې د خپل فکرونو په وسیله په تاسو باندې تاثیر واچوي. هر کله چې دعا کوی، نو د روح القدس په هدایت سره حساس کیږي. هغه تاسو ته د نورو خلکو په ارتباط حکمت او عقل دربخښي. هر کله چې د هغه د هدایت څخه پیروي کوي، نو ستاسو ذهن او فکر به بدل او تازه شي. نو په هغه وخت کې په حقیقت کې تاسو خپلې جامعي ته رڼا او مالګه یاست.

د اول کورنتیانو ۲: ۱۲ کې پولوس رسول داسې فرمایي: "د مالک په خیالونو څوک پوهیدي شي چې هغۀ ته یې صلاح ورکړي؟" خو مونږ د مسیح په شان عقل لرو.

او همدارنګي په فیلپیانو ۲: ۵ فرمایې: "هم هغه شان خوی لرۍ لکه څنګه چې د مسیح عیسی وو." او دا بیا دا بیانوي چې مسیح څنګه خوی او فکر درلود. فیلپیان ۲: ۵- ۱۱ مطالعه کړۍ، نو بیا دې لاندې جدول ته وګورۍ تر څو د مسیح طرز فکر او د خدای جوابونه درک او پرې پوه شۍ.

| | | |
|---|---|---|
| د مسیح اعمال | د مسیح د فکر انداز | د خدای جوابونه |
| هغه خپل قدرت وجه خو او جلال پرېښود | تواضع | په همدې |
| ۷ آیات | | هم خدای هغه ډېر سر بلند کړو ۹ آیات |
| او د غلام شکل ئې اختیار کړو او انسان شو ۷ آیات | خاکساری | هغه ته ئې هغه نوم وبخښلو چې د ټولو نومونو نه اعلی دی ۹ آیات |
| او دومره تابعدار شو | تابعداری | خدای هغه ډېر د د اخترام ځای ورکړ ۱۰، ۱۱ آیات |

آیا تاسو د مسیح په شان فکر لری؟ آیا تاسو متواضع او تابعدار او منونکي یئ؟ د خدای نه وغواړی چې تاسو سره په دې بابله ډیره مرسته وکړي چې تازه او خوشحاله ذهن او فکر ولری، یعني د مسیح په شان. د مسیح په فکر تاسو سره مرسته کوي چې تر څو د هغه محبت، ساتل او زړه سواندې خپلې ټولنې ته وښایئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۶- لاندې هرې موضوع تر خوا یو مثال ولیکی:

الف) تواضع ..............

ب) عاجزی ...............

ج) تابعداری ............

۷- تاسو ډیر کوم شی ته ضرورت لری؟

الف) عاجز خویه اوسی هو، نه کله نا کله

ب) خاکساره اوسی هو، نه کله نا کله

ج) تابعدار او منونکي اوسی هو، نه کله نا کله

۸- دا خبره تشریح کړئ چې څنګه تازه فکر او ذهن، مونږ ته د دې خبرې سبب کیږي چې ډیر تاثیر لرونکي اوسو؟

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

**۵-** یو مسیحي باید د خپلو خوا شا خلکو لپاره د بهترۍ وسیله وي. هغه باید د صحیح شیانو درک کونکي اوسی او همدارنګه څرګنده کړئ چې مسیح څرنګه ژوند ته معنیٰ وربخښي.

۱- مونږ سره مرسته کوي چې یوه لار تشخیص کړو، او هم مونږ د خطرو نه خبروي. او مونږ سره مرسته کوي چې هغه شیان چې کوم رنګ دي، هم هغه شان ووینو.

۲- ستاسو انتخابي جواب: آیا تاسو کولی شئ چې هر یو لپاره یو مثال راوړئ؟

۲- مونږ د مسیح د نور منعکس کونکي یو تر څو د دې نور په مدد سره نور خلک مسیح وموmي. همدارنګه د دې نور په وسیله، هغوی د ګناه د خطراتو نه خبروو او د هغوی سره مرسته کوو چې د ګناه اصلي شکل ووینې.

۷- ستاسو انتخابي جواب: تاسو کولی شئ چې د دې تمرین د درې خاصیتونو په عملي کولو سره د خپل رفتار او سلوک انداز بدل کړي.

۳- الف) ګناه

ب) پاک او مقدس

ج) مالګه

۸- هر کله چې زما ذهن او فکر تازه کیږي د مسیح په شان خوي به ولرم او وبه کولی شم چې په نورو باندې تاثیر واچوم تر څو هغوی هم د مسیح څخه پیروي وکړي.

۴- خالص او پاکول، محفوظول او خوند مزه وربخښل

# د کلیسا د ټولنې پورې اړه لرل

چیکیم، یو یتم ماشوم ؤ چې تقریباً شپږ کلن ؤ، خو د هانګ کانګ په چوکونو کې اوسیده. هغه د هیچا پورې تعلق نه درلود. یوه ورځ یو مهربان سړی چیکیم په یو چوک کې ولید او هغه یې خپل ځان سره کور ته بوتلو، په هغه ځای کې چې د هغه نورو زامنو او لورګانو ژوند کاوه. نوموړي سړي به په خپل کور کې د هغه ښه روزنه کوله. او هغوی ته به یې د مسیح په هکله تعلیم ورکاوه. چیکیم په ډیر لږ وخت کې د خپل نوم لیکل او لوستل زده کړل.

یو څو میاشتي وروسته چیکیم د یوې چینائې مهرباني کورنۍ ته ورکړ شو، هغوی هغه د خپل زوی په صفت قبول کړ او لکه د نورو زامنو په شان سلوک به یې ورسره کاوه. نو اوس چیکیم ډیر زیات خوشحاله ؤ ځکه چې هغه اوس د یوې کورنۍ پورې تعلق لري.

زمونږ د ټولو نه لمړی ضرورت د تعلق لرلو احساس دی. د یوې کورنۍ پورې اړه لرل مونږ ته د آرام او اطمینان احساس راکوي. تاسو چې هر کله په مسیح ایمان راوړي، نو په حقیقت کې د خدای د کورنۍ څخه شمیرل کیږي تاسو به په دې لوست کې ولولئ چې د خدای د کورنۍ پورې تعلق لرل

څه معنی او مفهوم لري، یعني د ایماندارانو ټولنه چې په حقیقت کې یوه کلیسا تشکیلوي، څه ته وایی؟

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولۍ

د خدای عبادت

د یو بل سره شراکت لرل

د یو بل خدمت کول

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو........

دا خبره درک کړۍ چې د کلیسا سره تعلق لرل به تاسو سره څنګه مرسته وکړي تر څو د خپلې ټولنې لپاره یو ښه او بهتر شخص اوسۍ.

په کلیسا کې د ایماندارانو په شریکه د کار کولو نتائج بیان کړۍ.

ستاسو د ټولنې لپاره ستاسو کلیسا کوم خدمت کوي په هغې کې شامل شۍ.

په شریکه د خدای عبادت کول

تاسو ته به یاد وي چې په تیرو درسونو کې مو ولوستل چې د کلیسا څخه هدف یو کور یا بلډینګ نه دی، بلکه کلیسا هغه متحده یو بدن دی چې د ایماندارانو څخه جوړ شوی وي او د مسیح کار سر ته رسوي. هر کله چې مونږ په مسیح

باندې ایمان راوړو، نو په حقیقت کې د هغه د بدن یوه برخه تشکیلوو. دا بدن د ایمانداران و څخه جوړ شوی دی چې د یو بل سره یو ځای شوي دي او په شریکه سره د خدای عبادت او د هغه کارونه سر ته رسوي. دا ایمانداران په ټولنه کې د کلیسا جوړونکي دي. په اعمال د رسولانو کې د لمړنۍ کلیسا په هکله ځینې مطلبونه لولو. او هدارنګه په دې کتاب کې لولو چې لمړنیو مسیحیانو څرنګه د کلیسا د جوړولو په اړوند په هره ټولنه کې پرمختګ کاوه او هلته به تلل. هغه اولینو ایماندارانو به ډېر غوښتل چې د یو بل سره کښیني او پاڅي او په شریکه د خدای عبادت وکړي.

د خدای د عبادت نه مقصد دا دی چې مونږ هغه ستایو او د بل هر یو شي نه ورته زیات احترام کوو. کله نا کله هغه یوازې ستایو او عبادت یې کوو، مګر ځینې وخت د خدای ستایل او عبادت د نورو ایماندارانو سره آسان کار دی.

خدای انسان داسې خلق کړیدی چې د نورو سره د تعلق لرلو غوښتونکي دی. نو په نتیجه کې دا طبعي خبره ده چې ایمانداران باید یو بل سره تمایل ولري او د یو بل سره راجمع شي او د خدای عبادت وکړي. هر کله چې د نورو ایماندارانو سره یو ځای او په شریکه عبادت کوو نو هم په خپله زړوریږو او هم د نورو د زړورتیا سبب ګرځو.

د خدای د عبادت لپاره مختلفې طریقې موجودي دي. مونږ ته زبور د مختلفو طریقو په باره کې درس راکوي. لکه د

هغه لپاره لاس وهل ، سرود ویل، ستاینه او ثنا ویل، دعا کول، او همدارنګه د موسیقۍ د آلاتو څخه هم استفاده کولی شو او نورې مختلفې طریقې موجودي دي. هر کله چې د نورو ایماندارانو سره د خدای عبادت لپاره راټولیږو، نو دې خبرې ته متوجې کیږو چې ډیر په تسلي سره خپله مینه محبت هغه ته ښودلي شو.

یو نفر د ډیر وخت څخه کلیسا ته نه راتلو. نو بیا د هغه شپون هغه ولید او ورته یې وویل چې اشتباه او غلطې کوي. نو شپون د دې لپاره چې هغه ته ور وښایې چې عبادت شراکت د نورو ایماندارانو سره څومره ضروری دی، نو د اور خوا ته لاړ او د هغې څخه ئې یوه سکروټه راوخسته. دا سکروټه د یو وخت پورې بلیدله او سره وه، مګر رو رو یخه شوه. هغه سړي یو مهم درس زده کړ. هر کله چې مونږ د هغه اور پوری تعلق لرو، نو په هغه وخت کې د خدای لپاره ډیره رڼا او شعله ور یو. د نورو ایماندارانو سره عبادت کول مونږ ته د زیات خدمت قدرت رابخښي.

د خدای د پرستش او عبادت بله طریقه د نورو خدمت کول دي. حقیقي عبادت، د مینې او مهربانې اظهارول د خدای سره دي او د هغې نه دا نتیجه په لاس راځي چې نورو سره باید مینه ولرو.

دا موضوع د مسیح په خبرو د متی **۲۵: ۳۱- ۴۰** کې بیان شوی ده. چې په لمړیو درسونو کې مو هغه ولوستل هر کله

چې د نورو خدمت کوو، نو په واقعیت کې د خدای په خدمت کولو لګیا یو.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو يې سر ته ورسوئ**

۱- په لاندې جملو کې کومه یو د نورو ایماندارانو سره د خدای د عبادت ارزښت بیانوي.

الف) قدرت پیدا کوو

ب) ډیر زیات په خپل ځان متکی کیږو.

ج) د نورو خلکو په خدمت کولو، خدای ته. جلال ورکوو.

د) په آرامۍ کې د خدای عبادت کوو.

ذ) په مشکله سره د خدای په باره کې فکر کوو.

۲- د خدای د عبادت د طریقو لست جوړ کړئ.

۳- په پورته۹ طریقو کې کومه یوه رویه د خدای په عبادت کولو کې تاسو سره مرسته کوئ.

## د نورو ایماندارانو سره شراکت لرل

په لمړۍ لوست کې مو ولوستل چې یوه معنیٰ د ټولنې له نورو سره شراکت لرلو څخه عبارت ده. مونږ ته د ټولو انسانانو سره د شراکت لرلو ضرورت دی. د ټولو نه ښه او اعلی طریقه د شراکت، کولی شو چې په مسیحیانو کې ووینو.

د ایماندارانو لپاره محلي کلیسا، د شراکت لرلو یو ښه ځای دی ځوانان کولی شي چې د تفریح په وخت کې د یو بل سره شراکت ولري او د دې امر څخه لذت واخلي. سپینږیرو ته هم د دې خبرې ضرورت دی چې یو بل وپیژني او په ټولو فعالیتونو کې د یو بل سره همکاري وکړي.

د کلیسا په فعالیتونو کې د شراکت له لارې څخه کولی شي چې د ټولنې هرې برخې ته ورسیږي. د روحاني فعالیتونو او ډرامو په وسیله کولی شي چې ټول ماشومان کلیسا ته دعوت کړي. په یوه پروژه کې کار کول او یا یو ځای ته چکر لپاره تلل د انسان د ښه پیژندو سبب کیږي. نو هر کله چې مونږ یو بل د نژدې نه وپیژنو، نو په هغه وخت کې په ښه طریقه کولی شو چې د احتیاج او ضرورت په وخت کې د یو بل سره مرسته وکړو.

په انجیل کی په ډیرو ځایونو کې د مسیح د ډوډۍ خوراک ذکر د نورو خلکو سره شویدي. مسیح به د دغه غیر رسمي

شرکتونو په وسیله د ضرورتمندو خلکو په منځ کې د خدای د کلام ژور حقایق او د زیري خپرولو کار لپاره ګټه اخستله.

مونږ ټول یو آرام وخت او استراخت ته د یو بل د پیژندلو او آشنایې څخه د لذت اخستو محتاجه یو. ډیر وخت داسې هم کیږي چې ځینې کسان چې د محلي کلیسا غړي نه وي، نو کولی شو چې په مختلفو طریقو سره د خدای او د کلیسا د شراکت لپاره دعوت کړو. محبت او توجه او مواظبت د یوې ټولنې په فعالیتونو کې څرګندیږي.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۴- مسیحیان د کومو خلکو سره ښه او بهتر شراکت لري؟

الف) د خپلو همکارانو سره.

ب) د خپلو ګاونډیانو سره.

ج) د کلیسا د ټولو ایماندارانو سره.

۵- د شراکت د ټولو نه مهم خوند او مزه عبارت ده له:

الف) د یو بل سره په شریکه د مقدس کتاب مطالعه او زده کول.

ب) یو بل د نژدې نه وپیژنو.

ج) خپل تکلیفونه هیروو.

## د یو بل سره په شریکه خدمت کول

د کلیسا د کارونو څخه یو مهم کار دا دی چې د ټولو ایماندارانو سره په شریکه د خدای کلام مطالعه کړی. په ډیرو کلیساګانو کې د یکشنبې په ورځ د مقدس کتاب د تدریس صنفونه جوړ شویدي. په ترتیب او منظمي طریقې سره د خدای کلام لوستل د هغه د مقصد او مرام د درک کولو لپاره ښه زمینه برابروي. د کلیسا مشران یو درس تیاروي تر څو مونږ سره په روحاني بلوغیت کې مرسته وکړي لکه څنګه چې هغوی زمونږ په منځ کې پدې طریقه خدمت کوي، نو په همدې وخت کې مونږ هم د نورو د خدمت کولو لپاره تیاریږو.

د تیطوس په دویم او دریم باب کې پولوس ډیرې خبرې د مسیحیان د یو بل لپاره د مسئولیت په هکله کړیدي. په دې آیاتونو کې پولس رسول د هغه موضوع ګانو په باره کې خبرې کوي چې د خدای د کلام د تعلیم په مطابق وي. د دې موضوع ګانو په هکله هغه خبرې کړي لکه د کونډو سره مرسته، ځوانانو ته تعلیم، غلامانو ته یې د خاکسارۍ او تابعدارۍ په هکله تعلیم ورکړی دی. دغه ټولې موضوع ګانې د هغه خدمتونو څخه دي چې کلیسا یې باید سر ته ورسوي.

هر کله چې خلک یو بل سره مرسته کوي، نو هغه کارونه به وکړي چې یو کس یې په یواځې توګه سر ته نشی رسولی. زما میرمن چې کوچنۍ وه نو د کاناډا په یو زراعتي منطقه کې یې اوسیدله. په هغه وخت کې بزګرانو د فصل د لو په وخت کې د یو بل سره مرسته کوله. نو چې د زراعت هیڅ قسم ماشین ئې ندرلود، خلکو به خپل کار پرېښود او د بزګرانو سره به یې د فصل او غلي داني د راټولو په وخت کې مرسته کوله. او په نتیجه کې به د یو بل په مرسته سره د غلي دانو ټول محصولات راټول شو. نو په یواځي ځان هیڅا دا کار په آسانتیا سره نشو کولی.

په کلیسا کې هم باید په دې اصول سره کار وشي. د مثال په توګه په کار دی چې مقدس کتاب د پښتنو په ژبه ترجمه شي. دا پروژه د یو کس او حتیٰ د یو کلیسا لپاره هم ډیر دروند بار دی. سر بیره پر دې ډیر ایمانداران باید د مختلفو کلیسا ګانو نه د مقدس کتاب په ترجمه کولو پیل وکړي.

په خدای کې به تدریجی ډول بلوغیت، د نورو سره د خدمت کولو تقاضه او تمایلات زیاتوي. په حقیقت کې ستاسو دنیا لوئیږي او د نورو خلکو په ضرورتونو او احتیاجاتو کې نور هم حساس کیږي. د نورو خلکو د لوږي خبر د عامو خلکو د ناراحتي سبب نه ګرځي. دا کار د دې خبرې باعث کیږي چې هغوی باید ډیر کار وکړي تر څو د خپلو ضروریاتو لپاره کافي پیسي پیدا کړي. خو کله چې مسیحیان دا خبره

واوري چې خلک د لوږي او تندي او تکليفونو په دام کې راګير دي او پوره خوراک نلري، نو د هغوی لپاره خفه او ناراحته کيږي. مسيح وفرمايل: "......کوم سړی ته چې زيات څۀ ورکړی شوي وي د هغۀ نه به زيات غوښتلي کيږي او څومره زيات چې چا ته څۀ سپارلي شوي وي، هومره زيات به د هغه غوښتلي شي" (لوقا ۱۲: ۴۸). د بلی خوا نه، که چيرې خدای تاسو ته ډير مال دولت درکړي وي، هغه د خدای له خوا نه تاسو ته برکت دی. او تاسو د هغوی د استعمال او د نورو خلکو د احتياجاتو لپاره مسئوليت لري.

هر کله چې تاسو واوري چې د دنيا په يوه برخه کې خلک خوراک ته ضرورت لري يا د طوفان او زلزلي په وجه د مشکلاتو سره مخامخ دي، آيا د داسې خبرونو اوريدل ستاسو د ناراحتی سبب ګرځي؟ د داسې موضوع ګانو خبر چې هر څومره تاثير په تاسو کوي، نو دا ستاسو د بلوغيت يوه نښه ده. د خپل ځان څخه دا قسمه سوالونه وکړی: آيا زه په حقيقت کې د خپل ګاونډي په فکر کې يم؟ آيا زما لپاره دا مهمه ده چې زر کسان د دنيا په بله برخه کې مړه شي؟ آيا د ټولې دنيا د خدمت کولو په شراکت سره خوشحاليږم؟ آيا په خپله کليسا کې د خدمت کوونکي د ضرورتونو لپاره مرسته کوم؟

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۶- خدای زموږ نه دا غواړي چې:

الف) هر څه چې لرو نورو ته یې وبښو.

ب) هغه برکت چې موږ له خدای نه حاصل کړیدي باید نورو سره مرسته وکړو.

ج) موږ هر وخت غوښتل، چې نورو سره مرسته وکړو.

۷- صحیح جملې معلومې کړئ:

الف) د یو واقعي او رښتیني ایماندار یوه نښه دا ده چې د نورو په فکر کې اوسي.

ب) هغه څوک چې په خدای کې ترقي کوي په تدریجي ډول سره د نورو د ضرورتونو په هکله احساس کوي.

ج) هر کله چې یو مسیحي اوري چې نور خلک په تکلیف کې دي د هغوی لپاره د خفګان او درد احساس کوي.

د) هغه کسانو ته چې لږ مسئولیت ورکړ شوی دی د هغوی نه به زیاته پوښتنه کیږي.

ذ) هر کله چې خدای تاسو ته په دې ژوند کې ډیر شیان درکوي، نو حتمي ستاسو څخه د زیاتو شیانو طمعه لري.

ر) هر کله چې خلک په شریکه یو بل سره مرسته او کار کوي، نو زیات کار کولی شي، نسبتاً هغه سړی ته چې یوائې کار کوي.

۸- لاندې سوالونو ته جواب ورکړۍ او د هغه جوابونو په مطابق د خپل ځان په هکله فکر وکړۍ:

الف) آیا تاسو په یوه محلي کلیسا کې شراکت لرۍ؟

ب) آیا په کلیسا کې په وفاداره ډول شرکت کوۍ؟

ج) آیا د ټولو ایماندارانو سره په شراکت کولو خوشالیږۍ؟

د) آیا خپلې کلیسا سره مالي مرسته او یا په بله طریقه مدد کوۍ؟

ذ) آیا ستاسو کلیسا د ټولنې لپاره خدمت او فعالیت کوي؟

ر) آیا په خپله کلیسا کې د لاندې فعالیتونو ضرورت او احتیاج وینئ؟

عبادت

شراکت

خدمت

تاسو چې تر اوسه پورې د یوې محلي کلیسا د ګټو او خوشالو او د هغوی څخه د لذت اخستل مو مطالعه کړل، نو د خدای څخه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي تر څو د ټولو ایماندارانو سره په تماس کې اوسي. نو په هغه وخت کې چې تاسو بیا د خپلې ټولنې لپاره کوم خدمت هم کوئ، نو هغه به ډیر زیات تاثیر ولري.

خپل جوابونه مقایسه کړئ

**۵**- ب)

۱- الف) صحیح

ب) غلط

ج) صحیح

د) صحیح

ذ) صحیح

ر) غلط

۲- ستاسو انتخابي جواب: ځیني جوابونه عبارت دي له یو بل سره د خوراک کولو نه، خبرې کول، په یوه پروژه کې یو ځای کار کول، د یو بل په کار کې شریکیدل.

۲- امکان لري چې ستاسو لیست کې دا شیان شامل وي: سرود ویل، عبادت کول، د موسیقي د آلاتو څخه ګټه اخستل، لاس وهل، دعا کول او یا د نورو خدمت کول.

۷- ب

۳- ستاسو انتخابي جواب

۸- الف) صحیح

ب) صحیح

ج) صحیح

د) غلط

ذ) غلط

ر) صحیح

۴- ج)

۹- ستاسو انتخابي جواب: که چیرې ستاسو جوابونه د ځینې سوالونو په هکله منفي وي، د هغوی په باره کې زیات فکر وکړۍ. د هغه طریقو په باره کې فکر وکړۍ چې د هغوی په وسیله تاسو کولی شۍ چې خپله رابطه د خدای سره د محلي کلیسا په ذریعه قوي کړۍ.

## د ټولنې سره مرسته کول

تقریباً د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د سرهٔ صلیب سازمان کار کوي. د هغوی کار د انسانانو خدمت دی. هغوی د طوفان، زلزلو، نورو افتونو د صدمی په وخت کې خلکو سره مرسته کوي. هغوی د نړۍ په هره برخه کې، لکه افریقا، آسیا، لاتینه امریکا، اروپا هر ځای کې خلک احتیاج وي، ورسره مرسته کوي.

د سرهٔ صلیب سازمان د خلکو د بخششونو په وسیله حمایت کیږي. سرهٔ صلیب ته خلک پیسي د ضرورت نقلیه وسایل حتیٰ وینه ور کوي چې د مشکلاتو او تکلیفونو په وخت کې د محتاجه خکلو د مرستې لپاره تیار او چمتو اوسي. خلک په دې دلیل هغوی سره مرسته نه کوي چې ګنې هغوی ته به څهٔ ورکړ شي، خو په دې دلیل سره چې د تکلیقونو په وخت کې هغوی د نورو د خدمت کولو جوګه اوسی.

نو د همدې دلیل په وجه باید زمونږ خپلې ټولنې سره مرسته وکړو. مونږ باید د دې په خاطر مرسته ونکړو چې د هغه مرستي پر ځای مونږ ته څه راکړل شي، خو د خپل استعداد او علم او پیسو څخه د دې لپاره د خپلې ټولنې سره مرسته کوو چې د دې کارونو سر ته رسول ښه او صحیح دي. مونږ

او تاسو به په دې لوست کې ولولو چې څنګه د خپلې ټولنې د خدمت لپاره په ښو او بهترینو طریقو خپل ځان تیار او چمتو کړو.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ

د خدمت لپاره تیاریدل

خدمت کول

د مهارتونو په کار اچول

دا درس به تاسو سره مرسته وکړي تر څو .........

هغه مهم خدمت چې تاسو یې د خپلې ټولنې لپاره کولی شئ تشخیص کړئ.
خپل ځان تیار کړئ چې تر څو په خپله ټولنه کې د مسیح یو شاهد اوسئ.
بیان کړئ چې ستاسو مهارتونه څنګه د خپلې ټولنې لپاره د مرستې او خدمت سبب کیدای شي.

د خدمت لپاره تیاریدل

مخکې لدې نه چې وغواړو د نورو خلکو خدمت وکړو، باید چې د ابتدا نه د هغه خدمت لپاره تیار او چمتو اوسو. د یو مسیحي د ټولو نه لوی خدمت چې د خپلې ټولنې لپاره یې

سر ته ورسوي، دا دی چې د نورو خلکو په مسیح باندې د ایمان راوړلو باعث شي. دری خصلتونه دي چې د هغوی په وسیله کولی شي چې خپله ځان د مسیح د خدمت لپاره تیار کړي، تر څو چې په خپله ټولنه کې د مسیح شاهدان اوسي. هغه عبارت دي له:

## الف: د خلاصون په هکله باور درلودل

تاسو څنګه کولی شي چې په خپل کور کې د امن او امنیت احساس ولری؟ یعني په خوب کې چې په دې باور ولری چې ټولي دروازي بندي او قلف شوي دي. تاسو څنګه کولی شي چې د خپل خلاصون په هکله مطمئینه اوسي؟ د خدای سره د یوې نژدې رابطي په وسیله. تاسو کولی شي چې دا کار د خدای د کلام او د دعا له لارې سر ته ورسوي. هر کله چې تاسو د یو کتاب لیکونکې وپیژنی، د هغه د کتابونو لوستلو لپاره به ډیر شوق او علاقه ولری په همدې ترتیب چې څومره زیات خدای وپیژنی، نو دومره به د مقدس کتاب مطالعه زیاته کوی.

زمونږ احساسات کله نا کله د دې خبرې باعث کیږي چې د خپل خلاصون په هکله شک وکړو. ستاسو باور او ایمان په خدای باندې باید د هغه شي په بنیاد باندې ولاړ وي چې ستاسو په خپلو احساساتو باندې. تاسو که چیرې دا محسوسوي چې د هیچا هم خوښ نه یاست، باید په دې پوه

شی چې د خدای خوښ یاست؛ که چیرې تاسو دا احساسوي چې ماتي مو خوړلي ده، خوشحالي وکړي، ځکه چې د خدای تر اوسه پورې هم خوښ یاستی. د هغه محبت قبول کړی او خپل ایمان زیات د هغه په کلام باندې محکم کړی نه هغه چې احساسوې.

تاسو که چیرې په خدای کې کمزوري شوي یاستی او یا د ځینو دلایلو په وسیله د خپل ایمان او د خدای په هکله د مشکلاتو سره مخامخ شوي یې، نو دا آیاتونه د افسیانو د خط ۲: **۴- ۵** څخه ولولی.

"خو خدای چې په رحم غني دی هغه د خپلې لوئې مینې په سبب چې هغهٔ زمونږ سره وکړه چې مونږ چې د ګناهونو په وجه مړهٔ وو نو مونږ ئې د مسیح سره بیا ژوندی کړو. تاسو په فضل خلاصون موندلی دی."

آیا تاسو کولی شی چې په خپل کوشش سره د خدای سره محبت ولری؟ نه، تاسو نشی کولی. نو بیا د خدای دا مفته بخښنه قبوله کړی او داسې ژوند تیر کړی چې خدای ته څرګنده کړي چې د هغه شکر ګذاره یاست. او د خدای په محبت کې آرام وکړی.

"سربیره پردې، نو بیا کوم کار کیدا شي چې د دې سبب شي چې مسیح نور مونږ سره مینه ونکړي؟ هر کله چې مونږ د تکالیفو سره مخامخ شو، او یا سختی او بې وفایي منځ ته راشي، آیا د دې علت دا دی چې مسیح نور مونږ سره مینه

نلري؟....... نه هیڅکله نه! سره د دې ټولو تکلیفونو او مصیبتونو کامله کامیابي زمونږ ده! هغه څنګه؟ ځکه چې عیسی مسیح مونږ سره دومره مینه وکړه چې خپل ځان یې زمونږ لپاره قربان کړ!"

ب: په دې خپره باندې پوهیدل چې یو سړی څنګه باید د خدای طرف ته هدایت کړو

آیا تر اوسه پورې تاسو ته چا ویلي دي: "زما پسې راځئ، زه لاره پیژنم" او پس له هغې نه ستاسو د ورکیدو سبب شي؟ په داسې شرایطو کې د انسان څخه د خوښي امید او احساس نه کیږي ځکه چې مونږ دا خوښوو چې د هغه کسانو څخه پیروي وکړو چې په رښتیا سره لار پیژني.
که چیرې مونږ وغواړو چې خلک د خدای طرف ته رهنمائی کړو، مونږ باید په خپله د لارې نه خبر واوسو. د خدای په کلام کې ډیر داسې آیاتونه موجود دي چې خلک د خدای طرف ته رهنمائی کوي.
د نورو خلکو د مرستې لپاره دا لاندې آیاتونه ګټور دي:
رومیان ۳: ۲۳ ځکه چې ټولو ګناه کړي ده او د خدای د لوئي نه محروم دي.
نو په دې خاطر یو خلاصونکي ته ضرورت لري.
رومیان ۶: ۲۳ ځکه چې د ګناه بدل مرګ دی خو د خدای بخښنه زمونږ په مالک عیسی مسیح کې د تل ژوندون دی.

یوحنا ۳: ۱۶ خدای د دې دنیا سره داسې مینه وکړه چې خپل یکې یو زوی هم ورکړو .... نو خدای زمونږ د ګناهونو لپاره قرباني تیاره کړه.
اول یوحنا ۱: ۹ که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړي او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړي.
اول یوحنا ۵: ۱۳ دا خط تاسو ته دا یقین در کوي چې تاسو د تل ژوندون لرئ، ځکه چې تاسو د خدای د زوی په نامه ایمان راوړئ.
که چیرې تاسو غواړي چې د دې آیاتونو څخه استفاده وکړئ او خلک د مسیح طرف ته رهنمائی کړئ نو باید لمړي دا آیاتونه په یاد زده کړئ. د لمړئ آیات حواله د خپل مقدس کتاب په پوښ باندې ولیکئ او پس له هغې د صفحې په اخري برخه کې چې لمړئ آیات په کې لیکل شوي دی د بل آیات حواله په کې درج کړئ او هم دا عمل د دې پنځه واړه آیاتونو سره سر ته ورسوئ. نو اوس تاسو په یوې ساده او مؤثره طریقې کولی شي چې د خدای د کلام څخه یو سړی د مسیح په لور راهنمائي کړئ. تاسو د خدمت لپاره تیار یې. هر کله چې تاسو یو آیات پیدا کړئ چې ستاسو د شهادت لپاره ګټور وي نو په همدې طریقې سره یې ثبت کړئ.

ج: په روح القدس باندې متکی اوسی

تاسو چې هر څومره هم په مقدس کتاب باندې ښه پوهیږی، خو بیا هم په روح القدس باندې متکي اوسی. هغه به تاسو هدایت کړي. او د شهادت ورکولو په وخت به صحیح او مناسب لغتونه ستاسو په ذهن کې راولي.

دا روح القدس دی چې خلک د خدای طرف ته بیایې او هغوی په خپلو ګناهونو باندې قانع او مجرموي. روح القدس د هر یو انسان د زړۀ څخه خبر دی. لکه څنګه چې تاسو د روح القدس د رهنمائی لپاره دعا کوی، هغه تاسو سره مرسته کوي تر څو د مسیح په باره کې د خپل شخصي شهادت ور کولو په وسیله خپلې ټولنې ته خدمت وکړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱- بې لدې نه چې دې درس ته مراجعه وکړی، د هغه درې خصلتونو نوم واخلي چې د هغوی په وسیله تاسو کولی شی چې په خپله ټولنه کې د مسیح شاهد اوسی.

الف) ..........

ب) ...........

ج) ............

۲ - لاندې جملې پوره کړئ:

الف) د یو کتاب لوستلو سره به ډیر علاقه ولرم خو که په شخصي ډول د هغه ........ وپیژنم.

ب) زما د خدای سره رابطه او اعتبار نه چې په هغه شي باندې ......... ولاړه وي.

ج) دا د خدای له فیض او برکت سبب دی چې .......... پیدا کړی دی.

د) د یو انسان د خدای په لور د صحیح هدایت او د خلاصون د تجربې لپاره دا خبره ضروري ده چې هغه په .......... وپیژنم.

ذ) د خدای په لور د نورو خلکو د هدایت کولو لپاره دا ضرور ده چې د .......... مرسته حاصله کړو.

## خدمت کول

ډیرې طریقې وجود لري چې د هغوی په وسیله مسیحیان کولی شي چې خپلې ټولنې ته خدمت وکړي او په هغې باندې تاثیر واچوي. نو چې مونږ مسیحیان یو، باید چې د خپلو ښاریانو، ګاونډیانو، او ملګرو سره ښه اوسو. زمونږ ټولنه باید په یو ښه محیط باندې بدله شي، ځکه چې مونږ هلته اوسیږو. مونږ که چیرې غواړو چې د خدای د پیژندلو

په اړوند په خپل ځای کې ښه تاثير ولرو، نو بايد چې په خپله ټولنه کې خدمت او فعاليت وکړو. خو بايد چې لمړی دا تصميم ونيسو چې کوم فعاليتونه ښه دي او کوم يو زمونږ مسيحی شهادت لپاره مضر تماميږي. څنګه تصميم نيسو؟

مخکې د هر څه نه هغه وخت چې مناسب وي تصميم ونيسي چې آيا پدې فعاليت کې برخه ولرو او که نه، د خپل ځان څخه سوال وکړی: "آيا دا کار د خدای د کلام د اساسي قانون په خلاف دی؟" که چيرې ستاسو جواب منفي وي، نو بيا د خپل ځان څخه دا سوال وکړی: "آيا پدې فعاليت کې په برخه درلودلو سره کولی شم چې د خدای لپاره شاهد اوسم؟" که چيرې ستاسو جواب مثبت وي او د هغې لپاره مو دعا کړی وی، نو بيا په هغه فعاليت برخه واخلی.

کۀ چيرې تاسو په فعاليت کې برخه واخستله او بيا وروسته متوجه شوی چې دا فعاليت د پورتنی اصولو په مطابق ندی او د هغې سره يوالی نلری، نو د هغه فعاليت څخه لاس واخلی او د خدای شکر وکړی چې تاسو ته يې دا تعليم در کړی دی. روح القدس به تاسو ته د داسې تصميم نيولو په هکله حکمت دروبښي.

ډير داسې لارې او طريقې موجودي دي چې هغوی په وسيله يو مسيحي کولی شي چې د خپلې ټولنې په فعاليتونو کې برخه ولري او اجازه ورکړي چې د هغه رڼا او نور په نورو

خلکو باندې وځلیږي. د مثال په توګه: تاسو که چیرې یو خیانت او جنایت وینئ، نو باید پولیس خبر کړئ او د یو ښه ښاري او شاهد په صفت خپله وظیفه سر ته ورسوي. او هم کولی شي چې د خپلې ټولنې د ځوانانو لپاره ګټور پروګرامونه ترتیب کړي، تر څو د هغوی د بد فعلي څخه مخنیوي وشي.

مسیحي میندې او پلرونه او ټول مسیحیان کولی شي چې د مکتبونو عمده او غوره مسئولیتونه په خپله غاړه واخلي او په هره طریقه چې امکان ولري، د مکتب معلمانو او مسئولینو سره مرسته وکړي. حتیٰ دا هم امکان لري چې د هغوی د مرستې په ذریعه مسیحي معلمان په مدرسو او مکتبونو کې مقرر شي. په مناسب وخت که باید تاسو د خپل ځان نه دا ښکاره کړئ چې مکتب باید یوه کتابخانه او ښه او عالي کتابونه ولري.

په ټولنه باندې د تاثیر لرلو بله ښه طریقه دا ده چې باید سړی د ټولنې د اهمو شخصیتونو د جملې څخه کله د پولیس صاحب منصبانو، ډاکټرانو، معلمانو او تجارانو سره ښه روابط او ملګرتوب ولري. او کوشش وکړي چې چانس پیدا کړي چې ستاسو په ژوند کې هغه کارونه چې خدای تاسو لپاره کړې د هغوی په هکله دوی ته شهادت وکړي. کوشش وکړئ چې د ښاروال او د حکومت د نماینده

ګانو سره آشنا شی. او دا خبره یاده لری چې دوی هم مسیح ته ضرورت لري.

د ټولنې د خدمت د ټولو هغه رویو او طریقو نومونه اخیستل چې ورڅخه باید کار واخستل شي یو غیر ممکنه خبره ده. د انتخاباتو په وخت کې زمونږ د مسیحیانو دا وظیفه ده چې هغه چا ته رای ورکړو چې هغه د صحیح کارونو او قانون جوړولو لپاره خلک تشویقوي. که چیرې خلک غواړی چې په ټولنه کې د مهم ځایونو د جوړولو لپاره چنده وکړی، نو مسیحیان هم باید پدې فعالیت تکې برخه واخلي.

د نورو خلکو سره د اړیکو لرلو په مناسبت، خصوصاً د کار په اړوند ، نو دا ډیره مهمه خبره ده چې د مسیحیت یوه ښه مثال قایم کړو. "هیڅوک دې ستا ځوانی ته سپک ونه ګوري، بلکه ته د ایمان راوړونکو لپاره په خبرو کولو، چال چلن، مینه، ایمان او پاکی کې نمونه جوړ شه" (اول تیموتیوس ۴: ۱۲).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

**۳- صحیح جملې معلومې کړئ:**

الف) یو مسیحي کولی شي چې په هر یو فعالیت کې برخه واخلي خو پدې شرط چې د مسیح په هکله شهادت ور کړي.

ب) که چیرې یو مسیحي په یو فعالیت کې برخه اخستي وي او بیا وروسته متوجه شو چې د خدای د کلام په مطابق باید په هغه فعالیت کې برخه نه وې اخستي، نو باید د فعالیت د جاري ساتلو څخه لاس واخلي.

ج) که چیرې یو مسیحي وغواړي چې نور خلک دی وپیژنی چې ګنی هغه مسیحي دی نو باید چې په هر فعالیت کې برخه واخلی.

د) ستاسي مسیحي کیدل دې د دې خبرې سبب شي چې تاسو یو ښه همسایه، ښاری او ښه ملګري یئ.

**۴-** په لاندې موضوع ګانو کې کومه یوه ښه او مناسبه نمونه د هغه روح ده چې دا په ګوته کړئ چې باید په مسیحي ټولنه باندې حاکم اوسئ:

الف) جان په انتخاباتو کې برخه وا نه خستله ځکه چې هغه سړی چې منتخب شوی د هغه د خوښي په مطابق نه وو.

ب) جیم د مکتبونو د مدیرانو څخه دا وغوښتل چې د فوټبال د لوبو نه وروسته دې نور فعالیتونه د ځوانانو لپاره تیار کړی شي.

ج) روت – په هفته کې دوه ځله روغتون ته ځي چې مریضان ووینې او هغوی ته خطونه ولیکی او یا هغوی ته ولولی.

د) مریانه غواړی چې د مکتبونو په فعالیتونو کې برخه ولري ځکه چې د هغې تحصیلات د معلمانو د تحصیلاتو په سویه نه دي.

ذ) رابرت ولید چې یو ځوان هلک د انبارخاني څخه غلا وکړه، خو هغه نه غوښتل چې په هغه موضوع کې مداخلت وکړي، هیڅوک ئې خبر نکړل.

ر) فیلیب تصمیم ونیوه چې په چوکونو کې به په پولیس، پسته رسان او خپلو ګاونډیانو باندې سلام آچوي.

## د کسبونو څخه کار اخستل

جان براون په خپله ټولنه کې د یو ښه ګلکار په صفت پیژندل شویدی. ښاروال د هغه څخه وغوستل چې په دواطلبانه ډول د ښار په منځ کې د تفریح ګاه په جوړولو کې مرسته وکړي.

جان یو مسیحي دی. هغه څو کاله وړاندې په مسیح باندې ایمان راوړو. ټول خلک هغه ته یو پوه او ماهر کار کوونکي په سترګه ګوري او د هغه عزت او احترام کوي. هغه خپلې نظریې د ښار د تعمیرونو د آبادولو په هکله ښاروال ته وړاندې کوي. ټول خلک خوشحاله دي ځکه چې ټول په جان براون باندې باور لري.

۱- جان براون یو پوه او ښه ګلکار وو.

۲- هغه د خپل کسب نه د خپلې ټولنې د ښیګڼې لپاره کار واخست او د ټولنې د خوشحالي سبب شو.

دا دوه کارونه چې د ټولنې د پاملرني او دلچسپۍ سبب شوی دي. ډیر خلک پدې باندې نه پوهیدل چې براون یو مسیحي دی. خو هغه خلکو چې پدې پروژه کې له ده سره یو ځای کار کاوه هغه به یې وپیژني. د براون د خدای سره مینه ده او د مسیحي ژوند اصول په دهٔ کی لیدل کیږي. کیدی شي چې تاسو هم داسې یو کسب یاد وي چې ستاسو د ټولنې لپاره ګټور وي. آیا تاسو کولی شۍ چې د خپل مهارت څخه د نورو د خدمت لپاره کار واخلۍ؟ که چیرې

ستاسو جواب مثبت وي. نو بیا تاسو د نورو خلکو لپاره د برکت سرچینه یی. او وخت لري چې د خپل کار د طریقې څخه، د نورو د مرستې لپاره، د مسیح په هکله شهادت ورکړی.

یوه ټولنه ډیرو کسبونو ته ضرورت لري. د مثال پو توګه: دهقاني، ګلکاري، پرستاري، د ماشومانو ساتل، د ټولنې د ښائست او پاکوالي سره مرسته کول. ستاسو خاص قدرت او توان څه شی دی؟ آیا تاسو هغه وخت خدای ته او خپلې ټولنې ته وقف کړی دی؟ "تاسو ویړیا موندلی، ویړیا ئې ورکوی" (متی ۱۰: ۸).

## ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

**۵**- د هغه دوه طریقو نومونه واخلئ چې د خپلو کسبونو په وسیله نورو خلکو ته کولی شئ چې شهادت ورکړئ؟

**۶**- په ټولنه کې مو د کومو طریقو په وسیله فعالیت کړیدی؟

**۷**- د هغه طریقې نوم واخلئ چې کوشش کوئ چې د هغې په وسیله په ټولنه کې زیات فعالیت کولی شئ؟

**خپل جوابونه مقایسه کړئ**

**۵**- ستاسو انتخابي جواب:

۱ - الف) په خلاصون باور لرل.

ب) په دې خبره پوهیدل چې څنګه کولی شو چې یو سړی د خپل خدای په لور هدایت کړو.

ج) په روح القدس باندې متکی کیدل.

**۵**- ستاسو انتخابی جواب: لکه څنګه چې د خپلو کسبونو په وسیله د خپلې ټولنې په ګټه کارونه کوئ، خلک ستاسو هغه شهادت چې د مسیح په باره کې ئې ورکوئ وینې او تاسو کولی شئ چې هغه د مسیح په لور هدایت

کړی. تاسو کولی شی چې د خپلو اخلاقو او فعالیتونو په سبب د خپلې تولنې لپاره د برکت باعث اوسی.

۲- الف) لیکونکی.

ب) احساسوم.

ج) خلاصون.

د) د خدای کلام.

ذ) روح القدس.

۲- ستاسو انتخابی جواب: آیا تاسو د نورو طریقو نوم هم اخستلې شی؟

۳- الف) غلط (دا د فعالیت د مقررولو لپاره صرف یو د مناسبو شرایطو څخه وي.)

ب) صحیح

ج) غلط

د) صحیح

**۷- ستاسو انتخابي جواب:** هر کله چې تاسو د هغه څه نه ويړيا ورکوی، کوم چې تاسو ته خدای درکړي دي، خدای به تاسو ته برکت درکړي.

**۴- الف) د کړو وړو اشتباهی طريقه**

**ب) د کړو وړو مسيحي طريقه**

**ج) د کړو وړو مسيحي طريقه**

**د) د کړو وړو اشتباهی طريقه**

**ذ) د کړو وړو اشتباهی طريقه**

**ر) د کړو وړو مسيحي طريقه**

## په ټولنه کې د خدمت کولو جاري ساتل

د اروپا په پوهنځي کې یو پروفیسر په لمړی نړیواله جګړه کې، محصلینو ته درس ورکاوه د جګړی په سبب یو فرمان صادر شو چې درسي صنفونه دې رخصت شي. نو په نتیجه کې محصلینو د ډیرو کلونو پوري ونشو کولي چې صنفونه ته راشی او په درس کې برخه واخلی.

هر کله چې ښونځي او پوهنځي بیا فعال شو، نوموړي پروفیسر خپله لمړۍ جلسه په دې کلیمو سره شروع کړه: "لکه څنګه چې مې ویل....." هغه هماغه لوست ته ادامه ورکړه کوم چې د رخصتي څخه دمخه شروع کړی وو. دا د تداوم ورحیې د یو قوی او محکم تصمیم ښکاروندی دی. آیا داسې نه ده څه؟ مونږ د ټولنې سره د داسې رابطې ساتلو د ادامې محتاج یو، داسې قاطع تصمیم باید ونیسو. پدې لوست کې به ووینې چې په کومه طریقه کولی شي چې هغه اصول چې تاسو زده کړیدي. په دوامداره توګه ورڅخه کار واخلۍ. د ټولو څخه مهمه طریقه عبارت ده په روح القدس باندې متکی کیدل. پولوس رسول تیموتیوس ته داسې وایې: "خو ته په هغه خبرو چې تا زده کړي دي او د کومو چې تا ته یقین درکړی شوی وو، په دې نیت قائم اوسه چې تا هغه د کومو خلکو نه زده کړي وي" (دویم تیموتیوس ۳:

۱۴). روح القدس به تاسو سره مرسته کوي چې په خپله ټولنه کې د پایښت څخه باخبره اوسۍ.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولی

تاسو پخپله اوسۍ
خپل مسیحي شهادت وساتۍ
په روح القدس باندې متکي اوسۍ
هغه ښکاره کونکی دی
هغه ښونکی او یاد راوړونکی دی

دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو.....

د مسیحي شهادت درک او اهمیت پیژندل. هغه شهادت چې شخصي او د باور وړ دی.
په روح القدس باندې باور وکړۍ تر څو تاسو په خپله ټولنه کې د خدمت جاري ساتلو رهنمائی کړي.

تاسو پخپله اوسۍ

یو ځواني زیرې ورکونکۍ ښځې تصمیم درلود چې د زیري ورکولو لپاره یو هیواد ته لاړه شي د رادیو په وسیله یې د هغې څخه پوښتنه وکړه "تاسو په هغه ځای کې څه کار کول غواړۍ؟" هغې جواب ورکړ: "زه غوارم چې په هغه ځای کې هغه څه اوسم د کوم چې زه دعوه کوم چې یم."

آیا تاسو چې هغه څه وایې هغه څه یې؟ په رښتیا سره که چیرې تاسو په خپله یې، نو ښه ده. که چیرې تاسو خپل رفتار په ظاهري توګه ښکاره کړی، کوم چې په عام حالت کې نه ښکاره کوي نو په هغه وخت کې تاسو د خپله ځانه ښه تصویر نه ښکاره کوی.

د خدای پیژندلو په اړوند، د ټولو نه ښه رویه او کردار چې په ټولنه باندې تاثیر لري، هغه دا دی چې په هر وخت کې باید تاسو ښه رفتار او کردار ولری. که چیرې ستاسو شخصیت هغه څه نه دی کوم چې ستاسو خوښیږي، د روح القدس نه وغواړی چې تاسو ته نوې شخصیت درکړي. ګټور او با ارزښت اوسی تر څو چې خلک همیشه په تاسو باندې باور وکړي. د خدای نه دعا وغواړی چې تاسو په هغه څه تبدل کړی چې باید تاسو هغه شان اوسی کوم چې خدای له تاسو نه د هغه انتظار کوي.

آیا خلک یوه ورځ تاسو خوشحاله او بله ورځ غمګین وینی؟ آیا تاسو د هغه ناخوښه واقعاتو چې امکان لري چې په ورځنې ژوند کې ورسره مخ کیږي د یو باثبات او د اعتبار وړ شهادت څخه معموره یې؟

د مسیح په هکله ټولو نه موثره شهادت د هغه کسانو په وسیله ورکولی شي چې په هر وخت کې د هغوی اخلاق او رفتار بلکل صحیح وي. روح القدس د یو نفر د ټولو نه غټ تغیر ورکونکی د هغه شخصیت دی. که چیرې تاسو د

خوشحاله شخصیت څخه معموره نه یاست، نو د خدای نه وغواړۍ چې ستاسو شخصیت ته تغیر ورکړۍ. نو په هغه رفتار او اخلاقو باندې شروع وکړۍ کوم چې خدای ستاسو څخه غواړي.

زما یو ملګری چې جان نومیږي هغه بد اخلاقه او د بد ګمانۍ شخصیت درلود. تر دې چې هغه یو مسیحي وۀ، خو داسې دلیلونه به ئې د خپل اخلاق او سلوک په باره کې وړاندې کول چې ویل به یې چې زه هر څومره کوشش کوم، نشم کولی چې بل سلوک او رفتار ولرم. نو بیا یوه ورځ هغه دې خبرې ته متوجه شو چې خدای کولی شي چې د ده سره مرسته وکړي تر څو په یو بل شخص باندې تبدیل شي. هغه د دې کار تمرین شروع کړ چې خوش اخلاقه او همیشه خوشحاله وي تر دې چې دا خاصیتونه د هغه طبیعي شخصیت وګرزیدلو.

په اول کورنتیانو ۱۴ : ۸ آیات کې داسې لولو: "که چیرې د بګل آواز صفا نه وي، نو جنګ ته به څوک ځان تیار کړي؟" دا په دې معنی دی چې ستاسو ژوند باید یو روښانه تصویر د هغه څه وي چې باید یو رښتینۍ مسیحي ولري او نورو ته یې ورکړي. که چیرې خلک دا باور ونلري چې تاسو یو مسیحي یې، هغه وخت چې تاسو د هغوی سره د مسیح په هکله خبرې کوۍ، ستاسو شهادت به موثره نه وي. خپل

ژوند اصلاح کړی، نو په هغه وخت کې به نور خلک ستاسو ځخه پیروي وکړي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱- هر کله چې یو سړی چې د هغه حقیقت ځخه خوشحاله نه وي کوم چې هغه وي نو ځنګه کولی شي چې خپل شخصیت ته تغیر ورکړي؟

۲- د دې لپاره چې زمونږ شهادت د ټولنې لپاره موثره ثابت شي، نو بیا دا خبره ولې ضروري ده چې ښه او سالم شخصیت ته په خپل ځان کې وده ورکړو؟

۳- ښه شهادت د مسیح په هکله د هغه کسانو په وسیله ورکول کیږي چې:

الف) د خلکو د خبرو او د هغوی د رفتار او انداز په هکله مطالعه کوي.

ب) خپل مقدس کتاب د خپل ځان سره چې هر چیرې ځی وړی.

ج) تل د هغوی د ژوند انداز او اخلاق او سلوک صحیح دی.

## خپل مسیحي شهادت وساتئ

هر کله چې ۱۷ کلن وم د مکتب څخه فارغ شوم او په یو لوي شرکت کې مې وظیفه پیدا کړه. په لمړي ورځ، هر کله چې د کور څخه د وظیفي په لور روان شوم، مور مې ماته وویل: "زویه! دا خبره یاد لره چې زوړ ماهي په کوم لور چې اوبه رواني وي حرکت کوي، خو صرف هغه ماهیان چې ځوانان دي هغوی په مخالف لور باندې لامبو وهي."

ما هیڅکله د خپلې مور دا خبره هیره نه کړه. د هغه وخت نه وروسته مې تل دا کوشش وکړ چې د اوبو د جریان په مطابق حرکت ونکړم. د نورو خلکو سره فرق لرل څه آسان کار نهٔ دی. کله کله امکان لري چې په کوم ځای کې کار کوئ یوازي یو مسیحي اوسئ. که چیرې مونږ غواړو چې خپل مسیحي شهادت وساتو، نو باید د مسیح په لار بنود باندې تلل وکړو. که څه هم چې د نورو په شان سلوک کول ترې آسانه وي.

په اول پطروس ۳: ۱۵ کې مونږ ته نصیحت شوي دی چې: "بلکه مسیح مالک وګڼئ او په خپلو زړونو کې ئې مقدس ګڼئ، او چې څوک ستاسو نه ستاسو د امید د وجې تپوس وکړي هغه د جواب ورکولو د پاره هر وخت تیار اوسئ، خو په نرم مزاجئ او په احترام سره." زمونږ امید عیسی مسیح دی چې مړ شو او د مړو نه بیا را ژوندی شو تر څو مونږ په هغه کې ابدی ژوند ولرو. که چیرې مونږ غواړو چې د نورو

سره د مسیح په پیژندلو کې مرسته وکړو، نو باید چې هر کله د خپل ځان نه یو ښه مسیحي شهادت ورکړو. آیا تاسو په دې پوهیږئ چې خدای تاسو ډیر ښه پیژني؟ دا بلکل رښتیا دی. په دې هکله د خدای کلام ته مراجعه وکړئ: "او د خدای نه د خلکو هیڅ څیز پټ نۀ دی بلکه د چا سره چې زمونږ حساب دی، د هغۀ په نظر کې ټول څیزونه څرګند او بې پردې دي" (عبرانیان ۱۴ : ۱۳).

خدای غواړی چې زمونږ په وسیله خپل ځان خلکو ته ښکاره اوپیژني. مونږ که چیرې د دې کار په سر ته رسولو کې څه قصور وکړو، په حقیقت کې د خپل شکست او ناکامي سبب شوي یو. ستاسو شهادت د مسیح په باره کې باید یو خاص او شخصی معامله اوسي، بې له دې نه چې نورو ته پام وکړو. شاید چې تاسو یوازني څوک اوسي چې خدای د هغه نه استفاده کوی تر څو نور خلک د مسیح طرف ته رهنمائي کړی. د خلکو نجات د شهادت ورکولو په اړه لري کوم چې مونږ په خپل عملي ژوند کې هغوی ته ورکوو. هغوی ته اجازه ورکړئ تر څو هغوی ستاسو په ژوند کې د خدای د فیض او برکت نتیجه ووینې.

که چیرې غواړو چې د خپلې جامعی په مسیح باندې ایمان راوړلو سبب شوو، باید چې ډیر ځلیدونکي او آواز اوسو. د دې کار مطلب دا دی چې هغوی ووینی چې په حقیقت کې مونږ څه یو. زمونږ ژوند باید د یو کتاب غوندې خلاص

وي. تر څو د دنیا ټول خلک وکولی شي هغه ووینی پولوس رسول وایې: "تاسو زما په قدم وچلیږئ لکه چې زه د مسیح په قدم چلیږم" (اول کورنتیان ۱۱: ۱). آیا تاسو کولی شی چې هم دا خبره په خپله ټولنه کې وکړئ؟

ستاسو کار

هغه څه چې تاسو یې باید سر ته ورسوئ

۴- په لاندې موضوع ګانو کې کوم یو صحیح او مثبت او شخصی مثال دی؟

الف) تاسو نه د کوم کار د سرته رسولو خواهش چې ستاسو ملګرو کړی دی هغه کوي او سره د دې چې په دې پوهیږی چې دا کار غلط دی، ولې نه غواړي چې د هغه د ناراحتی سبب شئ، نو د هغوي تقاضا پوره کوئ.

ب) که چیرې مثبت جواب ور کول زمونږ مسیحي شهادت ته صدمه رسوي، نو باید منفي جواب ور کړو.

ج) هر کله چې ستاسو کار ستاسو د تقسیموقات په مطابق نه دی شوی نو خپل ځان خفه او مسئول ښکاره کړئ.

د) په هغه نورو کارونو کې هم فعالیت ښکاره کړي کوم چې ستاسو وظیفه نۀ ده.

ذ) ښه او مینه ناک سلوک کوی، سره دې که ستاسو طبیعت هم ښه نۀ وي.

په لاندې کارونو کې، کوم یو د هغه خلکو په شان دي چې مسیحی نه پیژني؟

الف) خپل ټول کوشش د مسیح په هکله په شهادت ور کولو کې سرته رسوو، خو که چیرې هغوی د مسیح په منلو کې خوښی څرګنده نه کړه، نشو کولی چې د هغوی سره مرسته وکړو.

ب) زما د ژوند هره برخه د هغه خلکو د پاره چې مسیح نه پیژني، باید شهادت اوسي، په داسې طریقی سره چې زمونږ دا شهادت د هغوی د پاره مسیح څخه د لرې کیدلو سبب نه شي.

په روح القدس متکی اوسی

هغه ښکاره کوونکی دی.

مخکې له دې نه چې مسیح آسمان ته وخیژی خپلو شاګردانو ته ئې وویل: "خو بیا هم زۀ تاسو ته رښتیا وایم چې دا ستاسو د بهتری د پاره ده چې زۀ ستاسو نه جدا کیږم. که

چیرې زه ستاسو نه لاړ نه شم نو مدد ګار به رانهٔ شي اړ که چیرې زهٔ لاړ شم نو هغه به زهٔ تاسو ته راواستوم" (یوحنا ۱۶: ۷). مدد ګار یو بل نوم چې مقدس کتاب روح القدس ته ورکړی دی.

هر کله چې د روح القدس کار وپیژنو نو بیا ډیر په هغه باندې باور کولی شو د مثال په توګه که چیرې تاسو دوه کسان چې د مختلفو هیوادونو څخه دي په یو کوټه کې کښینوي، هغوي به هیڅکله ونشی کولی چې یو بل وپیژني مګر کله چې هغوی د یو بل سره خبری وکړی او ارتباط ولري. خو که د دواړو ژبه یوه وه کولی شو چې د یو بل سره خبري وکړي او یو بل وپیژني.

نو په دې وخت کې ویلی شو چې خبرې کول دوه نا آشنا کسانو سره مرسته کوي تر څو یو بل وپیژني. پیژندل د اطمینان سبب کیږی. د روح القدس په هکله هم دا رنګ ده. هر کله چې تاسو روح القدس او د هغه کار وپیژنی، نو په هغه به باور کوی.

یو د روح القدس د کارونو څخه مونږ ته د مسیح ښکاره کولو څخه عبارت دی. کله چې مسیح وپیژنو، نو هغه زمونږ په ضرورتونو باندې پوهیږی.

"خو چې مدد ګار راشی کوم چې به زه تاسو د پلار نه راستوم، یعنی د حقیقت روح چې د پلار نه راوزی، هغه به زما په باب کې ګواهی ورکوی" (یوحنا ۱۵: ۲۶).

د روح القدس د رالیږلو څخه یو مقصد دا وو چې هغه ګناه محکومه کړي او انسان د خدای طرف ته هدایت کړي. مسیح وویل چې روح القدس به زما د بیا راتلو او توبې په هکله تاسو سره خبرې وکړي. او همدارنګه یې وویل: "کله چې هغه راشی نو هغه به دنیا د ګناه او د صداقت او انصاف په باب کې ملامته کړی" (یوحنا ۱۲ : ۸).

جو سمیت خپل زړه خدای ته ور کړي نه وو. یوه ورځ یې د مسیح د هغه محبت په هکله چې د ښځو او نرو د پاره یې لري واوریده. یوه هفته تیره شوه خو جو نشو کولی چې دا قیصه د خپل ذهن څخه لرې کړي دا ولې؟ د دې د پاره چې روح القدس مسیح هغه ته څرګند کړي وو. او هم دا چې هغه د خپلو ګناهونو په هکله د نا آرامې او غم احساس کاوه. جو، د دې خبرې احساس وکړو چې باید یو کار سر ته ورسوي. ډیر وخت نه وو تیر شوی چې خپل زړۀ یې مسیح ته ورکړو او مسیحي شو. د روح القدس یو دا کار دی چې خلک د مسیح طرف ته راولي. آیا خوشاله نه یې چې روح القدس ستاسو په زړونو کې الزام راوستو او مسیح یې تاسو ته ښکاره کړو. هر کله چې نورو ته د مسیح په باره کې شهادت ورکوو، نو کولی شو چې په روح القدس باندې باور وکړو کوم کار یې چې زمونږ په زړونو کې سر ته ورساوه، د نورو په زړونو کې به یې هم سر ته ورسوي.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۶- توبه، نتیجه:

الف) پیژندل وي.

ب) د ګناه په وجه د غم او نا آرامی احساس او خدای ته د هغوی اعتراف کول.

ج) د خدای لور ته د روح القدس په وسیله د خلکو جذبول.

۷- هر کله چې مونږ په روح القدس باور کول زده کوو نه په هغه وخت کې کولی شو:

الف) باید په هغه باندې متکي اوسو.

ب) د خپل ځان د قربانولو د پاره د مسیح نه لاس واخلو.

۸- درې دلیلونه بیان کړئ چې ولې مسیح روح القدس مونږ ته راولیږلو.

هغه ښوونکی او په یاد راوړونکی دی

مسیح وفرمایل: "خو مدد ګار یعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څۀ ښائی او بیا به درته هغه څه رایادوی، کوم چې ما تاسو ته وئیلی دی" (یوحنا ۱۴: ۲۶). په دې آیات کې دوه کارونه او د روح القدس خدمت بیان شوي دی. روح القدس به د خدای نو او د هغه کار زمونږ په ژوند کې مونږ ته درس راکړي. او هغه به مونږ ته حکمت او عقل راکړي.

تام ګرین تحصیلات نه درلود خو ولې تعلیم زده کوونکی سړی وو. هره ورځ د خپلو کارونو څخه وروسته به ئې د خدای کلام زده کاوه او ډیر مطلبونه به ئې ور نه زده کول. تام او بتی ګرین دوه زامن درلول. د مقدس کتاب رهنمائی ګانو د هغوی سره مرسته وکړه چې خپل زامن داسې لوئې کړي چې هغوی د خدای سره مینه ولری او د هغه نه اطاعت وکړي. د هغوی دواړو بچو واده کړیدی او د بچو خاوندان شویدی. هغوی خپل بچي په همدې شکل لویوي. تام او بتی ګرین به د خدای کلام مطالعه کولو هغوی به روح القدس ته اجازه ورکوله چې هغوي ته تعلیم ورکړي. پس د هغوی کورنیو برکت حاصل کړو.

مقدس کتاب مونږ ته مختلفی طریقې چې د هغوي په وسیله تعلیم راکوي بیانوی. لاندې آیاتونه د مقدس کتاب ځنی ولولۍ او حفظ ئې کړۍ.

۱- افسیان ۱: ۱۷ هغه مونږ ته حکمت راکوي او خدای مونږ ته څرګندوي.

۲- افسیان ۲: ۱۸ هغه مونږ ته تعلیم راکوي چې د هغه د هدایت په مطابق دعا وکړو.

۳- اول کورنتیان ۲: ۱-۱۲ هغه مونږ ته د خدای د ارادي په باره کې تعلیم راکوي.

۴- ګلتیان ۵: ۱۲، ۲۲- ۲۳، ۲۵ زمونږ ژوندون هدایت کوی او په مونږ کې محبت، خوشالي، سلامتی، زغم، مهرباني، نیکي، ایمانداری، عاجزی او پرهیز ګاري پیدا کوي.

یوحنا ۱۴: ۲۲ بیا ولولی. دا آیات مونږ ته وایی چې هر څه چې روح القدس، او ټول هغه شیان چې مسیح مونږ ته ویلي دي زمونږ په یادوي. په بل عبارت کله چې د خدای کلام مطالعه کوو نو روح القدس، کله چې مونږ د خدای کلام ته ضرورت لرو زمونږ په یادوي یی.

مونږ نشو کولی چې هغه ټول شیان چې په مقدس کتاب کې مو لوستلي دي په یاد کړو. ولې هر کله چې په داسې حالت کې اوسو چې مرستي ته اړتیا لرو، نو روح القدس د مقدس کتاب نه په هم هغه وخت کې تعلیم زمونږ ذهن ته راولي او په خاص لحظو کې زمونږ سره مرسته کوي.

آیا تر اوسه پورې داسې وخت راغلي دی چې د مسیح په هکله د چاسره خبرې وکړي او ټولو سوالونو ته په صحیح جواب پوه شۍ؟ او یا دا چې روح القدس هغه آیات ستاسو ذهن ته راولي چې هغه موضوع د پاره مناسب اوسي. دا کار د انسان د ډیر زیات ډاډ سبب کیږی چې په داسې حالت کې خدای انسان سره مرسته کوي. بې له روح القدس د مرستي نه په داسې ډیر وختونو کې سره د دې چې کوشش کوو چې یو کس د مسیح طرف ته هدایت کړو خو د دې خبرې احساس کوو چې مونږ ونشو کولی چې دا کار په ښه طریقه سره وکړو.

کله چې مونږ وسوسه کیږو چې یو غلط کار سر ته ورسوو، نو روح القدس مونږ ته دا رایادوی چې د خدای نه اطاعت وکړو. هغه مونږ ته وایی چې د نورو سره باید ښې اړیکې ولرو. کله کله مونږ دا خبره هیروو چې هغه روح کوم چې باید په ټولنه باندې حاکم اوسي د خپل ځان نه څرګند کړو، خو روح القدس دا موضوع مونږ ته رایادوي.

## ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سره ته ورسوئ**

**۹- دا خبره بیان کړئ چې په کوم دلیل تاسو په روح القدس د معلم او په یاد راوړنکي په صفت باور وکړئ.**

۱۰- دا لوست تکرار کړئ او په خپله کتابچه کې هغه طریقې ولیکئ د کومو په وسیله چې روح القدس مونږ سره مرسته کوي. او بیا وښایې چې د دې طریقو څخه د کومو په وسیله تر اوسه روح القدس تاسو هدایت کړي یئ.

نو اوس د دې لوست پای ته رارسیدلي یو. امید لرم چې د دې درسونو به تاسو سره په مسیحي ژوند کې ډیره مرسته کړي وي. او د خپلې ټولنې د پاره به مو نوې مطلبونه زده کړیوي. تاسو کولی شئ هغه ټول اصول کوم چې په دې کتاب کې بیان شوي دي په کار واچوئ او روح القدس ته اجازه ورکړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي. یوازې د روح القدس په قدرت سره مونږ به وکولی شو چې کوم کارونه باید سر ته ورسوو هغه به سر ته ورسوو. په هغه باور وکړئ هغه له تاسو سره مرسته کوي تر څو د دې اصولو نه په خپل ژوند او خدمت کې کار واخلئ.

"خو تهٔ په هغه خبرو چې تا زده کړی دي او د کومو چې تا ته يقين درکړای شوي وو، په دې نيت قائم اوسه چې تا هغه د کومو خلکو نه زده کړي وې" (دويم تيموتيوس ۳: ۱۴).

## خپل جوابونه مقايسه کړه

۶- ب)

۱- هغه کولی شي چې د روح القدس نه وغواړي چې د هغه شخصيت تبديل کړي او بيا کولی شي چې کوشش وکړي چې هغه شخص شي چې دوست لرونکي اوسي.

۷- الف)

۲- که چيرې زمونږ رفتار او سلوک د خلکو د قبلولو وړ نه وي، نو هغوی به په هغه وخت کې زمونږ څخه پيروی ونه کړي او مسيح به قبول کړي.

۸- دا ټول شيان: د خدای طرف ته شخصی هدايت، د ګناه محکمول، د مسيح ښکاره کول، د خدای د قضاوت په هکله خبر ورکول، زمونږ سره مرسته کول تر څو نور خلک د مسيح په لور هدايت کړو.

۳- ج)

۹- ستاسو انتخابي جواب: مونږ د مسيح طرف ته د يو شخص د هدايت کولو، او يا د خپلې ټولنې د خدمت

کولو، او یا د صحیح تصمیم نیولو په وخت کې روح القدس ته اړه لرو تر څو زمونږ ژوند د خدای د جلال سبب شي.

**۴- الف) غلط**

**ب) صحیح**

**ج) غلط**

**د) صحیح**

**ذ) صحیح**

۱۰- ستاسو انتخابي جواب.

**۵- ب)**